
۱۴۰۲۵
کال تر تولو دیر
پلورل شوی
کتاب
MKhalidtakal
افغان کتابتون
Ketabton.com
توره ارواپوهنه
له عاطفي/ احساساتو ناوړي ګټې اخیستنې
تخنیکونه څنګه وپېژنو؟
مایکل پیس
محمد نبي ستوري

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنورو ښکلو کتابونو لپاره زما
واتساف نمبر ته مسج وکړې

+93777111038

M Khalid Takal

هغه کتابونه چې مخکې
مو PDF کړی دی

1: ایکیګاي 10:داروپا عروج
2: هغه راهب چې خپل...
3: دعراقي سپی خاطري
4: له ناکامی یی زده کړه
5: دمطالعې اغېز
6: کرکټ دفکر لوبه
7:یتیمه ناول
8:دصوفي نړي
9:یو څو لپی فکرونه

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توره ارواپوهنه

په اغلب گمان موږ او تاسي ټول تر ډېره دي ته لېواله يوو، چې يوه شمېر لوی جابران، قاتلان، غله، ظالمان، مجرمان يا په ټوله کې په غير اخلاقي، تورو او ککړو کړنو د اخته کسان کوم، چې په وړه او لويه کچه په يادو کړنو لاس پورې کوي، څنګه انسانان دي؟ ولې داسې کوي؟ لامل يې څه دی؟ موږ څنګه له يادو کسانو څخه خان وژغورو؟ دا او دې ته ورته پوښتنې تر ډېره په ارواپوهنه پورې اړه لري او د ارواپوهنې په علم کې هم د کلينيکي، ټولنيزې، سياسي او جنايي ارواپوهنو په چوکاټ کې را نغښتې. خو يوه خبره، چې نن سبا خورا ډېره مشهوره او عامه شوې هغه توره ارواپوهنه ده، دا ارواپوهنه د ارواپوهنې هغې برخې ته اشاره کوي، کومه چې د انسان منفي، ويجاړونکې او کله نا کله شومې چارې شاربي. په دې برخه يا څانګه کې د ځانګړتياوو، لېوالتياوو او کړنو ارزونه او شننه شاملېږي، چې په ټوله کې نورو وګړو ته دوکه، زيان او شخصي موخو ته رسېدل يې موخه وي. کېدای شي تاسي د دغه کتاب په لوستلو له ګڼو اصطلاحاتو سره مخ شئ، د بېلګې په ډول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



منيپوليشن (لاسوهنه)، دوکه، غبن، چل، ځانځاني، نارسېزم، مکياويلېزم او سادېزم. دا موارد ټول د توري اروايپوهنې ادبيات دي، چې په ټوله کې به يې کتاب کې ولولئ څکه، چې مفصل بحثونه پرې شوي.

د اروايپوهنې دا څانگه ياني توره اروايپوهنه د هغو وگړو اروايي حالتونه څېړي، چې د نورو د کنټرول، په نورو د واک، ظلم او نورو ته د زيان رسولو ذهني لېوالتيا لري او په دې برخه کې يې بېلابېل چلونه زده او د خپلو موخو لپاره يې وخت ناوخت کاروي. توره اروايپوهنه موږ ته دا را زده کوي، چې ځينې خلک کولای شي، چې په ډېر شعوري ډول له ځينو اروايي کړنلارو څخه کار واخلي او له موږ څخه ډول ډول ناسمې گټې پورته کړي په خوا کې توره اروايپوهنه دا هم څېړي، چې دا چارې او تگلارې، چې ځينې چالاکه خلک يې کاروي په خلکو، اړيکو او ټوله کې ټولنه څه بدې اغېزې شيندي.

دا چې د توري اروايپوهنې محاوره يي اصطلاح څه ډول دود شوه خاص او څرگند علمي څه نشته؛ خو له تاريخي اړخه يې له ځينو پېښو سره نښلولای شو. د بېلگې په ډول: په تاريخ کې وخت ناوخت د خلکو له احساساتو ناوړه گټنه، د اروايي گډوډيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژندنه لکه سایکوپډ، ځان خوښي او د ټولنې ضد شخصیتونه، د میکیاولیزم مکتب رامنځ ته کېدل، د اروايي ګډوډیو په اړوند په نړۍ کې خورې خبرنې او داسې نورې پېښې تورې اروا‌پوهنې ته د مخینې په توګه کارولای شو.

که څه هم داسې فکر کېږي، چې توره اروا‌پوهنه کې شته محتوا به د عامې اروا‌پوهنې موضوع وي؛ خو توره اروا‌پوهنه هم سم لکه د زیږې اروا‌پوهنې په څېر له معتبره علمي سرچینو څخه نه ده راوتلې او نشو کولای، چې د یادې اروا‌پوهنې په اړوند داسې علمي مقالې او څېړنې پیدا کړو چې یاده اروا‌پوهنه تاید کړي. که یې په لیکوالانو پسې هم چې او غلبیل راواخلو نو ژر به په دې پوه شو، چې یاد کسان ځانګړې علمي او معتبرې څېړې او ریزومې نه لري. یا په بله مانا یاده اصطلاح په اروا‌پوهنه کې کومه خاصه او رسمي، ځانګه او برخه نه ده پېژندل شوې او په محاوره یې شکل د اروا‌پوهنې لهٔ زاويې نه د وګړو غیر اخلاقي، لوبوونکې او ناسمې کړنې بیانوي.

یو مورد، چې باید احتیاط ورسره وکړو هغه دا ده، چې په توره اروا‌پوهنه کې داسې یو ذهنیت په نامستقیم ډول القا کېږي، چې نفوذ، کنترول، دوکې، لوبې او ناوړه استفاده د اروا‌پوهنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه چاره ده حال دا چې په علمي، بنسټیزو او رېښتینو بحثونو او ارواپوهنه کې دا قضاوت پوره ناسم دی. ارواپوهنې ټول عمر هڅه کړې، چې په خپله ټوله اخلاقي او تاریخي ژمنتیا دا مسایل دود نه کړي، تل یې د منبتو او روغو جوړجاړیو په علمي خبرنه کې هڅې کړې او همدا یې اصلي دنده جوړېږي. خو دا هر څهٔ، دا مانا هم نه ورکوي، چې په دې اړوند دې کتابونه نه لیکل کېږي او ژباړې دې نه کېږي. موږ په دې اړوند په پښتو ژبه خورا کار ته اړتیا لرو. زه او د کتاب ژباړن په یاد کتاب کې په ګڼو موادو او اصطلاحاتو کې له ګڼو ستونزو سره مخ وو او دا بحثي ثابته ده، چې پښتو په یاد ډګر کې ډېرو داسې اثارو ته اړتیا لري، چې زه همدلته غوارم له ژباړن نه یوه ځانګړې مننه وکړم، چې د ده ژباړه د دې لامل شوه، چې موږ دومره خبرې سره شریکې، پیدا کړو او ستاسو حضور ته یې وړاندې کړو علمي تاریخ له ډېرو داسې ننګونو ډک دی.

په ښوره ارواپوهنه کې ګڼې لیکنې او کتابونه لیکل شوي، چې مطرح او مشهور هغه یې د ویلیم کوپر د ښورې ارواپوهنې رازونه کتاب، د ژاک آدامز د ښورې ارواپوهنې کتاب، د دنیل جیمز د ښورې ارواپوهنې کتاب او همدا د مایکل پیس ښوره ارواپوهنه کتاب چې تاسو یې لولئ دي. که څه هم د څواک ۴۸ قانونه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریـا لپـاره ۴۴ چتـل چلونـه هـم د تـورې ارواپـوهنې اړونـد کتابونـه دي او د تـورې ارواپـوهنې محتـوا وړانـدې کـوي؛ خـو بیـا یـې هـم نومونه توره ارواپوهنه نه دي.

تـوره ارواپوهنـه ډېـره پـه تـولنیزو او مینـه نـاکو اړیکـو، سـوداګرۍ، مارکیټینـګ، سیاسـت او جنـګ کـې کـارول کېـږي. زه فکـر کـوم، چې د یـادو تولـو دې تـه ورتـه لیکنـو ژبـاړلو تـه ډېـره اړتیـا ده او بایـد دا هڅـه سـتورۍ صـاحب او نـور پښـتانه ژبـاړونکي پـه راتلـونکې کـې پـه پام کـې ونیسـي. دلیـل یـې دا دی، چې زمـوږ پـه ټولنـه کـې تـر بلـې هـرې تـولنې ډېـرې داسـې ظالمانـه هڅـې شـوې او زمـوږ لـه معصـومو او بېوزلـو ولسـونو یـې پـه بیـا بیـا خلـې قربـانۍ اخیسـتې او لا یې اخلي.

دا وو د تـورې اروا‌پـوهنې پـه اړونـد عمـومي بحـث، چـې مـا فکـر کـاوۀ اړیـن دی. اوس بـه راشـو هغـې تـورې اروا‌پـوهنې تـه چـې ستاسـو پـه لاس کـې ده او تاسـې یـې د لوسـتلو پرېکـړه کـړې. دا کتـاب د امریکـایي لیکـوال Michael Pace اثـر دی. د مایکـل پـیس د تـورې اروا‌پـوهنې کتـاب، د تـورې اروا‌پـوهنې پـر ېېچلـې نـړۍ یـوه ژوره هڅـه ده. پـه دې کتـاب کـې، مایکـل پـیس د تـورې اروا‌پـوهنې بېلابېـل اړخونـه بیـانوي. هـر څېرکـی د تـورې اروا‌پـوهنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو اړخ بیانوي او په داسې یوه تګلاره یې بیانوي، چې د عامو خلکو لپاره د پوهېدو وړ شي. پیس خپل اندونه د روښانه او ژوندیو مثالونو او مطالعو په کارولو سره وړاندې کوي، تر څو د تورې ارواپوهنې محتوا د عامو وګړو د پوهېدو لپاره آسانه کړي. په کتاب کې د تورې اروپوهنې چارې او کارونکي رامخته کوي او هغو اصولو، تګلارو، مکرونو، تګیو او دوکو څخه پرده پورته کوي چې یاد وګړي یې کاروي، تر څو موږ ترې خبر کړي او د یادو تورو خلکو له تورو کارونو نه په امن شو. دا څرګنده ده، چې موخه یې د وګړو ژغورل دي.

مایکل پیس په کتاب کې په ټولو هغه تخنیکونو خبرې کوي، کوم چې دی یې ادعا کوي، چې توره اروپوهنه ده. پیس کتاب په یوه ډېره جذابه سریزه پیلوي او بیا پوښتنه کوي، چې یو فوق العاده خواک شته بیا وایي پوهېږئ هغه خواک چېرته دی؟ بیا وایي دا خواک هغو کسانو سره دی، چې په اروپوهنه پوهېږي او د خلکو زړونو ته د لارې چل یې زده دی او دا خبره د اصلي اروپوهنې ماهیت تحریفوي، ځکه د اروپوهنې اصلي موخه او مقصد د کړنو څېړل، مرسته، درملنه، اعتماد، وده، مثبت بدلون چې هغه هم له ټولو اخلاقي اصولو او مسلکي معیارونو سره په تعامل کې ترسره کوي. پیس د یاد کتاب په اتم څپرکي کې یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهم علمي مبحث ته، چې هماغه درې اړخیز مثلث دی اشاره کوي، چې کاملا علمي او اکاډمیک بحث دی دا درې گوني مثلث د درېیو شخصیتو کړنو ته اشاره ده چې لومړی نارسیست، دویم میکیاویست او درېیم د تولنې ضد شخصیتونو دي، چې پیس په تولنه ایمانداري را اخیستي او مفصل یې څېړلي. په کتاب کې د ځینو اشخاصو رینښتینې بېلگې هم وړاندې کوي. کتاب به یو څه ستاسو قضاوت ته هم پرېږدو او هیله کوم، چې مکمل یې ولولئ او په ورځني ژوند کې مرسته درسره وکړي.

یوه خبره، چې په سر کې مو باید سپینه کړې وای: خو اوس یې یادونه غواړم هغه د تورې اروایوهنې د عنوان ژباړه ده، کتاب په انگلیسي- ژبه په ډرک یا تیاره نوم یادېږي، په دري هم تاریک، په عربي هم الظلامي او په اردو هم ورته څه ژباړل شوی؛ خو هغه څه، چې زموږ په تولنه کې یې موږ پېژنو د تور، تورن، تورمخ، تورمخی، تور کارونه، توره ورځ، توره تیاره مفهومونه دي، چې موږ ډېر ورسره بلد او اشنا یوو، تر ډېره د تورې اروایوهنې پورتنی محتوا هم لېږدوي؛ نو له ژباړونکي سره په خوښه مو دا تیاره اروابوهنه نه توره اروابوهنه ورته غوره وباله او که تیاره اروابوهنه یې هم وبلو کومه ستونزه نه لري، هر څوک کولای شي شخصي- مفهوم ترې واخلي او خاصه ستونزه هم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. ارواپوهنه همدا وايي، چې يو نوم او معنا بايد د ټولني کلتور ته په کتو وټاکل شي نو مور همدا مناسبه وبلله، چې تور ه ارواپوهنه تور ه ارواپوهنه کړو.

وروستۍ خبره، چې غواړم وې کړم هغه دا ده، چې د دې کتاب لوستل ټولو هغو کسانو ته وړانديزوم، چې د ارواپوهنې له علم سره لېوالتيا لري او غواړي د انساني اړيکو سمې لارې زده کړي.

درنښت

پوهنمل شرف الدين عظيمي

د ننګرهار پوهنتون د ارواپوهنې څانګې استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په توري اروا پوهنې څو خبرې

تـوره اروا‌پوهنـه د اروا‌پـوهنې هغـه اړخ دی چـې د انسـان پـر ذهـن، چلنـد او کړنـو منفـي اغېـز غورځـولای شي، داسـې چـې کـولای شي انسـانان د يـو بـل لـهٔ عـاطفې، مينـې او محبـت څخـه ناسـمه ګټـه پورتـه کـړي او همـدا احساسـات پـهٔ پټـه د هغـوی پـر ضـد وکـاروي. تـوره اروا‌پوهنـه ډېرځلـه پـهٔ لاشـعوري توګـه د خلکـو لـهٔ لـوري کـارول کېـږي او دا چـې نجـونې او ښـځې عـاطفي انسـانان دي نـو د تـورې اروا‌پـوهنې تـر ټولـو لـوی قربانيـان همـدوی دي. پـهٔ دې اړه بـه د يـوهٔ مراجـع کيسـه درتـه بيـان کـړم، شـاوخوا ۱۸ کلنـه انجلـۍ د همداسـې يـوې کيسـې قربـاني شـوې وه هغـې بانـدې يـو هلـک مېين و؛ نـو هـر وخـت بـه يـې بېلابېلـې عـاطفي کليمـې ورتـه کـارولې ويـل بـه يـې پرتـه لـهٔ تانـه زهٔ هېڅـوک نلـرم، تـهٔ مـې يـوازينۍ هيلـه يـې، تـهٔ مـې هـر څـهٔ يـې، انجلـۍ بـه چـې دا خـبرې واورېـدې احساساتي بـه شـوه او نـور بـه يـې خپـل هـر څـهٔ د هغـهٔ پـهٔ واک کـې ورکـړل خـو د هلـک دا خـبرې تـر جنسـي- غريـزې پـورې محـدودې وې کلـه چـې يـې خواهش پوره شـو بيـا نـهٔ هغـه مينـه وه او نـهٔ هغـه شـور. بـس انجلـۍ يـې پـهٔ ډول ډول منفـي فکرونـو اختـه کـړه او آن چـې دا فکرونـه پـر شـديد ژورخپګـان واوښـتل او تـر مـا يـې راورسـوله؛ نـو عمومـا تـوره اروا‌پوهنـه همداسـې عمـل کـوي چـې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو لۀ عاطفي نه پۀ ناسمي ګټنې سره هم د هغوی عزت اخلي او هم يې پۀ اروايي ګډوديو اخته کوي. تورە اروايوهنه بل ډول هم کارول کېږي چې يو څوک پۀ عاطفه او مينه روږدی کړي او بيا يې پۀ يو خل پرېږدي وروسته کس حتما پۀ اروايي ګډوديو اخته کېدای شي.

تورە اروايوهنه نۀ يوازې دې برخه بلکې پۀ اقتصاد تجارت سياست او مذهب کې پۀ پراخه توګه کارول کېږي. زموږ هېواد کې مذهبي او سياسي رهبران خپل لارويان پۀ بېلابېلو نارسيستيکو خانګړنو او خبرو سره غولوي او چل ورسره کوي، مظاهرو او جنګ ته يې اړباسي او ناوړين بړې راښخته کوي.

فرويډ چې کله پوه شو چې د دۀ پۀ لاس ليکل شوی د هيپنوټيزم کتاب پۀ تورە اروايوهنه اوړي: نو کتاب ته يې اور واچاوۀ هغه وېرېدۀ چې ګويا د دۀ کتاب به خلکو ته د ګټې پر ځای تاوان ورسوي او د انسان پۀ لاس به انسان دننه لېونی کوي او بيا به خپلو موخو ته ورې رسېږي.

د تورې اروايوهنې پۀ نوم د نړۍ پۀ کچه کومه ځانګړې علمي څانګه نشته خکه نشته چې اروايوهنه تل مثبت مسايل څېړي او تورە اروايوهنه پر منفي مسايلو راڅرخي اګر چې د مايکل پيس

(c) ketabton.com: The Digital Library



توره اروابوهنه به د خلکو د ژغورلو لپاره ليکل شوې وي؛ خو د دې اروابوهنې له تورو تګلارو څخه ناسمه ګټه هم اخيستل کېدای شي چې هيله ده لوستونکي يې يوازې د ځان خبرونې او ژغورنې په پار ولولي او تګلارې يې د عاطفي امنيت لپاره وکاروي.

د تورې اروابوهنې په نوم کتاب چې د ښاغلي نبي ستوري له لورې پښتو ته ژباړل شوی د پښتو اروابوهنې په تاريخ کې يو شهکار دی په دې سره به پښتانه انسانان د تورې اروابوهنې له ناوړه اغېزو څخه خبر شي او وبه کولای شي چې په شعوري او لاشعوري توګه په توره اروابوهنه کې کارېدونکو تګلارو مخنيوی وکړي او اغېزې يې له منځه يوسي.

درنښت

عبدالجليل امرخېل

اروابوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځينې خبرې

له ښاغلي استاد شرف الدين عظيمي سره مې د دغه کتاب په اړه خبرې کولې ورته ومې ويل استاد محترم کله چې ما دا کتاب ولوست داسې انګېرم چې زموږ د اوسنۍ ټولنې نوي سلنه خلک له دغو مسايلو سره مخ دي. استاد راغبرګه کړه، نوي سلنه نه، بلکې ۹۵سلنه خلک په ورځني ژوند کې له دغو مسايلو سره لاس و ګرېوان او کړېږي.

په پښتو کې د نورو په تول تللو خبرو ترڅنګ يوه دا ده چې «مه دومره خوږېږه، چې څوک دې ښوی تېر کړي او مه دومره ترېخېږه، چې څوک نفرت درنه وکړي يا دې لرې وغورځوي».

پورتنۍ خبرې بې څه نه دي دا ټول د پښتني ټولنې د ژوند تجربې او واقعيتونه دي، چې خلک په ورځني ژوند کې ورسره مخ شوي. خواره خلک د نورو د مغرضو احساساتو په ليدو څنګه خپل کنټرول له لاسه ورکوي؟ ايا په هر چا خوش‌باوري پکار ده؟ هر انسان نېک کېدای شي؟

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په توره ارواپوهنه کې تر ډېره هغه خلک ژر تارګيتېږي، چې خواږه وي، په هر چا ژر باور کوي، هر چاته د ښه او خواخوږي انسان په سترګه ګوري. اړينه نه ده، چې دومره دې خواږه يا ترخه شو، چې تعدل له منځه لاړ شي، کله چې په هر څه کې تعدل له منځه لاړ شي؛ نو هغه د بې نظمۍ او خرابۍ خواته روان وي.

که په چا پوه شو، چې زموږ له ښه چلند، احساساتو، خواخوږي او همدردۍ ناسمه او ناوړه ګټه اخلي؛ خو ناديده يې نيسو او د مخنيوي لپاره يې څه نه کوو؛ نو په دې وخت کې زموږ سالموالی تر پوښتنې لاندې راځي، پخپل لاس عاطفه او احساسات د تباهۍ کندې ته ټېل وهو او کنټرول يې د بل چا په لاس کې ورکوو. يو مشهور دام چې ډېرى وخت قرباني پکې نښلي دا دی، چې د ناوړه ګټه اخيستونکي په ظاهره احساساتو او چلند ژر باور کوي. فريب او د تورې ارواپوهنې ورته تخنيکونه هغه قوي څواک دی، چې پر قرباني د اغېزې يا کنټرول لپاره کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په توره اروا‌پوهنه کې د هغو تخنیکونو په اړه خبرې شوې، چې ناوړه ګټه اخیستونکي ورنه د نورو د عواطفو او احساساتو د کنټرول لپاره ورنه کار اخلي. په توره اروا‌پوهنه کې په دغو تخنیکونو او مېتودونو ځکه بحثونه شوي، چې خلک ناوړه ګټه اخیستونکي او د هغوی شومې موخې وپېژني، ځان ترې خبر کړي، تر څو د دغو ناوړه خلکو په لومه کې ګېر نه شي او ځان ترې وژغوري. همدا راز په کتاب کې د هرې موضوع د لانبه پوهاوي په پار په هر اړوند څپرکي کې ځینې تاریخي کیسې او بېلګې هم وړاندې شوې. په وروستي څپرکي کې په جلا ډول د هرې موضوع لپاره بیا ځینې تکراري بېلګې وړاندې شوې وې، چې د نه تکرار په پار اړتیا نه وه، چې بیا ځلي راوړل شي. د کتاب د ارزښت او ژباړې په برخه کې به دا ووایم، چې د نورو پرمختللو ژبو په پرتله په پښتو کې په علمي او تخصصي- برخه کې ډېر کمې احساسېږي، حتی ما او استاد عظیمي صاحب په دې ډېرې خبرې وکړې، چې دغه کتاب ته به کوم نوم وټاکو. توره اروا‌پوهنه ورته ووایو؟ تیاره اروا‌پوهنه؟ د اروا‌پوهنې تور اړخ؟ د اروا‌پوهنې منحرف اړخ او... ؟ ځکه دا کتاب اصلا (دارک سایکالوژي) ده. وروسته دې پایلې ته ورسېدلو چې د دې کتاب لپاره د تورې اروا‌پوهنې نوم مناسب دی.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـه دې معلـومېږي، چـې مـوږ د نويـو نومونـو او علمـي اصـطلاحاتو له تشې سره څومره مخ يوو.

د ژبـې د بـډاينې يـو غـوره لاره لـه نـورو ژبـو د ګټـورو مطـالبو او معلومـاتو ژبـاړه ده. زمـا پـه انـد غـوره بـه دا وي، چـې ژبـاړه، تحقيـق او يـا پـه هـره علمـي برخـه کـې کـار کـوو شـعوري، اغېزنـاک، باکيفيتـه او ګټـور کـار وکـړو، نـه داسـې چـې پـه راتلـونکې کـې پـه دېـر برخـه کې شـوي کـار تـه مـوږ او راتلـونکې نسـل يـوازې د وخـت د ضايع په سترګه ورته وګوري.

د يـادونې ده، چـې محـترم اسـتاد عظيمـي زمـا پـه دغـه ژبـاړه مفصلي او غـوره معلومـاتي خـبرې کـړې، چـې تاسـو تـه بـه د تـورې ارواپـوهنې لـه اصـلي خبـرې سره اشـنا کـړي همـدا راز لـه بنـاغلي استاد عظيمي څانګړې مننه کوم، چې تـل يـې زمـوږ پوښـتنو تـه پـه سړه سينه ځواب ويلی او زغملي يې يوو.

بلخـوا لـه ارواپـوه عبـدالجليل امرخيـل صـاحب څخـه مننـه، چـې د کتـاب د موضـوع پـه اړه يـې ګټـورې خـبرې او سريـزه ليکلـې. د دې ترڅنـګ لـه نظـري خپرنـدويې مننـه، چـې د داسـې ګټـورو کتـابونو چـاپ تـه اوږه ورکـوي او پـه علمـي برخـه کـې د ټـولنې د اذهانو بيدارۍ ته کار کوي؛ نور دا تاسو او دا کتاب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درنښت

محمدنبي ستوری

M Khalid Takal

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکلړ

سریزه ........ 24
توره ارواپوهنه څه ده؟ ........ 24
ولې باید په توره ارواپوهنه پوه شو؟ ........ 27
دهر خواک، دهر مسوولیت ........ 28
لومړی څپرکی ........ 29
په پټه توګه له عاطفي ناوړه ګټه ........ 29
له عاطفي د ناوړه ګټې اخیستنې تخنیکونه ........ 35
عاطفي بم اورونه/ بمباري ........ 35
د پیاوړي کولو/ پیاوړتیا تخنیک ........ 38
له واقعیته انکار ........ 41
دویم څپرکی ........ 43
د هڅونې تور اړخ ........ 43
منفي هڅونه ........ 44
د منفي هڅونکو اصلي انګېزه څه ده؟ ........ 45
څوک د منفي هڅونې له تخنیکونو کار اخلي؟ ........ 47
د منفي هڅونې تخنیکونه ........ 48
د دام غوړولو چل (اوږد مهاله دوکه بازي) ........ 49
تدریجي پله ........ 51

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واقعي موخو پټول........ 53
سمتي پوښتنې........ 54
د رواني حالاتو د لېږد قانون........ 55
دریم څپرکی........ 58
نامحسوسه ذهني کنټرول........ 58
په نامحسوسه دول د ذهن کنټرولولو تخنیکونه........ 61
متزلزل کسان په دام کې ګیرول........ 61
د انتخابونو محدودول........ 63
رسنۍ او د ذهن د کنټرول برخه کې اوربدل........ 66
څلورم څپرکی........ 70
رواني لوبې یا چلونه........ 70
په رواني لوبو کې پټه هڅونه........ 72
د رواني لوبو لیست........ 75
د ګواښ لوبه........ 75
ناوړه کټه اخیستونکي څه دول ګواښونه کوي؟........ 79
د پهلوالي ګواښ........ 80
نه ګټونکې لوبه........ 84
پنځم څپرکی........ 87
فریب/ چل........ 87

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فریب مختلف اړخونه ........ 89
غولوونکي مباحث ........ 91
غولوونکي تخنیکونه ........ 96
شپږم څپرکی ........ 102
هیپنوتیزم ........ 102
د هیپنوتیزم تخنیکونه ........ 103
غیرکلامي وړاندیز ........ 104
ځېل شوي قربانیان ........ 109
د عصبي ژبپوهنې پروګرامونه(NLP) ........ 112
بیا پروګرام جوړونه (Reframing) ........ 113
راتلونکی سفر ........ 114
اووم څپرکی ........ 116
مغزمینځنه ........ 116
د مغز مینځلو ساحې ........ 118
د مغز مینځلو بهیر/ پروسه ........ 122
د مغزمینځنې اغېزې ........ 129
اتم څپرکی ........ 132
درې ګونې تیارې/ مثلث ........ 132
ماکیاولیزم ........ 133

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تولنې ضد شخص/ جامعه ستيز....................................135
نرگسيت/ پرخان ميينېدل....................................136
درې گونې تيارې چهرته رامنځته کېږي؟....................................137
ماکياولي کړنې....................................138
د تولنې ضد شخص/ جامعه ستيز اقدامات او کړنې....................................141
د نرگسيت/ پرخان ميينتيا پر بنسټ کړنې....................................145
مردم ازاري/ ساديزم....................................147
نهم څپرکی....................................148
په توره ارواپوهنه کې لالچ....................................148
په توره ارواپوهنه کې د لالچ کارول....................................151
د لالچ تخنيک کارول ناوړه کار دی؟....................................153
د لالچ د پيل تکي....................................156
د لالچ تخنيکونه....................................157

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

## توره ارواپوهنه څه ده؟

دېر خله مو اورېدلي، چې دانايي توانايي ده؛ نو كه پوهه وړتيا او توان وي له ارواپوهنې څخه پوهاوی يو زبردست او قوي

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـوان او ځـواک دی. ارواپوهنـه چـې د انسـان ذهنـي جوړښـت او رفتـار تـر مطـالعې لانـدې نیسيـ د انسـانانو د پېژنـدلو لپـاره یـوه مهمه موضوع ده.

ارواپوهنـه د هـر څـه زېربنـا او بنسـټ دی، لـه تبلیغـاتي مسـایلو نیـولې تـر مالي، لـه جرم و جنایت نیـولې تـر مـذهب، لـه مینـې تـر نفرته او... .

څـوک چـې د ارواپـوهنې پـه علـم پـوه شي هغـه پـر نـورو د نفـوذ او اغېـز اصـلي کـیلي او لاره پیـدا کـړه، داسـې کـیلي او لاره چـې هـر څوک ورته لاسرسی نه لري.

د ارواپـوهنې علـم زده کـول؛ د بشریـت د پېچلـو اسرارو او رازونـو تـه لاسرسـی پیـدا کـول اسـانه کـار نـه دی، د ارواپـوهنې علـم او پوهـه پـه زرګونـه کتـابونو او مجلـو کـې نغـاړل شـوي مسـایل دي. د دې ترڅنـګ بلـه مهمـه خـبره دا ده، چـې ځینـې یـې ګټـور او غیـر ګټور دي چې د دې بېلول هم مهم کار دی.

خـو ستاسـو لپـاره زېـری دا دی، چـې هغـه مهـم ټکـي او اصـول چـې د ارواپـوهنې پـه برخـه کـې ضرور دي اوس بـه یـې تاسـو پـه دغـه کتـاب کـې ولولئ. دا ارزښـتمن مسـایل کـه پـه ژونـد کـې پلي کـړئ ډېره ګټه به درته وکړي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه کتاب چې اوس ستاسو په لاس کې دی د پټې نړۍ په اړه به ډېر څه درته څرګند کړي. چې په دغه تړاو ډېر کم خلک پوهېږي.

په دغه کتاب کې چې کومې لارې چارې، تخنیکونه او مسایل په ګوته شوي په تاریخ کې د اغېزناکو خلکو دي.

تاسو اوس د انسانانو او د دوی سپړونکو په تاریخ کې د خورا پیچلي ذهنونو نړۍ ته د ننوتلو تکټ لرئ؛ هغه خلک چې په خپلو فکري نوښتونو سره لوی بدلونونه راوړي

دا کتاب یوازې تاسو ته د اروا پوهنې پټ او اسراري پوه نه درکوي، بلکې د هغوی د تشخیص، پېژندنې او تېښتې لپاره تخنیکونه درښیي.

په دغه کتاب کې د موضوعاتو په تړاو مثالونه هم وړاندې شوي، تر څو تاسو په اسانۍ سره پرې پوه شئ.

CS CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولې باید په توره ارواپوهنه پوه شو؟**

د تورې ارواپوهنې تخنیکونه اوسمهال په ټوله نړۍ کې استفاده کېږي، ښايي دا واقعیت تاسو ته د منلو نه وي، خو نه شو کولی چې دغه واقعیت ته تغیر ورکړو.

نو په همدې اساس یو انتخاب لرئ؛ یا د تورې ارواپوهنې زده کړه نادیده ونیسئ او پر ځان خطر ومنئ، تر څو عاطفي قرباني شئ یا د وضعیت یا شرایطو کنټرول په لاس کې واخلئ تر څو ستاسو او له خپلوانو مو د احساساتو په برخه کې سوءاستفاده ونه شي.

د تورې ارواپوهنې زده کړه یوازې دفاعي اقدام نه دی، بلکې داسې څه پکې شته، چې تاسو کولی شئ د هغو په مرسته د استفاده کوونکو په دام کې ونه نښلئ او په شخصي- ژوند او بوختیا کې زبردست پرمختګونه درپه برخه کړي. هیله ده چې زموږ هدف مو اخیستی وي. اړینه نه ده چې موږ دې د دغو تخنیکونو په زده کولو سره دې په ټولنې ضد شخص بدل شو، خو د دې په مرسته کولی شو چې هیلو او اهدافو ته د رسېدو په برخه کې خنډونه او ستونزې له منځه یوسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډېر خواک، ډېر مسوولیت

د دغـه کتـاب اسـتفاده کـول ستاسـو پـورې اړه لـري. د دغـو تخنیکونـو او هنرونـو پـه واسـطه کـولی شـئ، چـې څـه ډول لـه ستونزو سره مبـارزه وکـړئ او لـه بلـې خـوا هغـه مثالونـه او نظریـې چـې مـوږ راوړې مرسـته درسره کـوي تـر څـو د ځـان سـاتنې لپـاره ورته ښه او په اسانۍ ګټه واخلئ.

دغـه مسـايل ستاسـو د روح او روان د کمـزورې کولـو پـه پـار نـه دي لیکـل شـوي کلـه چـې لـه دغـه علمـه بـرخمن شـئ هېڅکلـه بـه بیـا تېر ته ونـه ګرځـئ، زه بیـا هـم یادونـه کـوم، چـې څـومره چـې ستاسـو د فهـم او پـوهې کچـه پـه دې برخـه کـې لـوړه شي همـدومره مـو مسوولیت هم لوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## په پټه توګه له عاطفي ناوړه ګټه

### ناوړه پټه عاطفي ګټه اخیستل څه دي؟

دا چې د دې کتاب لومړی فصل د «ناوړه پټه عاطفي ګټه اخیستل» یا CEM باندې پیل شوی دی، تصادفي خبره نه ده .

د توري اروا پوهنې په زیاترو تخنیکونو کې له دې چلونو څخه بېلابېلې ګټې اخیستل کېږي. د توري اروا پوهنې نوری د بېلابېلو شکلونو په اړه خبرتیا به تاسو ته ډېر ژر دا ورتیا درکړي

چې د CEM (covert emotional manipulation) یا پټه احساساتي لاسوهنې، له نښو سره له مخامخ کېدو سمدلاسه هغه تشخیص کړئ .

په حقیقت کې، د توري اروا پوهنې پېچلې نوری ته د ننوتو لومړنی اساسي ګام د CEM نښو باندې بشپړ تسلط ګڼل کېږي.

ناوړه پټه ګټه اخیستل، د نورو پر افکارو او نظریاتو باندې د بشپړ تسلط هڅه ده. دا چاره په داسې ظرافت او باریک بینی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره تـرسره کېـږي چـې د نظـروږ کـس لپـاره اصـلاً دا شـک او گمان نه پیدا کېږي چې له ده څخه ناوړه گټه اخیستل کېږي .

د دغـو تخنیکونـو د جوړونکیـو دریبـو کلیمـو برخـه برخـه خپـل او ارزول، د دغـو چلونـو د جوړښـت د لـومړنی مرحلـې پـه وړانـدې د مقابلې بنستیز اقدام دی.

پنهان کـاري یـا د یـو خـه پټـول هغـه مبتـود دی، چـې سوءاستفاده کـونکی یکـې خپـل اهـداف او د واقعـي اقـداماتو یـا کـارونو ماهیـت پټوي.

خـو تـولې عـاطفي تبرایسـتنې او د هغـوی منفـي تـاثیرات نـه شي کولی چې د دغه مبتود تر عنوان لانـدې راشي. مگـر بیـا هـم بایـد پنهان کـاري یـا پټوکړنـو تـه پـه کمـه ونـه گـورو، څکـه هغـه کسـان چـې د دوی لـه عـاطفي او احساسـاتو څخـه نـاوړه گټـه اخیسـتل کېږي یـا شـوې، دوی پـه دې موضـوع تـر ډېـره پـوه نـه دي حتـی نـه شي کولی چې د اصلي کس د انگېزې په اړه تصور وکړي.

پـه همـدې اسـاس پـه پټـه توگـه لـه عـاطفي نـاوړه گټـه اخیسـتنه (CEM) پـه تـوره اروابوهنـه کـې د مخفـي بـم پـه معنـا ده، چـې تـر پېښې مخکې یې پېژندنه او خنثی کول اسانه کار نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مختلفو حالاتو کې د خلکو چلند او د هر وګړي باور او د ارادې قدرت ښيني داسې ټکي دي چې د احساساتي غولوونکو له تېزبينو سترګو څخه پټ نه پاتې کېږي.

په اخر کې د معما وروستۍ ځېرنې ته ځو، يعنې د ناوړه ګټې اخيستنې مسلې ته.

اغېزمنتيا او ناوړه ګټه اخيستل دا دواړه جلا مسلې دي؛ خو ډېر کم کسان يې په باريکۍ پوهېږي.

دا دواړه پخپل منځ کې هېڅ ورته والی نه لري، ناوړه ګټه اخيستل پټ چل ول لري، چې په هغه کې مقابل لوری پر خان هېڅ خبر نه وي.

هغه کس چې د ناوړه ګټه اخيستنې چاره ترسره کوي او هغه کس چې تاسو هڅوي يا انګېزه درکوي دا دوه جلا فکتورونه دي او په لويه کې ستر توپير لري.

هغه کس چې تاسو ته د هڅولو لپاره راغلی له خان سره وايي «زه غواړم چې له تاسره مرسته وکړم، تر څو داسې تصميمونه ونيسې، چې زبردستې پايلې ولري».

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو نـاوړه ګټـه اخيسـتونکی بيـا لـه ځـان سره داسـې وايـي «زه غـواړم چې پـه غيرمسـتقيم ډول زمـا پـه لاس کـې ولـوبېږي، تـر څـو داسې کار وکړي چې زما په ګټه وي».

پـه همدې اساس پـه پټـه هڅونـه يـا انګېـزه پوهېـدل لـه تاسـو سره مرسـته کـوي، چـې ستاسـو لـه عـاطفي نـاوړه ګټـه اخيسـتونکی او اغېزناک کس وپېژنئ.

اوس پـه ټولـه کـې پـه پټـه لـه عـاطفي د نـاوړه ګټـه اخيسـتونکي تـر څنـګ پـر دې پـوه شـوئ، چـې د اغېزنـاکو او لـه عـاطفي د نـاوړه ګټـې اخيسـتونکو تـرمنځ تـوپير څـه دی او پـر دې بـه پـوه شـو چې لـه عـاطفي د نـاوړه ګټـې اخيسـتونکي ځانګړنې څـه دي او پـه کومـو ځايونو کې انسانان ډېر ورسره مخ کېږي.

لـه عواطفـو نـاوړه ګټـه اخيسـتل چېـرې رامنځتـه کېـږي او وده کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تولـه کـې لـه عـاطفې د نـاوړه ګټـې اخيسـتنې رامنځتـه کېـدو سـناريوګانې څلـور دي. يـا پـه بـل عبـارت پـه مسـلکي، شخصـي- عاطفي/ احساساتي او کورني ژوند کې رامنځته کېږي.

په دې کـې لـه احساسـاتو او عواطفـو د نـاوړه ګټـه اخيسـتلو سـناريو ډېـره عامـه او خطرناکـه ده. د يـادونې ده، چـې د دغـو سـناريو ترخنـګ کېـدای شي نـور ځايونـه هـم وي. خـو کـه چېرتـه انسـان پـه بنسـتيز او عمـلي ډول لـه دغـو تخنيکونـو او چلونـو سره بلـد شي بيـا هر ځای کولی شي چې له دغه زيان څخه ځان وساتي.

همـدا راز پـه (CEM) کـې داسـې تخنيکونـه او چلونـه نـور هـم شـته چـې ډېـر ګټـور دي. ځکـه هـر کـس پـه خپلـه طريقـه او لاره د نـورو احساساتو کې د لاسوهنې لپاره هغه طريقې کاروي.

دا چـې تاسـو وکـولی شـئ د CEM تيـوري پـه حقيقـي ډول پوهـه شئ او پخپل ژونـد کـې يـې وپېژنـدلی شـئ؛ نـو بايـد دغـه مفهـوم پـه سمه توګه درک او وپېژندل شي.

مـثلا پـه احسـاسي اړيکـه کـې؛ کـه پـه يـوه کنټرولـونکي/ خـارونکې مېرمن خپـل خاونـد پـوه شي، چـې مېـرمن يـې پـه ښـکاره ډول هڅـه کـوي هغـه کنټـرول کـړي، پـه تـدريجي ډول خاونـد د خپګـان حالـت تـه ځـي او هڅـه کـوي چـې لـه موجـوده شرايطـو راووځـي. نـو لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې کبله ډېرې ښځې خاروونکې مېرمنې هغه کوي دغه چاره په ډېره پټه او مخفي توګه ترسره کړي. په همدې ډول خاوند چې له خپلې مېرمنې سره عاطفي او احساسي اړیکه لري په ناخبرۍ د عاطفي ناوړه ګټې اخیستونکي قرباني کېږي. دا مسله کولی شي چې کنټرولونکی یا ناوړه ګټه اخیستونکی پر دې قادر کړي، چې د خپلې خبرې او واک چلولو لپاره پرته له دې وېرې چې د ژوند ملګری له لاسه ورکوي دوام ورکوي او دا چاره پراخوي.

هغه څوک چې موږ یې ملګري یادوو ښايي ځینې هدف ته د رسېدو لپاره له همدغې لارې (CEM) تخنیک او چل کار واخلي.

همدا شان له پټې عاطفي د ناوړه ګټې اخیستنې بل ځای کاري او کورنۍ چاپېریال دی. کولی شي چې په دغو دوو ځایونو کې هم په شدید ډول له پټې عاطفي ناوړه ګټه اخیستنه رامنځته شي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له عاطفي د ناوړه ګټې اخیستنې تخنیکونه**

تاسو اوس په دې په بنسټیز ډول پوه سواست، چې له عاطفي ناوړه ګټه اخیستنه څه ده او په کومو ځایونو کې ورسره مخ کېږئ. خو هغه تخنیکونه چې ناوړه ګټه اخیستونکي یې کاروي تر څو تاسو کنټرول کړي غواړو تاسو ته یې واضح کړو.

له عاطفي د ناوړه ګټه اخیستونکي اصلي هدف دا وي، چې دوی د پېژندنې وړ نه شي یعنې څوک پرې پوه نه شي چې دی ناوړه ګټه اخیستونکی دی. اوس راځو په همدې تخنیکونو تفصیلي خبرې کوو.

**عاطفي بم اورونه/ بمباري**

عاطفي بمباري هغه تخنیک دی چې ناوړه ګټه اخیستونکی له قرباني سره په لومړي ځل تعامل بشودلو کې کاروي. دا قرباني ته دا احساس ورکوي، چې له ده سره شدیده خواخوږي بنیي، دی فکر کوي چې که یې د زیان نیت درلودی او یا یې ناوړه ګټه اخیستی نو بیا یې ولې په لومړیو کې دومره مثبت تعامل او خواخوږي ښودله؟ د دې پوښتنې ځواب ډېر ساده دی، هغه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د خپلو اهدافو لپاره یې د احساساتو او خواخوږۍ څرګندولو اکټ کړی.

د عاطفي بمبارۍ تیوري داسې پرمخ وړله کېږي، چې ناوړه ګټه اخیستونکی د قرباني په وړاندې داسې احساسات څرګندوي چې د هغه زړه یې ومني، بالاخره قرباني د ناوړه ګټه اخیستونکي پر وړاندې عاطفي کېږي، هر څه ته یې د باور او سم کار په سترګه ګوري.

قرباني په داسې وضعیت کې قرار لري، چې د ناهیلۍ، پوازیتوب او نه مرستې پېتې ورپه غاړه وي، ناوړه ګټه اخیستونکی په همدې وخت کې له ده سره شدیده خواخوږي او مینه ښیي، هغه ته لاس ورکوي ځکه ناوړه ګټه اخیستونکی پوهېږي چې قرباني په اوس وخت کې د زیاتو احساساتو منلو ته تیار دی په همدې حال کې ناوړه ګټه اخیستونکی د قرباني اړتیاوو ته ګوري او د هغه مطابق مثبت احساسات ورته څرګندوي.

په دغه تخنیک کې د (CEM) په تړاو دوه مهمې خبرې زده کوو: لومړی دا چې په بشپړ ډول د (CEM) پټ ماهیت ښکاره کېږي، فکر وکړئ د اړیکو جوړولو په لومړیو کې که انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاطفي بمباری ته په منفي سترګه وګوري خو بېرته په عین حال کې له ځان سره وايي «اممم، دغه کس واقعا زما لپاره ښه و او د ښه احساس لامل مې شو». د وخت په تېرېدو د ده په اړه ټول منفي مسایل له پامه غورځوي او داسې نه انګېري چې ګواکې د ده له عواطفو او احساساتو دې ناوړه ګټه پورته کوي.

په دغه کتاب کې دا په ډاګه شوې، چې څنګه هغه عاطفي بمباران وپېژنو چې ځان يې د خواخوږی، مينې او مثبت اوسېدو په دورغجنه جامه کې نغښتی، تر څو زموږ پر عاطفې لاسبري او ناوړه ګټه ورنه واخلي.

دويمه مهمه خبره دا ده، چې د هر کس د (CEM) کچه يا درجه بندي د هغه کس پورې اړه لري. ناوړه ګټه اخيستونکي پخپل ژوند کې له بېلابېلو خلکو سره مخامخ شوي او په دې برخه کې خورا تجربه لري او له هرې ناوړه ګټې اخيستنې يې بلا تجربې ترلاسه کړې؛ نو دوی وخت او وضعيت ته په کتو له هماغه تخنيک ګټه اخلي چې د شخص پر وړاندې اغېزناک او مهم وي.

هر کس د خواخوږی د رفتار او چلند پر وړاندې متفاوت غبرګونونه ښيي. مثلا د ځينو کسانو پر وړاندې د هغه ستاينه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی کې دېر تغیرات راوستلی شي. که څوک د (CEM) په تخینکونو ځان سم پوه نه کړي او عاطفي بمباري تخنیک ته لاس واچوي تر دېره بښه نتیجه نه ورکوي ځکه دا مسله د قرباني پېژندلو په برخه کې خورا پوهاوي او ځیرکتیا ته اړتیا لري.

خو ځینې ناوړه ګټه اخیستونکي بیا خورا ماهر خلک دي لکه څنګه چې یو ډاکټر د ناروغ حالاتو او وضعیت ته په کتو د درملو انتخاب کوي همداسې ناوړه ګټه اخیستونکی هم د قرباني پر وړاندې په تخنیکونو کې غوره انتخاب کوي تر څو د ده تر کنټرول لاندې راشي.

## د پیاوړي کولو/ پیاوړتیا تخنیک

د مثبت غبرګون پیاوړتیا تخنیک تر دېره د عاطفي بمباری تخنیک تعقیبوي په دغه تخنیک کې قرباني پر ځان خبر نه وي خو له عاطفې یې ناوړه ګټه اخیستله کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه عـاطفي بمبـارۍ تخنیـک کـې د اړیکـو جوړولـو او تعامـل پـه لومړیـو ورځـو کـې شـدید احساسات، خواخوږي او بـې قید و شرطه د نـاوړه ګتـه اخیسـتونکي لخـوا قربـاني تـه څرګنـدېږي. لـه دغـه هـدف دا وي، چـې د راتلـونکي لپـاره د قربـاني دفـاعي حالـت لـه منځـه یـوسي، بـاور یـې لاس تـه راوړي، پراختیـا ورکـړي او داسـې یوه اړیکه جوړه کړي چې تعامل رامنځته کړي.

تـر دې پـړاو وروسـته د مثبـت غبرګـون پیاوړتیـا تخنیـک دی. دا د رفتــار او چلنــد تخنیــک دی پــه دې برخــه کــې نــاوړه ګتــه اخیســتونکی هــېڅ بــې قیـد و شرطـه کـار یـا عمـل د قربـاني پـر وړانـدې نـه تـرسره کـوي، بلکـې تـر څـو چـې قربـاني د ده د خوښـې کار ترسره نه کړي تر هغو دی هېڅ کار نه کوي.

تـر دې وروسـته د پـیش بینـي وړ مثبـت غبرګـون پیاوړتیـا سیسـتم پـر ځای د نامنظمه مثبت غبرګون پیاوړتیا رامینځته کېږي.

IPR (intermittent positive reinforcement) یـا پرلـه پسـې مثبت پیاوړتیا غبرګون هغه تخنیک ته ویـل کېږي چې ناوړه ګتـه اخیسـتونکی د مثبـت غبرګـون لـه وسـایلو حتـی د مطلـوب رفتـار لـه څرګندولو ډډه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثلا که ناوړه ګټه اخيستونکی وغواړي چې قرباني دې د يو څه اخيستلو وړانديز ورته وکړي او هغه دې ترسره هم کړي، ناوړه ګټه اخيستونکی ځيني وخت يوازې د يوه مثبت احساس په غبرګون سره د هغه بدله ور ادا کوي.

دغه د وړاندويني نه وړ کار د دې لامل کيږي، چې قرباني بيا ځلي د ناوړه ګټه اخيستونکي پر وړاندې توجه ډېروي او د هغه هر کار ته په سمه سترګه ګوري.

قرباني په دې وخت کې غواړي چې په هر ډول کيږي بايد د ناوړه ګټه اخيستونکي پر وړاندې مثبت غبرګون وښيي. په دې پړاو کې ناوړه استفاده کونکی د قرباني رفتار هغه لور ته تمايلوي چې دی يې لېوالتيا لري.

په ترتيب سره له دغو تخنيکونو کار اخيستل کيږي تر څو ناوړه ګټه اخيستونکی هغه څه ترلاسه کړي چې غواړي يې. تر دې وروسته د (CEM) په برخه کې يو بل تخنيک دی چې له واقعيته انکار په نامه دی په دغه تخنيک کې د قرباني د احساساتو پر ځای پر ذهن غلبه کيږي چې په وروستي پړاو کې د قرباني احساسات نابود او ورک کيږي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له واقعیته انکار

د رواني سلامتیا د احساس له لاسه ورکول یوه تر ټولو خطرناکو تجربو څخه ده چې انسان ښایي له هغې سره مخامخ شي. که چېرې دغه پېښه انسان ته د رواني ناروغۍ له کبله رامنځته شوې وي، که څه ورسره وشي څه ناڅه بېرته عادي حالت ته راګرځېدلی شي؛ خو په داسې ډول چې د ناوړه ګټه اخیستونکي لخوا هغه ته تلقین شوې وي، بیا دا ډېره بوږنوونکې ده، انسان نهایت ورسره ناراحته کېږي د دغه تخنیک اصلي کار دا وي، چې ناوړه ګټه اخیستونکی د انسان روان ته قوي تکان ورکړي. په دغه تخنیک کې بله مهمه مسله دا ده، چې په تدریجي ډول ناوړه ګټه اخیستونکی غواړي چې خپل هدف ته ورسېږي، ځکه په لومړي ځل نه شي کولی چې هغه تا د ځان تابع کړي. نو دی هڅه کوي چې په ورو او تدریجي ډول ښه پایله ترلاسه کړي.

دغه احساس څنګه له منځه ورل کېږي؟ اصلا دا په لومړیو کې په کوچنیو مسایلو کې ترسره کېږي. ناوړه ګټه اخیستونکی مختلف ځایونه او موقعیتونه رامنځته کوي چې په هغه کې د قرباني د حافظې یا یادولو څواک او قدرت تر پوښتنې لاندې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناوړه ګټه اخیستونکی تل دا ډاډ ترلاسه کوي څه چې د ده په ذهن کې دي هماغه اصلي تصویر دی. پر ځان د باور له منځه تللو په بهیر کې ناوړه ګټه اخیستونکی دوه هدفونه لري. لومړی قرباني ته ډېر په یاد نه ورځي چې ما پر ځان ډېر باور درلود یا مې قوي درک درلود او دویم هدف یې دا وي چې پر ناوړه ګټه اخیستونکي باور وکړي.دغه ټکي ته پاملرنه ډېره اړینه ده، ځکه په لومړیو کې موږ هېڅ په لویه سترګه نه ورته ګورو، د ناوړه ګټه اخیستونکي حافظه ورته غوره ښکاري او حتی قرباني منښه ورنه کوي، چې زه په ژوند کې داسې یو څوک لرم چې ماته مې خپل خاطرات او یادونه رایادوي.

د وخت په تېرېدو ناوړه ګټه اخیستونکی داسې مسایل رامنځته کوي چې قرباني سخت تر پوښتنې لاندې راولي. هغه لومړني وختونه چې تر نظر یې هېڅ نه ورتله همداسې جریان پیدا کوي تر څو بالاخره داسې مرحلې ته ورسېږي چې قرباني پر ځان د باور لرلو قدرت او ځواک بېخي له لاسه ورکوي. د دغه بهیر خطرناک عنصر- دا دی، چې قرباني خپل ذهن د ورتیا له لاسه ورکولو لپاره تورنوي. ناوړه ګټه اخیستونکي ماهرین هغه څوک دي چې په ډېرې ارامۍ سره اړیکې شلوي؛ خو هېڅ وخت دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته اجازه نه ورکوي چې يو دم قرباني په دې پوه شي چې څه کېدونکي دي.

# دويم څپرکی

## د هڅونې تور اړخ

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


## منفي هڅونه

د خلکو هڅونه هغه موضوع ده، چې په اروابوهنه کې پرې ډېرې خبرې او بحثونه شوي دي. په دې تړاو ډېرې ليکنې او کتابونه ليکل شوي. موږ کولی شو چې هر هڅونکي ته د ناوړه ګټه اخيستونکي په سترګه وګورو؟

د دې پوښتنې تر ځواب لومړی بايد دا واضحه کړو چې د هڅونې او منفي هڅونې ترمنځ توپير څه دی.

هر ډول هڅه چې پر نورو د اغېز لپاره ترسره کېږي هڅونه او تشويق ورته ويل کېږي. ډېری داسې هڅونې شته چې هېڅ منفي اړخ او جنبه نه لري يوازې او يوازې مثبته پايله لري. مثلا که يو کس له اختطافګر سره په اړيکه کې شو او خبرې يې ورسره وکړې، خبرو يې اغېز پرې وکړ او تر دې يې وهڅاوه چې کس خوشې کړي دا مثبته هڅونه ده.

اوس راځو دې ته چې منفي هڅونه څه ته ويل کېږي؟

د منفي او مثبتې هڅونې توپير په انګېزه کې پټ دی. مثبته هڅونه هغه وخت کې رامنځته کېږي، چې مقابل لوري ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ ډول زيان مسله نه وي، په مثبته هڅونه کې حتى هڅه کېږي، چې يو انسان وزغورې؛ خو منفي بيا له مثبتې هڅونې سره ډېر لوی توپير لري.

منفي هڅونه هېڅ ډول اخلاقي انگېزه نه لري. انگېزه پخپل ذات کې ځينې وخت اخلاقي او ځينې وخت غيراخلاقي وي. په مثبته هڅونه کې حتی کولی شو چې نور خلک دې ته تابع کړو چې زموږ سره مرسته وکړي خو د هغوی په زيان نه وي. په منفي هڅونه کې کار د هغه شخص لپاره مرسته وي؛ خو د نورو په زيان وي. ماهر ناوړه گټه اخيستونکي داسې کار کوي، چې قرباني دا وانگېري چې زبردست تصميم يې نيولی؛ خو برعکس بله مسله وي.

**د منفي هڅونکو اصلي انگېزه څه ده؟**

د دغه پوښتنې ځواب د هر کس د شخصيت د ډول پورې اړه لري ځينې هڅونکي د خپلو گټو په پار خلک هڅوي، ځينې يوازې د زيان لپاره خلک هڅوي، په داسې حال کې چې د ده لپاره هېڅ د گټې مسله نه شته، ځينې يوازې له دغه کاره خوند اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منفي او مثبتې هڅونې پايلې او لاسته راوړنې هم مختلفې دي. مثبته هڅونه معمولا درې مسايل لري: د مقابل لوري لپاره ګټه، له مقابل لوري سره غوره اړيکې او يو بل منل او يا د دواړو لپاره ګټه. حتی په ځينو حالاتو کې دريیم شخص ته هم ګټه رسېږي. نو په پايله کې ويلی شو چې د مثبتې هڅونې په برخه کې هېڅ داسې مسايل نه شته چې يوازې دې ګټه خپله هڅونکي ته ورسېږي.

په منفي هڅونه کې ګټه تل يوازې هڅونکی وړي، نه هڅول شوی. په ځينو حالاتو کې مستقيما ښايي ټوله ګټه هڅونکي ته ورسېږي او يا ځينې وخت کې له ګټې ورهاوخوا پر نورو د اغېز په پار ترسره کوي. خو هڅول شوی دا فکر کوي چې دا هڅونه زما په ګټه ده؛ خو اصل کې مسله سرچپه وي. نو ماهر منفي هڅونکي نه يوازې دا چې ګټه دې ځان ته ورسېږي او هڅول شوي ته دې زيان ورسېږي، بلکې دوی داسې کار کوي چې دريیم يا نورو اشخاصو ته هم پکې زيان ورسېږي. مثلا منفي هڅونکی غواړي چې د يو چا جايداد او شتمني په لاس راوړي، وژنې ته هڅوي چې له ژونده يې زړه ورتور او ځان ملګري يې ته اماده کړي، کس ځانوژنه کوي، خپل خپلوان او د تل لپاره خوربږي او ده ته جايداد او شتمني په

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاس ورځي. په دغه مسله کې دا منفي هځونکې ماهر دي، ځکه چې ځان ته يې گټه او د قرباني تر څنگ يې نورو اشخاصو ته هم زيان ورساوه.

## څوک د منفي هڅونې له تخنيکونو کار اخلي؟

د دې خلکو اصلي ځانگړنې دا وي، چې ناسيسزم خوی ولري يا خپلې اړتياوې تر نورو مهمې بولي(ميم زر ما، تول زما) او د نورو انسانانو د احساساتو پر مفهوم د پوهېدو ځواک نه لري.

په ځينو اړيکو کې په بدو حالاتو کې دواړه لوري هڅه کوي چې يو بل ته قناعت ورکړي، يعنې هر يو هڅه کوي چې خپلې غوښتنې پرې ومني. که دا مسله همداسې پسې وغځول شي د اروابوهنې له نظره ناوړه گټه اخيستنه رامنځته کېږي. مثلا خاوند غواړي چې يو بل ځای نوې دنده واخلي؛ خو که يې مېرمن پکې د ځان لپاره ستونزه ويني نو هڅه کوي چې قناعت ورکړي تر څو يې خاوند بله دنده وانه خلي او په همدې پاته شي، مېرمن په ظاهره کې دا ښيي چې دا کار د خپلمنځي اړيکو د ښې ساتنې لپاره کوي خو اصلا داسې نه وي. خاوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې په منلو سره قرباني کېږي او د وخت په تېرېدو د دوی دواړو ترمنځ په اړیکو کې ننګونې راولاړېږي، هر څومره چې منفي هڅونکی د قربانیانو د قانع کولو په وړتیا کې ډېر باوري وي، همدومره به یې اړیکې خرابېږي.

### د منفي هڅونې تخنیکونه

منفي هڅونکي له کومو لارو خپلو اهدافو ته رسېږي؟ ښایي ځینې فکر وکړي، چې مقابل لوري ته زیان رسولو مسله ده؛ خو اصلا داسې نه ده. دا کار دوی په دې خاطر کوي، چې د دوی د کړنو او کارونو ماهیت پټ کړي، هغوی په دې برخه کې ډېر مختصصین او تکړه دي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د دام غوړولو چل (اوږد مهاله دوکه بازي)**

دام غـوړول د منفـي هڅـونې يـو بـل تخنيـک دی چـې پـه ډېـره ارامـۍ او ځيرکانـه ډول کـارول کېـږي. يـو لـه هغـو دلايلـو چـې خلـک د نـورو د وسوسـو پـر وړانـدې مقاومـت کـوي دا ده چـې هڅـه کوي تـر څـو خپـل ځـان وهڅـوي او پـر وړانـدې يـې مقاومـت وکـړي يـا پـه بشـپړ ډول پـه هڅـونکي بـاور نـه لـري؛ خـو دغـه تخنيـک د دواړو ستونزو او خنډونو د لرې کولو توان لري.

پـه دغـه تخنيـک هڅـونکی ډېـر وخـت پـه دې تېـروي چـې قربـاني د ده بـاور ترلاسـه کـړي، هغـه لـه قربـاني سره د ملگرتيـا او دوسـتۍ تـار غځـوي او داسـې ښـيي چـې زمـا زړه درسره غـواړي چـې ملگرتيـا دې وکړم او پر يـو بـل بـاور وکـړو. د دغـو ټولـو منـل تـر ډېـرو هلوځلـو وروسته رامنځته کېږي او بالاخره د قرباني باور په لاس راوړي.

د ارواپـوهنې لـه نظـره پـه دې وخـت کـې نـور قربـاني بشـپړ امـاده شـو، هڅـونکی پخپـل تخنيـک لاس پـورې کـوي، هڅـه کـوي چـې مثبتـه هڅونـه ورکـړي خـو پـه صـادقانه ډول نـه وي، هڅـونکی قربـاني داسـې کـارونو تـه هڅـوي چـې د قربـاني پـه گټـه وي پـه دغـه کـار کـې دوه مـوخې نغښـتې وي لـومړی دا چـې د قربـاني ذهـن د هڅـونکي پـر وړانـدې تـه اماده کېږي چـې هڅـونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې پرې اغېز وکړي او دويم دا چې همهاله قرباني ته د راتلونکي وسوسې پيلېږي،خو فکر کوي چې پايله به يې مثبته وي ځکه دی مخکنۍ تجربه په ذهن کې لري، هغه تجربه چې هڅونکي نوموړی هغو کارونو ته هڅولی و چې د ده په گټه وو.

اوس په دې خبرې کوو چې قرباني په دغه لومه کې څنگه نښلي؟ د يوې هغې ښځې مثال راوړو، چې په وروستيو کې يې خاوند له لاسه ورکړی، سخت ذهني تکان يې خوړلی او اوس کونډه ده. دا کونډه له بل چا سره واده کوي، مقابل لوری چې پوهېږي د احساساتو له پلوه ځپل شوې له دې سره ډېره ښه رويه کوي، ځان صابر ورته ښيي او... . د وخت په تېرېدو له خاوند سره په مسايلو کې د کشمکش او دفاعي حالت پر ځای نرمي ښيي.

دا شخص په لومړيو کې ښځې ته مثبتې توصيې او خبرې کوي او دی هم خپله داسې کارونه کوي، چې د کور او مېرمنې لپاره گټور وي لکه د عايدو ډېرېدل، مياشتنۍ سپما او... . ښځه يې د دغو مسايلو په ليدو له خاوند نه مننه کوي او د هغه په خبرو او کارونو باور کوي. وروسته بيا هڅه کوي هغه پيسې او شتمني چې له ښځې سره دي او له هغه بل خاونده ورته پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي هغه ترلاسه کړي. ښځې ته ورانديز کوي چې پيسې ورکړي او دی پانګونه پرې وکړي، ښځه پر ده باور کوي او پيسې ورکوي، د ده چې هم خومره له وسه کېږي هماغه اندازه پيسې ورنه اخلي وروسته ورته وايي چې له بده مرغه ما په کاروبار کې تاوان وکړ او تا راکړې توله شتمني مې په اوبو لاهو شوه خو اصلا مسله داسې نه وي ښځه هم پرې باور کوي؛ نو دغې قضيې ته د منفي هڅونې تخنيک وايي.

## تدريجي بڼه

که چاته ووايې چې د منفي هڅونې په تخنيک باندې يو انسان ځانوژنې ته چمتو کېدای شي ښايي ونه منې؛ هغوی دا نه شي درک کولی چې دا مسله يو دم نه رامنځته کېږي بلکې يو اوږد مسير يې طی کړی وي، زينه په زينه مخکې تللي وي، منفي هڅونکی يودم قرباني دې ته نه شي چمتو کولی چې ځانوژنې ته دې اماده شي دغه ډېره لار وهلې وي داسې لار چې هڅونکی بيا قرباني ته د دې اجازه نه ورکوي چې بېرته شاته راوګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په واقعي ژوند کې خنګه کولی شو چې دا مسله وڅېړو؟ راځئ پر
يوه مجرم يا جنايتکار فکر وکړو، چې خنګه کولی شي يوه
کوچني جنايت ته يې وهڅوه چې په ورو ورو بالاخره داسې
جنايت ترسره کړي چې ستره ګناه يا جرم ورته ويلی شو. که
داسې شخص نه شئ تصور کولای د خپلې سيمې مافيايي،
زورواکي او جنايتي باندونو ته فکر وکړئ، چې خنګه پر نورو
خلکو خپل راج چلوي او له ناوړې لارې خپلو موخو ته ځان
رسوي.

دا رواني جرمونه قرباني يو دم دې ته نه تړي چې قتل دې
وکړي، په لومړيو کې هڅونکی ښايي قرباني ډېرو وړو وړو
جرمونو ته وتړي او دا کار ډېر سخته نه دی، همداسې د وخت
په تېرېدو دا مسله شديد حالت ته ځي، په ډېرو مواردو کې
هڅونکی د فشار يو داسې څه لري چې قرباني دې ته وهڅوي
چې په جرم لاس پورې کړي، قرباني مخکې له دې چې پر
ځان پوه شي جرم يې ترسره کړی وي او وروسته په داسې يو
حالت کې وي چې هېڅ د خلاصون لاره نه لري، همداسې
جرمونه تسلسل پيدا کوي او بالاخره د مجرم ژوند يوازې په جرم
کولو کې ويني او بس.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د واقعي موخو پټول**

په توره ارواپوهنه کې داسې بېلابېلې لارې دي، چې هڅونکي خپلو موخو ته څان پرې ورسوي. په منفي هڅونه کې د نورو تخنیکونو ترڅنګ د واقعي موخو پټولو تخنیک هم ډېر اهم دی.

په توره ارواپوهنه کې څیرک هڅونکي له داسې یوه تخنیکه کار اخلي چې قرباني د دوو غوښتنو ځواب رد نه کړي، حتما به یوه پرې مني. مثلا یو ناوړه ګټه اخیستونکی غواړي، چې له قرباني په داسې ډول شل زره افغانۍ ترلاسه کړي چې بیا یې بېرته ور هم نه کړي. هڅونکی قرباني ته کیسه په داسې طرز و طریقه پیلوي چې یولک افغانیو ته یې اشده اړتیا ده، که یې پیدا نه کړي نو له بدو پایلو او پېښو سره به مخ شي. قرباني پر هڅونکي زړه سوځي، د هغه پر وړاندې د ګناه احساس کوي ورته وایي چې یولک افغانۍ زما په وس کې نشته چې مرسته درسره وکړم کنې حتما مې درکولې کله چې هڅونکی د قرباني دغه خبرې او احساس ویني نو ورته وایي چې اوسمهال که شل زره افغانۍ مرسته راسره وکړې هم یو څه کفایت کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرباني د دغې غوښتنې په ردولو سخته بد احساس کوي او نه شي کولی چې بیا ځلي دې هم رد ځواب ورکړي، بالاخره هڅونکي ته شل زره افغانۍ ورکوي او قرباني هېڅ دې ته متوجه نه دی، چې ماته يې څنګه دام اينبی دی.

### سمتي پوښتنې

ښايي ځينې کسان به له داسې پلورونکو سره مخامخ شوي وي، چې د خبرو زبردسته هڅونه لري، که دا تخنيک په سم ډول وکارېږي ډېر قوي اغېز ښندي.

ناوړه ګټه اخيستونکی د نورو تخنيکونو ترڅنګ ځينې وخت د پوښتنو له تخنيکه هم کار اخلي. مثلا هڅونکی غواړي چې د هغه کس په اړه ذهنيت خراب کړي چې د ده ورسره ستونزه وي يا يې بد ايسي.، هڅونکی له مقابل لوري داسې پوښتنه کوي «فکر کوې چې پلانی څومره بد او ناوړه انسان دی»؟ دا پوښتنه مقابل لوري ته دا ذهنيت ورکوي چې پلانی رښتيا هم بد کېدای شي دا ډول پوښتنې ډېر قوي اغېز لري. خو معمولا هغه کس چې هڅونکی نه وي داسې پوښتنه کوي «د پلاني په اړه څه نظر لرې»؟ په دغه پوښتنه کې مقابل لوری د پلاني مثبتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړني او خويونه هم وينې خو په پورتني پوښتنه کې ذهن يوازې له منفي ځانګړنو ډکيږي.

هڅونکې دغه تخنيک په خورا خيرکانه دول کاروي، څکه که يې په غوره دول ونه کاروي بيا قرباني پرې پوهيږي او د هغه پر وړاندې ورسره مقاومت کوي او نه يې نظر ورسره تاييدوي. که هڅونکی پوه شي چې په دې پوښتنه قرباني جدي شو نو سمدستي د هغه د ارامولو لپاره پوښتنې بدلوي تر څو قرباني بېرته خپل حالت ته راولي او د ده په ناوړه هدف پوه نه شي.

د رواني حالاتو د لېږد قانون

روحي حالت د انسان د وضعيت او حالاتو پورې اړه لري. که د انسان فکرونه، خبرې او کردار سره همغږي وي نو دا د يوه انسان د يوې قوي روحيې ښکارندويي کوي.

د رواني حالاتو د لېږد قانون په دې معنا دی، چې انسان په هر دول حالاتو او شرايطو کې وي خپل رواني تعادل وساتي. نو په دې وخت کې هغه کس چې ورسره په تعامل کې دی هغه ته عاطفي حالت لېږدول کېږي. که دا قانون د يوه هڅونکي له لوري پلی شي ډېر قوي اغېز ښندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


که کس په دغه قانون پوه وي او ستاسو د هڅولو په هوډ کې وي د دې په برخه کې ځانګړی روښ او مېتود دی، چې هغه ورنه کار اخلي.

مثلا په لومړیو کې هڅونکی د مقابل لوري د حالاتو مطابق خپل حالات عیاروي، که غمجن وي او ارامې خبرې کوي هڅونکی هم کټ مټ داسې اکټ کوي، نو کله چې مقابل لوری د خپلو حالاتو مطابق حالت په ده کې ویني نو په ناخوداګاه ډول د دوی دواړو ترمنځ ژورې عاطفي اړیکې رامنځته کېږي.

د دغه تخنیک (د حالتونو یو ډول والی) ترسره کولو وروسته هڅونکی په ځیرکانه ډول خپل کار شروع کوي او پخپله روحیه باندې هماغه قرباني کوي. مثلا هڅونکی د خپلو خبرو سرعت تېزوي، تر څو مقابل کس وارزوي چې ایا هغه هم خپلې خبرې ورسره تېزوي که نه. که قرباني د ده د خبرو په ډول خبرې تېزې کړې یا له عادي خبرو ورهاخوا شوې نو سړی یې حک، قرباني یا ښکار کړ.

تر حک کولو وروسته هڅونکی داسې خپل ذهني حالت بدلوي چې غواړي په قرباني کې هم هماغسې رامنځته شي، دا حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېداى شي خوشحالي يا خپگان وي. دا ډول تخنيک د هڅونې په تيوري کې په کاميابۍ يا ناکامۍ کې د غيرشعوري حرکتونو تاثير يا اغېز ښيي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


# درېیم څپرکی

## نامحسوسه ذهني کنټرول

### ټول ذهنونه نامحسوسه نه کنټرولېږي

د هر کس ذهن د هغه شخصي- حریم دی. ایا په هر ډول شرایطو کې ذهن د انسان په کنټرول او واک کې وي. ټول خلک دا خوښوي چې افکار او کړنې دې ټولې په خپل واک او کنټرول کې وي خو ایا دا ټول د امکان وړ دي؟ موږ کولی شو، چې په خوب کې دې صحنې زموږ په خوښه رامنځته کړو؟ هغه وخت چې موږ غواړو په یو څه تمرکز وکړو نو تمرکز مو نه ګډوډېږي؟

له دې معلومېږي ټول افکار او کړنې زموږ په واک او اختیار کې نه دي. زموږ ذهنونه په حقیقت کې د نفوذ او کنټرول لپاره خورا حساس دي، مثلا یو وېرونکی فلم ګورئ د هغه ځانګړي زګنالونه، غږونه او رڼا ستاسو پر احساساتو او ذهن قوي اغېز کوي، که څه هم زموږ هدف یوازې د فلم لیدل وي یعنې پر فلم فوکس او تمرکز کول؛ خو بیا هم نور شیزونه زموږ ذهن بلې خواته اړولی شي که څه هم موږ ځان ته داډ ورکړی وي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـول ذهـن او احساسـات مـې پخپـل واک او کنټـرول کـې دي خـو اصـلا هماغسـې نـه وي؛ نـو فکـر وکـړئ، چـې يـو نـاوړه ګټـه اخيسـتونکی بـه څـومره مـاهر وي، چـې زمـوږ پـه ذهـن اړولـو کـې قوي رول لري.

نامحسوسـه ذهنـي کنټـرول د ذهـن کنټرولـو پـه برخـه کـې تـر ټولـو وژونکـی يـا غـبن دول دی. کـه څـوک پـوه شي چـې ذهـن مـې کنټرول شـوی يـا تـر اغيـز لانـدې راغلـی نـو کـولی شي چـې ذهنـي، کلامي يا جسمي له دغه امر يا کار څخه مخالفت وکړي او يـا لـه دغـه کـس څخـه چـې پـوهېږي ذهـن يـې ورکنټـرول کـړی لـري واوسي. ځينـې کسـان بيـا د کنټرولـر پـه لـومړي ځـل ليـدو پـوهېږي او هڅـه کـوي چـې ځـان ورنـه وسـاتي. خـو کـه کنټرولـر لـه تخنيکونو ګټه واخلي بيا نو قرباني د دفاع سيستم له منځه وړل کېږي.

د خلکـو د ذهـن کنټرولـو لپـاره لـه دوو تخنيکونـو کـار اخيسـتل کېـږي يـو يـې خپلمنځـي فـردي تعـاملات او بـل لـه رسـنيو ګټـه اخيستنه.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې د سترو بنسټونو او نهادونو لپاره له رسنیو ګټه اخیستل کېده خو نن ورځ دغسې نه ده. لپټاپونه، ځیرک موبایلونه داسې کنټرولونکي دي، چې هېڅوک ورنه تېښته نه شي کولی.

مخکې له دې نه چې کنټرولونکي په نامحسوس ډول زموږ ذهنونه کنټرول او په واک کې واخلي باید د دوی په تخنیکونو او هنرونو پوه شو، هغه ناوړه ګټه اخیستونکي چې له تورې اوراپوهنې د خپلو اهدافو لپاره ګټه اخلي دوی هڅه کوي، چې د خپل ځان د ګټې په پار پر نورو اغېز پرېباسي.

په همدې حال په نامحسوس ډول ذهني کنټرولونکي تر نورو ناوړه ګټه اخیستونکو خو چنده خطرناکه او منطقي دي، بالعکس د ټولني ضد کس یا د ټولني ضد شخص (هغه چې د ځان د ګټې لپاره د نورو د زیان په کیسه کې نه وي) بیا ډېر هیجاني دي خو ذهني کنټرولونکي بیا له دقیقې بررسۍ وروسته پخپلو کړنو لاس پورې کوي او عمل کوي داسې کسان په ډېرې سختۍ د پېژندنې وړ دي، دوی ډېر باریک کار کوي، د دغه مېتود پېژندل اسانه خبره نه ده، ډېرې پوهې او فکر ته اړتیا لري. په همدې پار ذهني کنټرولونکي ډېر صابر او چلباز خلک وي، زیاته هڅه کوي چې څوک شک پرې وانه خلي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی تر هغو چې امکان وي له خپلو تخنیکونو او مېتودونو په پټ او څیرکانه ډول ګټه اخلي.

## په نامحسوسه ډول د ذهن کنټرولولو تخنیکونه

راځئ چې په دې خبرې وکړو چې ناوړه ګټه اخیستونکي په کومو تخنیکونو او مېتودونو کارولو سره د یوه قرباني ذهن په نامحسوس ډول کنټرولوي یا په لاس کې اخلي.

## متزلزل کسان په دام کې ګیرول

د یوه قرباني ذهن په نامحسوس ډول د کنټرولولو په برخه کې تر ټولو مهم او لومړی تخنیک انګېزه ده. علمي څېړنو په داګه کړې، هغه انسان چې د یو څه د اړتیا احساس کوي د هغه کس په پرتله چې د ارامۍ او خوښي احساس لري ډېر په دې لومه کې نښلي. دغه اړتیا ښايي کوچنۍ یا لوړه وي. لکه د نشې احساس، مینه، لېوالتیا او... .

په دې تړاو یوه څېړنه ترسره شوه: یوه ډله تږي او بله تږې نه وه، کله چې د چای اخیستلو زمینه برابره شوه هغه ډله چې تږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه تر اندازې زيات يې يخ چاى واخيست خو هغه چې تږى نه وه چاى يې وانه خيست. له څېړنې په ډاګه شوه، چې کله د انسان مغز ناهيلى يا د يو څه اړتيا حس کوي هغه په بشپړه لېوالتيا او ميل هغه وړانديز چې غواړي يې ومني.

دغه کړنلاره په فردي کچه څنګه ارزول کېږي؟ کله چې کنټرولونکى يو قرباني پيدا کړي او د هغه د اشدې اړتيا وړ څه په نښه او يا پرې پوه شي؛ نو کنټرولونکى هڅه کوي چې هغه ورته مهيا کړي تر څو تر ډېر د ده ذهن کنټرول او د خپلو اهدافو لپاره يې وکاروي.

مثلا يو کس په وروستيو کې له سخت احساسي او عاطفي بحران سره مخ شوى، اړيکې يې له مقابل لورې پرې شوې، عاطفي ماته يې خوړلې او مرستې ته اړتيا لري. نو په دې وخت کې کنټرولونکى هڅه کوي چې داسې يو څه ترسره کړي چې هغه فکر وکړي چې زما غمخوار دى او غواړي له ماسره مرسته وکړي تر څو مې بېرته احساس ښه شي؛ خو برعکس هغه غواړي چې وراني رامنځته کړي تر څو د ده د کمزورى له تکو ناوړه استفاده وکړي مثلا ښايي پيسې ترې واخلي، جنسي- ناوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټه ورنه واخلي، د ځان، يوې افراطي يا سياسي ډلې په مخ کې يې قرباني يا ګټه ورنه واخلي.

## د انتخابونو محدودول

په نامحسوس ډول د ذهني کنټرول يو بل تخنيک د انتخابونو محدودول دي، دا تخنيک خبري يا کلامي بڼه لري، چې د تورې ارواپوهنې له باريکو تخنيکونو ياديږي. ځکه قرباني ډېر امکان لري چې پر ناوړه ګټه اخيستونکي شک وکړي.

دا په داسې شکل ترسره کېږي، چې ناوړه ګټه اخيستونکی قرباني ته هر ډول واقعي انتخابونه محدودوي او همهاله قرباني ته دا په فکر کې ورکوي، چې د دغو ټولو چارو کنټرول او واک د ده په لاس کې دی.

مثلا يو کس دی غواړي چې له چا سره د ليدنې زمينه برابره کړي، ټوله هڅه کوي، له ځان سره فکر کوي چې څه بايد ورته ووايم، بايد زړور وغرېږم او... . وروسته پر ځان د نه باور له لاسه داسې پوښتنه ورنه کوي، چې پنځوس سلنه يې د مثبت

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځواب امکان شته مثلا وايي «موږ کولی شو چې سره ووینو او مجلس وکړو»؟ داسې پوښتنه تر ډېره منفي ځواب اخلي. دا پوښتنې هغه خلک کوي، چې د تورې اروايوهنې له اصولو او تخنيکونو سره بلد نه وي.

هغه کس چې په نامحسوس ډول د ذهني کنټرول له تخنيکونو سره بلد وي هغه ښځې په بله بڼه دا موضوع په مخ بیايي. داسې خلک دا خوښوي چې په ډاډه او ارامۍ سره قرباني د خپلې خبرې تابع کړي، پر شونډو یې مسکا خپره کړي، د دفاعي حالات ذره ذره ځيزونه له منځه يوسي. وروسته په ډېر باور او ارام ډول مقابل کس ته وايي «په شنبه باید ووینو که په پنجشنبه»؟ دلته ده انتخابونه ورته محدود کړل داسې یې نه ورته وویل چې څه وخت به ووینو؟ بلکې قرباني یې لومړی ځانته ښه جلب او بیا یې پوښتنه ورنه وکړه او داسې پوښتنه چې هغه محدوده وه. په دغه حالاتو کې قرباني حتما یوه ورځ انتخابوي د «نه» ویلو یا منفي ځواب ځای نه پاته کېږي.

دی فکر کړي چې بله لاره نشته حتما به یوه ورځ انتخاب کړي، که یې چېرته انکار وکړ نو ناوړه ګټه اخیستونکی ورته وایي «ما فکر نه کاوه چې ته دې زما په خبرو کې څه ووایې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوند یې ونه کړ، ناراحته دې کړم، تر دې وروسته به د هېڅ شي غوښتنه درنه ونه کړم». داسې جملې قرباني شاتګ ته مایل کوي، د انکار او نوي تنظیم دواړه مېتودونه ناوړه ګټه اخیستونکی ځکه کاروي چې خپل هدف ورنه خطا نه شي.

رسنۍ او ذهني تصویري کنټرول

لکه څنګه چې پنځه ګوني حواس موږ په ژوند کې رهنمایي کوي همداسې مو دښمنان هم کېدای شي ښایي ګمراه یا لاره رانه ورکه کړي. زموږ د لیدو او د مغزو د لیدو حس ډېر قوي دی.

زموږ خوبونه د لیدو یا بصري ریښې لري، حتی که موږ په تشویش یا سټریس مبتلا شو هغه کس چې پېژنو یې مخکې له دې چې د هغه بل اړوند حس کار وکړي د هغه کس په اړه په ذهن کې تصویرسازي پیل کېږي. دا کار کولی شي چې د رسنیو لپاره د تصویرونو او بصري تخنیکونو څخه په ګټه اخیستنې د خلکو د ذهني کنټرول مسله معلومه کړو.

مخکې د رسنیو ډېرى تولیدونکي مواد د لویو بنسټونو او موسسو وو دغو بنسټونو د ذهنونو په کنټرول کې له دغو تخنیکونو

(c) ketabton.com: The Digital Library


عظیمه ګټه اخیسته. د ځینو کسانو د مطرح کولو او په ټاکنو کې د دې مسلې ښه مثالونه وړاندې کولی شو.

له بده مرغه اوسمهال دا اغېزناکه او ويجاوړنکې تکنالوژي د هر ناوړه ګټه اخيستونکي لپاره مهيا ده. حتی تر دې چې د قربانيانو لپاره یې ځینې منظم تخنیکونه برابر کړي وي، که قرباني له څه ویره لري ناوړه ګټه اخیستونکی په راحت او ځيرکانه ډول پرته له دې چې قرباني پر ځان پوه شي د کمزوري تکی یې پیدا کوي او احساسات یې پخپل کنټرول کې اخلي.

موږ په اوسنی نړۍ کې ډېری ځيرک موبايلونه لرو کولی شو چې په یوه کلیک ډېر څه په باکیفیته ډول ووینو او هغه نورو ته ولېږو. نو ناوړه ګټه اخیستونکي په دې ښه برلاسي شوي چې چاته څه ولېږي تر څو یې په غیرمستقیم ډول خپل ذهن تر کنټرول لاندې راولي.

## رسنۍ او د ذهن د کنټرول برخه کې اوربدل

غږ يو بل مېتود او تخنیک دی، چې په نامحسوس ډول د یوه انسان ذهن کنټرول کړي. حتما به یوه غږ یا اواز ستاسو ذهن کنټرول یا پر تاسو به یې اغېز کړی وي، له دغې موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصون اسانه دی؟ غږ یا اواز پر تاسو قوي اغېز ښندلای شي، که تاسو یې د پرېښودو هڅه کوئ خو بیا مو هم په ذهن کې هغه غږ یا اواز ګرځي راګرځي. په یوه څېړنه کې په ډاګه شوه، چې په یوه رستورانت کې د یوې سیمې یا هېواد اړوند سندره چلانه شوه، په هغه کې د هغه هېواد اړوند خوړو او څښاک فرمایشونه ډېر ورکړل شول، کله چې په پای له دوی پوښتنه وشوه هغوی هم خبر نه ول چې ولې یې د هغه هېواد فرمایشونه ورکړل نو دوی نه پوهېدل چې لامل یې څه و؛ خو په حقیقت کې یې هماغه سندره وه، چې پر دوی یې په نامحسوس ډول اغېز کړی و.

په دغه مېتود او تخنیک کې تر ټولو مهمه مسله په سندرو او شعرونو کې د اسرارامېزه الفاظو او عبارتونو پټول دي.

هغه خلک چې د چارو واګې یې په لاس کې وي یا په واک کې وي ډېری یې د خلکو د مغزو مینځلو لپاره له دغه تخنیکه کار اخلي.

مثلا په شمالي کوریا کې خلک مجبور دي، چې په منظم ډول د وطن دوستۍ او هېوادپالنې سندرې او شعرونه ووایي او واورې د دې په وسیله دا مسایل د دوی په ذهن کې په ژوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه د تل لپاره کېني. که مو کله فکر کړی وي ځينې خلک له نـورو سـندرو سره دومـره عـادت شي چـې ډېـرى وخـت همـاغـه سندره ورسره تکراروي او لـه ځـان سره يـې وايـي. دا هغـه سندرې دي چې کلماتو يـې ژور اغېز پر انسان کړی او د هغه به حتما له وضعيت او حـالاتو سره ځينې کلمې او الفـاظ غـاړه غړی وي؛ خـو د وخـت پـه تېرېـدو د ده تـول حالـت او وضـعيت ورنـه اغېـزمن کېدای شي.

په دغـه تخنيـک کې فـرد هـم تـر دغـه مېتـود لانـدې نيـول کېـدای شي د دغـو تخنيکونـو د ماهيـت د پټـوالي پـه اړه مقابـل لـوری نـه شي کولی چې په اسانۍ يې تشخيص کړای شي.

پـه دغـه مسله کـې يـو بـل مهـم تخنيـک د خـوب پـه حالـت کـې د غږونـو او کلماتـو اورېـدل دي. ذهنـي مـاهر کنټرولـر ګـوري چـې کـس ويـده او د خـوب پـه حالـت کـې دی نـو پـه دې وخـت کـې انسان په دفـاعي حالت کې نه وي نو ماهر کنټرولر يو داسې څه چالانوي يـا غږوي چې د ذهـن د کنټـرول يـا مشخص هـدف تـه د رسېدو لپاره دی غـواړي د قربـاني تـر غـوږه يـې ورسـوي. کلـه چـې د خـوب پـه حالـت کـې يـو انسـان يـو څـه واوري هغـه يـې پـه زوره توګه په احساساتو او ذهن اغېز کوي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـايي «امـريکن سـايکو» فلـم مـو ليـدلی وي، هلتـه پکـې کرکټرونـه واقعـي نـه دي، پـه فلـم کـې اصـلي قاتـل «پاتريـک بيـټمن» دی. هغـه ټـول جرمونـه او مسـايل ورتـه وايـي چـې لـه قربانيـانو سره يـې څـه ډول چلـن کـړی دی وايـي چـې زه د وژنـې او اعدام وړ يم خو کله چې بيا له ده غوښتل کېږي چې خپله خبره بيا تکـرار کـړي دی پـه سـړه سينه وايـي زه لـه دغـو مسـايلو نـور زده کـړه کـوم او لاس تـرې اخلـم. دغـه جملـه د قربانيـانو پـر روان قـوي اغېز ښندي او د ده په اړه يې تصور او فکر بدلېږي.

د اوربـدلو د تخنيـک يـو بـل ډول دا دی، چـې د انسـان لـه پوهـاوي لوړ غږونـه رامنځتـه کېږي چـې دا تـر ډېـره ځينـې افـراد او سـازمانونه پـرمخ وړي. دا ډول غږونــه پــه ځــانګړې او خاصــې فريکونســی سره د خلکـو لپـاره د ژورې وېـرې يـا نـاراحتی سرچينـه ګرځـي، چـې پـه ناخوداګـاه ډول پـر دوی اغېـز ښـندي. دا ډول غږونـه معمـولا پـه فلمونـو او نـورو ويـډيوګانو کـې هـم ليـدل کېـږي او ليـدلي بـه مـو وي؛ خــو ځينــې مــاهر کنټرولــران بيــا لــه داســې غږونــو اســتفاده کـوي، چـې هغـه د انسـان پـر عـاطفې او احساسـاتو ډېـر قـوي اغېـز ښندي او ثبات يې له منځه وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپرکی

## رواني لوبې یا چلونه

ایا رواني لوبې تل منفي اړخ لري؟

په دغه کتاب کې مو په رواني لوبو ډېرې خبرې کړې ځینې خلک په دې باور دي چې موږ کولی شو په اسانۍ سره رواني لوبې تشخیص او وپېژنو؛ خو اصلا دوی طبیعي رفتار یا چلند ته رواني لوبه وایي، په داسې حال کې چې رواني لوبې داسې یوه پېچلې مسله ده چې په اسانۍ سره د تشخیص وړ نه دي، کومې ځانګړنې چې موږ دلته بیان کړې تاسو به په دې پوه شئ چې تاسو چې د رواني لوبو په اړه څه دول فکر کاوه هغسې نه دي.

مثلا که څوک سر په سر پرېږدي، هېر یې کړي له ځان سره وایي چې «دا کس زما سره رواني لوبه کوي». خو په توره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروپوهنه کې دا مسله ښخې سرچپه ده. هغه کسان چې په توره اروپوهنه کې د رواني لوبو له تخنيکه استفاده کوي ښه، مثبت يا دوستانه نه دي. نو رواني لوبې د زيان رسولو پرته لکه هېرول، پرېښودل، لرې کېدل، واټن اخيستل په رواني لوبو کې نه راځي.

په همدې اساس هغه څه چې زيان ونه لري هغه رواني لوبې نه دي. رواني لوبه يو ډول رواني دسيسه ده چې د ناوړه ګټه اخيستونکي لخوا د قرباني او د هغه د ذهن او ارادې سره د لوبې کولو په نيت ترسره کېږي. مګر دا تخنيک د تورې اروپوهنې له نورو تخنيکونو سره توپير لري، په دغه تخنيک کې له قرباني سره د لوبې کولو اراده لري. په دغه تخنيک کې ناوړه ګټه اخيستونکی د مخکنيو تخنيکونو برخلاف د ښو پايلو د لاسته راوړلو لپاره ډېر فکر نه کوي د عمل ډګر ته دانګي او تر ډېره د لوبې پيلولو لپاره راغلی وي.

په همدې اساس په رواني لوبو کې ناوړه ګټه اخيستونکی تر ډېره د خوند او سرګرمۍ پسې ګرځي، پايلو ته په تمه نه وي، يوازې دا معلوموي چې د قرباني روان وخېږي او ځانته يې معلوم کړي په توره اروپوهنه کې ماهره يا غوره رواني لوبه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې واقعي ماهيت پکې افشا او ښکاره نه شي، چې دا لامل بيا کولی شي د رواني لوبې تشخيص ګران کړي.

## په رواني لوبو کې پټه هڅونه

هغه تخنيکونه چې د رواني لوبو او نورو تخنيکونو چې خلک ورته د نه پوهاوي په پار رواني لوبه وايي پټه هڅونه داسې څه دي، چې زبردست توپير پرې کېدای شي.

اوس به د هڅونې بهير يا لړۍ چې د رواني لوبو لاندې راځي په بشپړ ډول وپېژنئ.

دا د پټو انګېزو پراخه لړۍ ښيي چې د تياره ارواپوهنې چلونه مخې ته راځي

د رواني لوبو ترسره کولو يو لامل د قرباني هڅول دي چې په يو مشخص ډول چلند، فکر يا احساس وکړي. په دې حالت کې، ناوړه ګټه اخيستونکی ممکن احساس وکړي چې د تورې ارواپوهنې نور تخنيکونه د قرباني لپاره غوره نه دي. نو په پټو کېږي، چې ناوړه ګټه اخيستونکی د دغه مېتود او تخنيک په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسیله د څو اړخیزه خوښی ترلاسه کولو لپاره د دې تخنیک او لارې اړتیا حس کړي. یعنې له سرګرمي او ساتېري ورهاخوا په فرد د اغېز ښندلو په لټه کې وي.

د دغې برخې تر پای ته رسېدو وروسته په دې خبرې کوو، چې کومې اغېزې له رواني لوبې ترلاسه کوو.

د دې څېرکي په راتلونکې برخه کې به په تفصیل سره د رواني لوبو په پایله کې د اغېزو څینې ډولونه وڅېړو، په اصل کې، د رواني لوبو کارول د قرباني باور او رواني ځواک په خورا دقيق او نامحسوس ډول کموي. رواني لوبې په قرباني باندې د نفوذ کولو او په ورته وخت کې د هغه د خپلواکۍ د لاسته راوړلو لپاره کارول کېږي.

د قرباني متاثره کول یوازې د رواني لوبو ترسره کولو په برخه کې انګېزه نه ده، ډېرې ناوړه ګټه اخیستونکي رواني لوبې د تفريح په توګه پرته له کوم قوي هدف څخه کار اخلي، دوی د داسې لارې له پیداکولو خوند اخلي چې د قربانیانو په روحیه اغیزه وکړي، خپلو ارادو ته تسلیم شي او دی له دغو مسایلو خوند واخلي. دا ډول حالت او چلند کټ مټ د جامعه ستیز/ د ټولنې ضد شخص په ډول وي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ناوړه ګټه اخيستونکو دا ډله دا حقيقت له پامه غورځوي چې قرباني يې يو انسان دی چې احساسات او فکرونه يې له نورو سره مساوي دي او پرځای يې قرباني په اسانۍ سره د تفريح او کشف لپاره ډيزاين شوی سيستم ګڼي. د رواني لوبه دا بڼه خورا خطرناکه ده ځکه چې د ناوړه ګټه اخيستونکي دا سرګرمي يا ساتېرۍ د قرباني په ځانوژنې پای ته ورسېږي.

ځيني وخت په توره ارواپوهنه کې رواني لوبې د دې پر ځای چې په شعوري ډول يې ناوړه ګټه اخيستونکی ترسره کړي بلکې د دوی عادت جوړ شوی وي او په ژوند کې ډېر ورسره مخ شوی وي. دا هغه وخت پېښېږي، چې کله ناوړه ګټه اخيستونکی د خپل ژوند په اوږدو کې په ساده ډول له داسې رواني لوبو سره مخ شوی وي او د احساساتو د څرګندولو لپاره بله لاره نه ويني يا پيژني. دلته کس يو څه بې ګناه ښکاري؛ خو داسې نه ده، يوازې کس په ناخوداګاه ډول بد کار ترسره کوي، د داسې کارونو ترسره کول اخلاقي مسوليت نه ورنه سلبوي. په ځينو وختونو کې ناوړه ګټه اخيستونکی رواني لوبې په ناخوداګاه ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترسره کوي چې دا ډول افراد تر ټولو خطري دي، دوی له دې پرته بله هیڅ لاره نه پېژني، په پایله کې په ډېری مواردو کې د هغوی اصلاح او سالموالی ناممکنه کېږي.

## د رواني لوبو لیست

اوس په دې خبرې کوو، چې د یوه سالم ذهن او تیاره ذهن د لوبغاړو او لوبو ترمنځ توپیر روښانه کړو. د رواني لوبو هغه مېتودونه چې د خلکو پر ورانډې کارول کېږي مختلف ډولونه لري. ځینې رواني لوبې بې ضرره او ځینې یې بیا ویجاړونکې دي. هغه لوبې چې بې ضرره او هغه چې ویجاړونکې یا تخریبونکې دي په توره ارواپوهنه کې به پرې پوه شئ.

## د ګوابښ لوبه

ګوابښ څه شی دی؟ دا مسله هغه وخت پېښېږي چې یو کس غواړي یو څوک دې ته مجبور کړي چې یو انتخاب وکړي. معمولا دا ګوابښونکي عبارتونه داسې وي «دا کار وکړه کنې.... به رامنځته شي»، «سګريټ پرېږده... کنې زه دې ملګرتیا لاس اخلم/ پرېږدم»، «له خلکو سره ښه چلند کوه... کنې درنه خپه کېږم». دا ګوابښ غوښتنې ته نږدې یو څه دی؛ خو امر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر نږدې دی. ګواښ په توره ارواپوهنه کې د رواني لوبو يو ډول دی؛ خو دا په دې معنا هم نه دی، چې هر ګواښ دې د رواني لوبې يو ډول وي.

د دغې مسلې د تشخيص او پېژندنې لپاره درې لارې دي. لومړی د ګواښ کونکي د شخصيت ډول دويم د ګواښ کونکي دروني انګېزه او درېيم د ګواښ ماهيت دی.

اوس به هر يو په دغه درې اړخيز ډول وڅېړو. تر څو د ګواښ تخنيک او کارول په ښه ډول وپېژنو.

هغه کس چې ګواښل شوی وي يعنې ګواښونکی د منفي او مثبت ماهيت په ښه ډول ورڅرګندېدای شي. په مثبته ارواپوهنه کې ګواښ کونکی هغه کس ګواښي چې اهميت ورته لري دی غواړي چې له هغه ساتنه، مرسته او کومک ورسره وکړي. په دغه ډله کې تر ډېره نږدې ملګري، ورور و خور يا د ژوند ملګری راتلی شي. البته دا کس چې د مثبت ګواښ تخنيک ترسره کوي داسې فکر مه کوئ چې دی منفي ګواښ نه شي ترسره کولی.

د ګواښ پټه انګېزه د ګواښ د ماهيت په پېژندلو کې يو بل عنصر دی، دا هغه کسان ترسره کوي، چې د يو چا د ژوند د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهبود او ښه کولو لپاره یې د مرستې په ډول ورسره کوي. دا ګواښ کولی شي چې د مقابل لوري د سلامتی او بهبودي لپاره ترسره او د یوه بد عادت مخنیوی وکړي. مثلا دغه جملې «که دغه کار ته دوام ورکړې پرېږدم دې»، «د اولاد تر راوړلو مخکې باید د اولاد د ښې روزنې په تړاو باید ښه مطالعه وکړو، که داسې ونه شي زموږ سالمولی تر پوښتنې لاندې راځي او تولنې ته به مو یوه بده خبره ورانده کړې وي». دا ډول ګواښونه کولی شي چې د سره مقابل لوري په انتخاب د هغه په ژوند کې زبردست تغیر راشي.

د ګواښ په نیت قضاوت یو سخت کار دی، په همدې پار موږ نه شو کولی چې د ناوړه ګټه اخیستونکي پر ګواښ او موخو پوه شو. نو د دې د معلوملو لپاره غوره لاره دا ده، چې د ګواښ ماهیت وارزوو، چې ایا زموږ په ګټه دی که نه او ایا ناوړه ګټه اخیستنه پکې شته که نه؟

په تیاره اروابوهنه کې دا تخنیک ډېرى وخت د دې لپاره کارول کېږي، چې یو کس مجبور کړي، چې غیراخلاقي کار ترسره کړي یا د هغه د خوښې خلاف کار پرې ترسره کړي. دغې موخې ته د رسېدو لپاره ناوړه ګټه اخیستونکی معمولا قرباني

(c) ketabton.com: The Digital Library


داسې کارو ته تړي، چې د هغه له عقيدې او فکر سره په ټکر کې وي، ناوړه ګټه اخيستونکی دا هر څه لومړی ارزوي، چې وروسته په ډېر ماهرانه ګواښ سره کس دې ته مجبوروي چې ناخوښه کار پرې ترسره کړي.

تاسو بايد د دې ورتيا ولرئ، چې يو خيرغوښتونکی او مثبت انګېزه ښنونکی ګواښ وپېژنئ.

اوس په دې خبرې کوو، چې څنګه کولی شو هغه ګواښ کونکي وپېژنو چې د تورې ارواپوهنې له تخنيکونو د ګواښ په وخت کې کار اخلي.

لومړی د دغه ډول ګواښ کونکي پېژندنه خپله د ګواښونکي پورې اړه لري. دوی ډېر وخت د قرباني د ژوند په اړه ښه يا عادلانه فکر نه لري. مثلا ګواښونکی ښايي داسې کس وي، چې قرباني له هغه سره نامشروع اړيکې ترسره کړې وي، ګواښونکی پر قرباني قوي اغېز او کنترول لري دوی همدا شان کولی شي چې د قرباني په ژوند کې ډېر مهم رول ولري داسې رول لکه مور و پلار يا د ژوند ملګری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ناوړه ګټه اخیستونکي څه ډول ګواښونه کوي؟**

مثلا کولی شي داسې ګواښونو ته اشاره وکړي، چې د مقابل شخص په زیان یا غیراخلاقي مسایل وي. په ذهن کې یو قرباني تصور کړئ، چې غواړي د طبي یا اخلاقو زیانونو له امله یو کار نه ترسره کوي یا زړه نا زړه وي. ناوړه ګټه اخیستونکي په دغه حساسیت ځان پوهوي او د مقابل لوري دغه حساسیتونه د خپل ځان لپاره د خوند او تفریح سرچینه ګرځوي وروسته ناوړه ګټه اخیستونکی هڅه کوي، چې د قرباني دا اراده سسته او ور ماته کړي مثلا دغه جملې ورته وایي «یا دا کار وکړه یا کور ته ځم» یا «که د تفریح یا ساتېرۍ ته زړه نه کېږي ځان مه په عذابوه مه راځه، ځکه دلته له ساتېرۍ پرته بل څه نه شته».

حتی ځینې خطرناک ګواښونه کېدای شي چې د ځان وهلو، ځانوژنې یا د قتل لامل شي. مثلا ناوړه ګټه اخیستونکی قرباني ته وایي «یا خپل لاس پرې کړه یا درې ځله زه خپل لاس پرې کوم». یا یوه ناوړه ګټه اخیستونکي ښځه خپل خاوند ګواښي او ورته وایي «که هغه کس ونه وژنې، پرېږدم دې؛ ځکه بیا له دې معلومېږي چې زه تاته هېڅ اهمیت نه لرم». په دغه کې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولـو افراطـي حالـت هغـه دی، چـې يـو کـس لـه بـل کـس سره د ځانوژنې تـړون وکـړي، تـر څـو د يـو بـل پـر وړانـدې خپـل ژونـد پـای تـه ورسـوي، کلـه چـې قربانـي خپـل ژونـد تـه د پـای ټکـی کېـږدي نـاوړه ګټـه اخيسـتونکی بيـا هماغـه تـړون ناديـده نيسـي- او خپلـه ځان نه وژني.

**د بېلوالي ګوابښ**

پـه يـوه خوښـه، سـوله ييـزه او باثباتـه اړيکـه کـې د خونـديتوب او خوښـی احساس کـول لـه بنسـټيزو اړتيـاوو دی. هغـه خلـک چـې پـه ژونـد کـې خوښـه جـوړه ولـري او ژونـد يـې پـه همغـږي او متقابـل احـترام ولاړ وي نـو د دې امکـان حتـی صفـر تـه ځـي چـې د دوی اړيکه دې بې ثباته يا پرې شي.

د تـورې ارواپـوهنې پوهـان لـه دغـو اصـولو خـبر دي او دوی هـدف تـه د رسـېدو لپـاره لـه هـر ډول پېچلـو لارو کـار اخلـي تـر څـو مسـله مشخصه او عامل يې پيدا کړي.

نـاوړه ګټـه اخيسـتونکی پـه اړيکـه کـې د منفـي احساسـاتو لـه ودې، بـې ثبـاتي او ګـډوډي څخـه پـه ګټـې اخيسـتنې قربـاني ناتوانـه کوي، تر څو د ده پر وړاندې دفاعي حالت غوره نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېلوالي ګواښ د رواني لوبو له مهمو دولونو دی، چې په ګډ ژوند کې د بې ثباتي او اضطراب لپاره کارول کېږي.

د بېلوالي ګواښ څه دی؟ دا اصطلاح له وخته په دې معنا کارول کېږي، چې دا ګواښ د مقابل لوري د پرېښودلو لپاره وي دا ښايي په غیرمستقیم، ورانديز شوي شکل یا مستقیم دول وي.

په غیرمستقیم دول بېلوالي ته اشاره هغه وخت رامنځته کېږي، چې کس په ښکاره دول د بېلوالي یا جدايي په اړه څه نه شي ویلی، دی هڅه کوي، چې په غیرمستقیم دول بېلوالي ته داسې اشاره وکړي تر څو یوازې د بېلوالي په اړه ذهنیت ورکړي.

ناوړه ګټه اخیستونکی ښايي په راتلونکي کې په دې اړه ډېر په عادي دول وغږېږي، هغه ښايي راتلونکي بېلوالي ته داسې اشاره وکړي «ښه، زه تر دې وروسته نور داسې څه نه شم زغملی». یا بله هر دول جمله چې مقابل لوری دا شک وکړي چې په راتلونکي کې ښايي دی پرېږدي او اړیکې ورسره ختمه کړي.

«د بېلېدو/ بېلوالي وړانديز» دا مېتود بیا د غیرمستقیم او واقعي بېلوالي ترمنځ یو دول دی، دا هغه وخت رامنځته کېږي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوړه ګټه اخیستونکی غواړي دا ښکاره کړي چې په راتلونکي کې د بېلوالي تصمیم لري. ښايي ناوړه ګټه اخیستونکی د خپلو خبرو په دوام کې داسې ووايي «زه به دې ډېر ژر پرېږدم او نور له دغې مسلې سره جوړجاړی نه کوم». که ناوړه ګټه اخیستونکی د بېلوالي یا طلاق هر ډول پړاو پرته له واقعي پړاوه ترسره کوي د بېلوالي وړاندیز دی.

«واقعي بېلوالی/ بېلېدل» دغه پړاو د بېلېدو د ګواښونو په برخه کې تر ټولو شدید پړاو دی، ناوړه ګټه اخیستونکی ښايي په کور کې د خپلو اړوندو شیانو په ټولولو لاس پورې کړي او قرباني ته دا وښيي چې دا دی نور زه له تا څخه او درنه بېلېږم. په حقیقت کې ناوړه ګټه اخیستونکی نه غواړي چې له قرباني دې بېل شي خو په دې وخت کې ناوړه ګټه اخیستونکی یوازې د قرباني حال او احساسات معلوموي چې څومره اغېز پرې لري یا نه.

په دې پوه سواست چې د بېلوالي ګواښ څه دی او کوم ډولونه لري اوس په دې خبرې کوو، چې په د دغه رواني لوبو د تخنیکونو اصلي موخې څه دي؟

د دغو تخنیکونو اصلي موخې دا دي، چې د اړیکې د خوندیتوب، خوښۍ احساس له منځه یوسي، د ناوړه ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیستونکي پر وړاندې د قرباني دفاعي حالت له منځه لاړ شي، خپل واک او کنټرول له لاسه ورکړي.

ناوړه ګټه اخیستونکی په مکرر ډول له مقابل لوري سره اړیکه پرې کوي، تر څو د هغه د زغم او احساساتو کچه ځانته معلومه کړي. وروسته قرباني په شدید احساساتي کېږي، زارۍ کوي او ناوړه ګټه اخیستونکی په مهربانه ډول د قرباني هغه غوښتنه چې باید اړیکه یې پرې نه شي منې او قرباني ته ځان داسې ښیي، چې دی یو خواخوږی، مهربان ښنونکی انسان دی.

کله چې په لومړي ځل خلک له دغو تخنیکونو خبر شي منطقي نه ورته ښکاري ځکه دوی وایي چې دا څو معلومه خبره ده خلک دا نه خوښوي، چې ناوړه ګټه اخیستونکی دې اړیکه ورنه پرې نه کړي. خو د توري اروا پوهنې له نظره دا فکر ناسم دی. ځکه قرباني د اروا پوهنې له نظره سالم یا طبیعي نه دی، په همدې اساس دی نه شي کولی چې په منطقي توګه دا مسله درک کړي تر څو دغې اړیکې ته د پای ټکی کېږدي.

په اړیکو کې په دوامدار ډول د دغو ګواښونو پایله ډېره خطرناکه او زیانښونکې ده، حتی داسې پایلې ته انسان رسېږي چې تصور یې نه شي کېدای. دا مسله کولی شي چې یوه کورنۍ له

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځـه یـوسي، هغـه کـورنۍ چـې نـاوړه ګـټـه اخیسـتونکی یـې هیلـه لـري، بـالاخره نـاوړه ګـټـه اخیسـتونکی پـه دغـه مسله کـې دومـره ځـان نـباسـي، چـې هـر کـار وغـواړي پـرې کـولی یـې شي. پـه دغـه پـړاو کـې قربـانـي نـور پـه بشـپړ ډول خپلـه اراده، واک، خوښـه او تصمیم له لاسه ورکوي.

### نه ګټونکې لوبه

دا هـم نـړدې ګوابنـونو تـه یـو ډول لوبـه ده، چـې پـه اسـانۍ سره کـولی شي یـو سـالم او طبیعـي چلنـد غلـط وښـیي. پـه دغـه برخـه کـې هـم توپیرونـه شـته، د دې لپـاره چـې د تـورې اروپـوهنې پـه دغـه تخنیکـونو پـوه شـو لـومړی بایـد پـه دې خـبر شـو چـې نـه ګټونکې لوبه څه وخت خطرناکه او کوم وخت بې زیانه ده.

د عـادي اروپـوهنې لـه نظـره نـه ګټـونکې لوبـه داسـې تعبیرېـږي: کلـه چـې یـو څـوک د چا زیـات لېـوال یـا عاشـق وي نـو ډېـر ورتـه لاسرسـی نـه شي لرلـی. دا ښـایي د لیـدنې د رد، پیغـامونو یـا زنـګ تـه ژر نـه ځـواب ویـل او... وي. دا د دې لپاره تـرسره کېـږي، چـې مقابل لوری نور هـم لېوال او عاشـق کـړي، تـر څـو یـوه ښـه او ژوره اړیکه رامنځته کړي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په توره اروا‌پوهنه کې بیا دا مسله ډېره په خطرناک شکل مخته ځي، کله چې له دغه تخنیکه کار اخیستل کېږي کاملا توپیر کوي او له بې زیانه انګېزې سره ډېر توپیر لري.

ناوړه ګټه اخیستونکی معمولا دا تخنیک د اړیکې جوړولو په لومړیو کې کاروي هغه په دې کار سره غواړي چې د قرباني رواني سلامتي ته زیان ورسوي. د اړیکو په لومړیو کې دا لوبه بې زیانه معلومېږي ځکه چې په دغه اړیکه کې هېڅ ژمنتیا، وابستګي نه شته او دواړو لوریو ته کوم زیان نه رسېږي. خو کله چې د اړیکو په اوږدو کې شاته تګ او د نه باور مسله رامنځته کېږي نو ډېر بدې پایلې رامنځته کېږي. اوس په دې تخنیک او اغېزو یې خبرې کوو.

کله چې دوو لوریو په دې توافق وکړ چې اړیکې ته به ژمن وي او بیا بې باوري او یو بل ته نه لاسرسی رامنځته کېږي؛ نو دا د نه ګټونکې لوبې د تخنیک نښه ده.

عادي اړیکې معمولا په لومړیو کې ډېرې منسجمې او منظمې نه وي، نو په دې اساس د یوې عادي اړیکې مسیر او پالل عادي خبره ده خو د وخت په تېرېدو سره قوي کېږي. ناوړه ګټه اخیستونکی په لومړیو کې ځان ډېر ژمن ښکاره کوي، تر څو

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړيکې داسې عيار کړي، چې قرباني په دام کې وغورځوي.
وروسته ناوړه ګټه اخيستونکي ته لاسرسی ډېر کم شي.

کله چې کس د نه ګټونکې لوبې بل پړاو پيلوي نو بېرته هغه کس ته چې ده ته ژر لاسرسی نه شي کولی لاسرسي ته زمينه برابروي، ځکه هغه غواړي چې نور ورنه لرې شي خو دی بېرته غواړي چې هغه خپل حالت ته راولي او اړيکه ورسره قوي کړي. نو په دې وخت کې د ناوړه ګټه اخيستونکي پر ځان باور نو هم قوي کېږي، ماهر ناوړه ګټه اخيستونکي په ظاهره داسې کړنې ترسره کوي، چې مقابل لوري ته ډېرې د ډاډ وړ او باوري ښکاره شي، چې دا مسله د قرباني په ذهن کې د ګډوډۍ او ژورې رواني بې ثباتۍ لامل کېږي، چې وروسته له هغه ناوړه ګټه اخيستونکی د خپلو موخو لپاره ورنه کار اخلي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

## فریب/ چل

ایا فریب/ چل د تورې ارواپوهنې په کټګورۍ کې راځي؟

فریب د تورې ارواپوهنې له اصلي ارکانو شمېرل کېږي. د تورې ارواپوهنې د نورو تخنیکونو په ډول په دې پوهېدل، چې فریب هم د تورې ارواپوهنې د تخنیکونو په وسیله ترسره کېږي او که نه تفکیک یې یو څه ستونزمن دی. مخکې تر دې چې ساده او تور فریب/ چل په توپیر پوه شو نو لومړی په عموم کې په فریب خبرې کوو.

ډېری خلک په دې باور دي چې د فریب او دروغو ترمنځ توپیر نه شته. دا سمه نه ده. دورغ د فریب یو ډول دی، خو په یوازې ډول هېڅ وخت نه شي کېدای چې د یو چا د تېرایستلو سبب شي. هره عمل یا کلمه چې وکړای شي له حقیقت پرته دې په بله خوا هدایت یا روان کړي فریب نومېږي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې اساس د فرېب/ چل عامې برخې دا دي: دروغ ويل، د ابهام رامنځته کول، د حقيقت پټول او د يوه ناسم څه د سموالي د اثبات لپاره هڅه. دا په مختلفو بڼو د فرېب په چوکاټ کې خپلې چارې پرمخ وړي. ښايي تاسو داسې احساس کړئ چې دا يو وخت کې تاسو هم ترسره کړي دي. ايا دا په دې معنا ده، چې ټولې گمراه کوونکې کړنې دې د تورې ارواپوهنې نمونې وي؟ هېڅکله.

ټول تر خپله وسه نورو ته فرېب ورکوي. خلک ښايي په ځينو چلندونو لکه مهرباني، شرم او د بې کفايتۍ احساس په خاطر نورو ته فرېب ورکړي. خبرنو ښودلې چې ډېرى خلک حتى نارينه د گډې جوړې پيدا کولو په ويبسايټونو کې د خپلې ونې/ قد په اړه دروغ وايي. دا د دې دليل نه شي کېداى چې هغه ته دې د تورې اروايپوهنې ناوړه گټه اخيستونکى ووايو. خلک حتى د سلامتي، خوشبختي او نېکمرغۍ په برخو کې ځان ته فرېب ورکوي. که په ورځني ژوند کې داسې فرېبونه صادروو او د نورو فرېبونو معادل نه دي نو دغو ته کوم ډول فرېب وايو؟

فرېب هغه وخت تور معلومېږي چې د غولول شوي کس په اړه فرېب ورکوونکى منفي احساس يا قصد ولري. عادي فرېب

(c) ketabton.com: The Digital Library



معمولا د حقيقت پر وړاندې ماتېږي خو تور فرېب دومره قوي وي چې حقيقت يې هم نه شي ماتولی. په دې وخت کې يا حقيقت د پښنو سر سم تغيرېږي، پټېږي يا ناديده نيول کېږي.

هغه کسان چې په دې برخه کې د تورې اروايوهنې له تخنيکونو کار اخلي له فرېب د زيان رسولو په موخه گټه اخلي نه د مرستې کولو په پار. هغه په هره بيه د زيان په ناديده نيولو سره يو څوک غولوي تر څو خپلو گټو ته ورسېږي.

ځينې داسې فکر کوي، چې که فرېب کوچنی وي هغه به د تورې اروايوهنې له گټگورۍ نه وي هغه که لوی وي د تورې اروايوهنې برخه به وي؛ خو داسې نه ده د فرېب اندازه کول او نه اندازه کول دلته مهمه نه ده او نه هم له دې سره اړوند موضوع ده بلکې له تورې اروايوهنې سره اړوند موضوع دا ده، چې د فرېب تر شاه پټه موخه څه ده.

## د فرېب مختلف اړخونه

لومړی بايد په دې خبرې وکړو، چې ځينې فکر کوي چې کوچنی فرېب دومره خطري نه دی، بلکې لوی فرېب بدې او ناوړه پايلې لرلی شي، دا فکر ښخې ناسم دی. هغه ستر فرېبونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ناوړه ګټه اخیستونکو لخوا د موخو د ترلاسه کولو په موخه یو چاته ورکول کېږي په دې کې کوچني فرېبونه دومره رول لري چې تصور یې نه شي کېدای. دلته به اوس په کوچنیو او سترو فرېبونو یو څه خبرې وکړو.

هغه کوچني فرېبونه چې ناوړه ګټه اخیستونکي یې کاروي کوم دي؟ په لومړیو کې کوچني فرېبونه ناوړه ګټه اخیستونکی د دې لپاره ترسره کوي، چې دا معلومه کړي چې قرباني د ده په کړنو، خبرو او اقداماتو څومره باور لري. که خلک په لومړیو کې په کوچنیو دروغو باور وکړي نو د وخت په تېرېدو په لویو دروغو هم باور کوي.

همدا شان کوچني فرېبونه پر ځان د باور لرلو کچه ټیټوي، غولونکی نه شي کولی چې د خپل استدلال او منطق پر ځواک باور وکړي. که ناوړه ګټه اخیستونکی یې په کوچنیو مسایلو کې وغولوي او د پېښو د رامنځته کېدو په اړه له ده ګډې وډې پوښتنې شي نو ښايي غولونکی دې پایلې ته ورسېږي، چې د ده استدلال او منطق سم نه دی، چې بالاخره پخپل قضاوت باور نه کوي. ډېری خلک د دې پر ځای چې پوه شي د ځینو مسایلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


په اړه فریب راکول کېږي دوی دې پایلې ته رسېږي چې خپل قضاوت یې ناسم او نیمګړی دی.

له لویو یا سترو فریبونو یو دا دی، چې خپل ځان داسې معرفي کړې، چې په اصل کې هماغسې نه یې. دلته زموږ هدف له شخصیتي ځانګړنو نه دی، بلکې بشپړ هویت دی لکه د نوم بدلول، د زیږېدنې نېټه، کورنۍ بدلول او... . د توري اروا پوهنې کارونکي پر دې قادر او برلاسي دي، چې نورو ته داسې فریب ورکړي چې د هغوی په جعلي هویت باور وکړي.

## غولوونکي مباحث

ډېریو به دغه جمله اورېدلې وي چې «پیسه د ټولو بدیو ریښه ده». په دغه جمله کې اغراق شوی سمه نه ده؛ خو دا موضوع له پامه هم نه شو غورځولی، چې پیسې د ډېرو فریبونو لامل هم کېږي، د پیسو په پار فریب کول مختلف دلیلونه لري. ځینې خلک د پیسو ترلاسه کولو لپاره خلک غولوي، ځینې یې د پیسو پټولو لپاره خلک غولوي او... .

تر ټولو مشهور فریب چې په توره اروا پوهنه کې د پیسو اړوند کېږي د مسلکي سوالګر لخوا ترسره کېږي. دا خلک د ډېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسو په لرلو بیا هم هڅه کوي چې خلکو ته فریب ورکړي تر څو پیسې په لاس راوړي. دوی د پیسو لاسته راوړلو تر ډېره د توري اروپاپوهنې له تخنیکونو ګټه اخلي. حتی ځینې یې د دې په پار چې پیسې لاسته راوړي د خپل بدن یو برخه زخمي کوي، تر څو د نورو خلکو لخوا د زړه سوي وړ وګرځي، حتی ځینې بدمرغه خپل اولادونه په همدې پار په نشه‌یي توکو روږدوي تر څو دوی د خپلو فریبونو د یوې برخې په توګه وکاروي.

په دغه برخه کې مدني حالت یوه بله کاربدونکې لاره ده ځینې وخت هڅه کېږي، چې خپل واده پټ کړي، تر څو قرباني په دام کې ګیر کړي. دا بنایي د مالي، جنسي- یا نورو لاملونو لپاره ترسره شي. ځینې حتی ډېر وادونه لري خو له یوه بله خبره نه وي. خو د ټکنالوژۍ - انترنیتي نړۍ دا مسله اوس لږ ګرانه کړې. ماهر فریب ورکونکي په دې قادر دي، چې په ځیرکانه شکل ډېرې جوړې له یو بله جلا او بېلې کړي.

ځینې غواړي چې ځان متاهل وښیي، په داسې حال کې چې مجرد وي. دا فریب مختلف دلیلونه لري. ډېرې هغه خلک چې متاهل دي د مجرد په پرتله د ډېر باور او اعتماد وړ وي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورې اروا پوهنې ځينې کارونکي په همدې تخنيک زبردست بلد دي او په مناسبو ځايونو کې ورنه ګټه اخلي. ځينې خلک د دې لپاره ځان متاهل ښيي چې بيمه ډېره ورکړي، ځينې د دې لپاره چې کورنۍ غريبه وښيي تر څو ورسره خلک مرسته وکړي او...

د جرمونو پېتول په دې برخه کې يوه بله لومه ده، چې ناوړه ګټه اخيستونکي ورنه استفاده کوي. د دې لامل دا وي، چې که يې کوم خاص جرم ترسره کړی وي او مقابل کس ورنه خبر شي نو ستونزمنه ده، چې په هغه دې غوره باور وکړي. جالبه دا ده، چې داسې فريبونه تل تور نه وي. دوی دا کار د ردولو له وېرې کوي، دا يو تور فريب نه دی. خو که دا کار په قصدي توګه پټوي تر څو وروسته مقابل لوري ته زيان ورسوي نو دا د دې ښکارندويي کوي، چې د تورې اروا پوهنې له مسايلو کار اخيستل کېږي.

ناوړه ګټه اخيستونکي د خپل احساساتو د پټولو او پر ده د نورو د باور ترلاسه کولو لپاره فريب زبردسته لاره ښکاري. د همدغو مسايلو د پټو لپاره تر هغو کار اخلي چې تر څو مقابل لوری قرباني شوی نه ي، وروسته ښايي ځينې قربانيان متوجه شي، چې دا يو فريب و او بس. که يو کس له تورې اروا پوهنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



استفاده کوي او غواړي چې له يو چا سره فزيکي تمايلات وښيي نو هغه پلټنه کوي، چې مقابل لوري ته زما دغسې تمايلات سره کرښه ده که نه. کله چې پوه شي چې مقابل لوري ته حد يا سره کرښه ده؛ نو په دغه پړاو کې فرېب ورکونکی کس ښايي دروغ ووايي او داسې چلند له مقابل لوري سره وکړي، چې زه له تاسره واقعي او پاکې مينې ته ژمن يم. کله چې قرباني د وخت په تېرېدو په دام کې ونښلي نو بيا ناوړه ګټه اخيستونکی په خپل کار لاس پوري کوي، سره کرښه يې له منځه وړي او د ناوړه ګټه اخيستنې قرباني کېږي.

يو مشهور دام چې ډېری وخت قرباني پکې نښلي دا دی، چې د ناوړه ګټه اخيستونکي په ظاهره احساساتو او چلند ژر باور کوي. فرېب هغه قوي خواک دی، چې پر قرباني د اغېزې يا کنټرول لپاره کارول کېږي.

رومانتيکي اړيکه: ناوړه ګټه اخيستونکی دا ډېری وخت د واقعي موخو د پټولو لپاره کاروي، خپلې فرېبي خبرې او کړنې يې پر قرباني اغېز ښندي قرباني داسې تصور کوي، چې ټول عمر زه د يو داسې انسان پسې ګرځېدم خو دا دی پيدا مې کړ. خو په حقيقت کې ناوړه ګټه اخيستونکي پر دې قادر وي، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابل لوري د احساساتو او نورو کمزوریو تکي ورمعلوم وي د قرباني لپاره داسې کړنې ترسره کوي چې کټ مټ د هغه هیله وه، دا فریب ډېری وخت اوږده مهاله او پېچلی دوام لري.

همدا راز کولی شي چې د قرباني هغه احساسات چې ډېر حساسیت ورسره لري په غیررمانتیکه ډول نرم کړي. مثلا ناوړه ګټه اخیستونکی قرباني ته د زیان اړولو په موخه په لومړیو کې ډېرې صادقانه کړنې او خبرې کوي حتی که په لومړیو کې قرباني ته د نږدېوالي زمینه برابرېږي خو نه یې ترسره کوي، ناوړه ګټه اخیستونکی داسې چلند کوي چې د قرباني په خیال او خاطر کې هم نه ور وګرځي چې دا کس دې ناوړه کار ترسره کړي، قرباني په دغو مسایلو مغشوشېږي، ګیج کېږي تر هغو دا فریب ادامه لري، تر څو قرباني خپل دفاعي حالت او حسیاست ختم کړي بالاخره د ناوړه ګټه اخیستونکي ټولو غوښتنو پوره کولو ته چمتو شي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


**غولوونکي تخنيکونه**

په دې پوه سواست چې فرېب/ چل مختلف اړخونه او لاملونه لري اوس په دې خبرې کوو، چې هغه کوم تخنيکونه دي چې په فرېب/ چل کې ناوړه گټه اخيستونکي ورنه کار اخلي.

د فرېب هر تخنيک هغه وخت کارېږي چې ناوړه گټه اخيستونکی لومړی درک کړي، چې په دغه ځای او وخت کې کوم تخنيک اغېزناک او غوره دی.

غولونکي په ترتيب سره هر يو تخنيک جلا نه کاروي، بلکې څلور تخنيکونه حتی سره يو ځای کوي او بيا د عمل ډگر ته دانگي.

دورغ؛ دروغ ويل د تور فرېب له باريکو او مشهورو ډولونو دی. دا تخنيک هغه وخت کارېږي چې غولونکی په دې پوه شي، چې مقابل لوری تر حقيقت هم زما په خبرو ډېر باور لري. دا قرباني ښايي داسې کس وي، چې ډېری وخت پر نورو ژر باور کوي. يا غولونکی تر هغه حده دا کار کوي، چې د قرباني دفاعي حالت له منځه يوسي. که ناوړه گټه اخيستونکی له دروغو کار اخلي ډېر احتمال دا دی، چې د خپلو دروغو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناحقایقو د پټولو لپاره یې په غوره لارو هم فکر کړی. ناوړه ګټه اخیستونکي په دې کې ډېر ماهر دي، چې څنګه وکولای شي بې باوره څه ته د باور جامه ور واغوندي.

د دروغو له لارې فریب له ډېرو باریکو او فکري روښونو څخه دی، په همدې ترتیب ماهر غولونکی داسې دروغ وایي چې د وخت په تېرېدو د ده دورغ د سمو او باوري معلوماتو ځای ونیسي.

مثلا یو ماهر غولونکی داسې کیسه کوي چې ۹۰سلنه سمه او ۱۰سلنه بې باوره او ناسمه وي؛ خو قرباني ۱۰سلنه هېڅ په نظر کې نه نیسي- او ټولې کیسې ته د واقعیت او حقیقت په سترګه ګوري. ځینې غولونکي د اغېز ښندلو لپاره خپل غږ بدلوي، ځینې وخت په لوړ یا ټیټ غږ خبرې کوي. ځکه غږ د انسان په لاشعور باندې اغېز ښندي. غولونکی ګوري چې په کوم ځای کې غږ ټیټ او په کوم ځای کې غږ لوړ کړي، تر څو پر قرباني اغېز وکړي او هر څه ته د واقعیت په سترګه وګوري.

ضمني دروغ؛ دا د فریب یو بل شکل دی، چې په غیرمستقیم ډول سم شي ته اشاره کوي؛ خو اساسا ناسم وي. مثلا غولونکی غواړي چې قرباني ته په مالي برخه کې فریب ورکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایـي «زه یـو بریـالی انسـان یـم او ډېـر عایـد لـرم». خـو پـه غیرمستقیم ډول دا پیغام لـري «زمـا د حسـابونو د سمبالښـت لپـاره مـالي کـس ډېـرې خـبرې لـري. د مـاليې تیتولـو لپـاره لپـاره ډېـر وخـت لګېـږي او زه دومـره وخـت نـه لـرم». پـه همـدې وخـت کـې غولـونکی داسـې خـبرې او چلنـد کـوي چـې ځـان ډېـر شـتمن وښيي، خو پـه ښکاره او واضح ډول نـه وايـې چـې زه دومـره پیسـې لرم یا شتمن یم.

غولونکي پـه دې برخـه کـې تـر ډېـره لـه ضـمني دروغـو ګټـه اخلـي، ځکـه دا تـر ډېـره د منلـو وړ وي او د رد یـا ناسـم ثـابتونو چـانس پکـې کـم وي. کـه قربـاني غولـونکی پـه دروغـو تـورن کـړي غولـونکی کـولی شي ووايـي چـې داسـې کـار يـې نـه دی کـړی او نـه يـې لـه خـبرو هـدف دا و. دا ځکـه کـوي چـې د دروغـو پټولـو همـدا غـوره لاره ورتـه بریښـي. بلـه خبـره دا ده، چـې د قربـاني هـر څـومره تخیـل قـوي کېـږي همـدومره ضـمني دورغ د ده د غولـوني لپـاره غـوره دي.

مخفي کـاري/ پټـول؛ دا د فریـب یـو بـل شـکل دی، چـې لـه دورغـو او ضـمني دروغـو سره تـوپیر لـري. دروغ او ضـمني دروغ پـه مختلفو ځـایونو کـې مختلف اړخونـه لـري، چـې د حقیقـت پټولـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېږاره ويل کېږي، په اسانه د قرباني ذهن بلې خواته اړول کېږي.

يوه بله لاره چې د مخفي کاري په تخنيک کې ورنه ګټه اخيستل کېږي عاطفي حصار دی. په دغه تخنيک کې ناوړه ګټه اخيستونکی داسې ښيي چې په ژوند کې يې يوه داسې دردونکې او ناراحتونکې موضوع شته، چې په هېڅ وجه يې د ويلو توان نه لري. په همدې ترتيب قرباني نه غواړي د خپلې خوښې وړ پوښتنې يا معلومات ورنه وکړي. ځکه دا ته يو ډول بې نزاکتي يا ظلم ښکاري چې په دغه حالاتو کې له ناوړه ګټه اخيستونکي د خپلې خوښې پوښتنې يا معلومات واخلي. نو په همدې ډول غولونکی خپل اصلي حقيقت پټوي، تر څو خپل شوم هدف ته ځان ورسوي.

تېرايستل؛ دا د فريب ډېر پېچلی او مجرمانه ډول دی، چې د تورې اروا‌پوهنې کارونکي ورنه ګټه اخلي. تېرايستل د دروغو يو ډول دی. په دغه تخنيک کې غولونکی نه غواړي په ساده او اسانه بڼه دروغ ووايي، هغه داسې دروغ وايي چې د هغوی د ادعا په موخه جعلي ثبوتونه او اسناد وړاندې کوي. ماهر غولونکي په دې ډول په ډېر باريکه شکل مخکې ځي. مثلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايـي «نـه زه واقعا ډاکتـر يـم، دا زمـا ډيپلـوم او اسـناد دي»! پـه ځيرکانـه ډول د دغـو اسـنادو ښـودل قربـاني تـه دا حـس ورکـوي، چـې رښـتيا هـم ډاکتـر دی، کـه چېرتـه د خپلـو اسـنادو او د ځـان ډاکټر ثابتونو لپاره بيا بيا ټينګار کوي نـو قرباني پـرې شک اخلي فکـر کـوي حـتما کومـه سـتونزه پکـې شـته، چـې دومـره ډېـر د دې يادونه کوي، چې زما اسناد سم دي او ستونزه نه لري.

لـه بدمرغـه چـې د انټرنـټ او ټکنـالوژي نـرۍ سره اوس دا مسـله ډېـره پـه چټکـۍ سره د عامېـدو خواتـه روانـه ده. غولـونکي پـه دې قـادر دي، چـې هـر ډول جعـلي اسناد او مـدارک پـه اسانۍ جـوړ کـړي. دا ډول تقلبـي مسـايل ښـايي شخصيـ- دليلونـه ولـري. پـه تېرايسـتنه کـې يـوه بلـه لاره دا ده، چـې غولـونکی ټـول هويـت جعـلي کـوي هغـه غـواړي چـې معـرفي شـوي شرکـت يـا اداري تـه فريـب ورکـړي ترڅو داسـې يـوه غلا يا ناوړه کار تـرسره کـړي چـې پــه راتلــونکي کــې يــې پيــدا نــه کــړي. دا ډول خلــک د ډېــرو خطرناکو او ناوړه پېښو سرچينې بللي کېږي.

کلـه چـې پـه فريـب کـې لـه تېرايسـتنې تخنيـک کـار اخيسـتل کېږي؛ نـو پـه دې وخت کې بايـد پـوه شـو، چـې غولـونکی د تـورې اروايـوهنې اصـولو تـه ژمـن دی. د دې لپـاره چـې لـه قـانون او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورونـو تېښـتـه وکـړي. پـه دې برخـه کـې هـر انسـان بايـد دې تـه متوجه شي چې څنګه له ماهرتېرايستونکي ځان وژغوري.

پـه دغـه تخنيـک کـې بلـه مهمـه مسـله دا ده، چـې غولـونکى داسـې ښـيي چــې زه د قربـانـي لخـوا غولـول شـوى يـم، دا نمونـه بيـا د فرېـب دننـه يـو بـل فرېـب دى، چـې ډېـر پېچلـى اړخ لـري او مـاهر نـاوړه ګټـه اخيسـتونکي يـې د ځـان لپـاره پـه مناسـبو ځـايونو کـې استفاده کوي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکی

## هیپنوتیزم

په دغه کتاب کې د تورې ارواپوهنې ډېرې اړخونه تشریح شول؛ خو هیپنوتیزم یې هغه برخه ده چې تاسو ته هم د حیرانتیا وړ وي. ډېرى خلک چې د هیپنوتیزم کلمه واوري د داسې کس په اړه چې ډېل بریت لري، شپو خولی یې پر سر وي او د یو چا د خوب راوستو په تکل کې وي؛ خو دا تصور کلیشه‌یي وي د باور وړ نه دی. ځکه چې واقعي هیپنوتیزمونه په داسې باریکو او قوي تخنیکونو مجهز دي، چې هر چېرته موقعیت لري دا خلک کولی شي چې د تورې ارواپوهنې له عناصرو ګټه واخلي او په خلکو داسې اغېز وکړي چې حتی د باور وړ نه وي.

نو چې هیپنوتیزم هماغه پخوانی باور نه دی نو څه دی؟ اصل کې هیپنوتیزم یو داسې پړاو او پروسه ده، چې د پوهاوي ژورو پوښونو په فلټر کولو سره په یو شخص کې د تلقین د منلو ځواک زیاتوي. دا په ژوره او اغېزناکه توګه د هغو کسانو په اړه چې په بې دفاع او خورا تلقین شوي حالت کې دي موثره ده او د تور هیپنوتیزم کارونکو ته د قربانیانو پر وړاندې قوي ځواک ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیپنوتیزم د نورو تخنیکونو په ډول نه دی، چې موږ یې په ورځني ژوند کې په عادي او بې ضرره ډوله ورسره مخ شو. دا کېدای شي چې کلامي او غیرکلامي ورانديز شوي شکل ترسره شي. په هغه ځای کې چې تلقین کول په ډېر باریک شکل رامنځته شي. په همدې اساس د هغوی تشخیصول او پېژندنه اسانه کار نه دی.

د ماهیت له پلوه هیپنوتیزم د انسان د ذهن په ژورو اغېز کوي. هغه کس چې په يو چا کې د تلقین منلو او غبرګون راپارولو مهارت لري کولی شي چې پرته له کش مکشه پر مقابل لوري اغېز وکړي.

## د هیپنوتیزم تخنیکونه

اوس چې د هیپنوتیزم په واقعي معنا پوه سواست په دې خبرې کوو، چې د تلقین کولو کوم اصلي تخنیکونه دي، چې کارېږي. دا مختلف دي، خو زموږ عمومي موخه دا ده، چې په هغو ټولو مسایلو پوه شو، چې په دې برخه کې ورته اړتیا لیدله کېږي. دلته پدې خبرې کوو، چې په کومو ځایونو کې کوم تخینکونه کارېږي. د یادونې ده، چې که په دغو تخنیکونو ځان پوه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو له یوې خوا یې پېژندنه سخته او له بلې موږ هره ورځ کولی شو ورسره مخ او ځان ته زیان ورسوو.

## غیرکلامي وړاندیز

که په تور اروا پوهنه کې هیپنوتیزم د وړاندیز په توګه وشمېرو؛ نو دا مهمه ده چې پر دې پوه شو، چې دلته له وړاندیز هدف څه دی. ښایي ځینې دا فکر وکړي، چې د یوې وړاندیز شوې جملې معنا به لري مثلا «زه غواړم چې تاسو دا کار ترسره کړئ». خو داسې نه ده په تور اروا پوهنه کې دا مسله له تصوره لرې ده، لومړی مهمه معنا چې باید په نظر کې ونیسو هغه دا ده، چې وړاندیز کولی شي په دوو لارو یا اړخونو چې کلامي او غیرکلامي دی رامنځته شي.

د انسان مغز یو یخ شوی غر تصور کړئ، د غره په سر هغه برخه چې اوبه پکې ولاړې وي هماغه یې د ادراکي دندو ترسره کولو استازیتوب کوي لکه فکر کول.

هغه برخه اوبه چې تر یخې لاندې وي د انسان مغز ته د نه لاسرسي په ډول دي یا په ډېره کمه اندازه ورته لاسرسی کېږي یا په خوب کې د غړونو، انځورونو لیدل فرض کړئ، چې انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویده وي خو په خوب کې ټول هغه څه ویني چې کټ مټ هماغسې وي. د تورې اروپوهنې کارونکي تر ډېره خپل هدف د ذهن په دغه پټه او غیرشعوري برخه کې ځای پر ځای کوي.

په ټولیز ډول د وړاندیز د ارایه کولو لپاره دوې لارې دي، چې د دغو په وسیله خپلو موخو ته ځان رسوي. لومړی کلامي او دویم یې غیرکلامي ده. دا دوه ډوله مېتودونه او روشونه مختلفې لارې لري د تخیکونو دقیق ډولونه چې کارونکي یې په مختلفو ځایونو کې کاروي بېلابېل فکتورونه لري.

ځینو کارونکو دغه ټول تخنیکونه ازمایلي او په اخېر کې د هیپنوتیزمي لاره انتخابوي تر څو پر قرباني ډېر اغېزلرونکې شي. ځینې کارونکي بیا داسې تخنیکونه کاروي، چې په هماغه وخت کې له تفریح او ساتېرې پرته بل څه نه وي. دا مسله بیا د هیپنوتیزور د موخې سره اړه لري یا غواړي چې نفوذ او اغېز وکړي یا غواړي یوازې تفریح وکړي.

د کلامي یا لفظي مېتود او تخنیک پېژندنه سخت کار دی. ځینې وخت تور هیپنوتیزم وړاندیز په داسې کلماتو کې نغاړي، چې په ظاهره ډېر بې ګناه او معصومانه وي، تر څو د قرباني په ذهن کې ژور اغېز پرېباسي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غږ تيټ والی، جګوالی او د کلمو انتخاب د دغه تخنيک يوه بـل مبتـود دی، چـې هيپنـوتيزوران ورنـه ګټـه اخـلي. مـاهر هيپنـوتيزوران پـه داسـې حـال کـې چـې قربـاني پـه جـدي ډول خبرې کوي يا د مهمو مسايلو په اړه په جدي توګه خبرې کوي ورتـه متوجـه کېـږي د هغـه د غـږ زيـر و بـم او د کلماتـو انتخاب کاپي کوي، ذهن تـه يـې سپاري او پـه راتلونکي کـې د قربـاني پـر وړاندې تـرې کـار اخـلي. وروسـته پـه هماغـه ډول او کلماتـو خپلـه موضـوع قربـاني تـه القـا کـوي، د غـږ هماغـه ډول او د کلماتـو انتخاب تقليد په قرباني کې زور اغيز ښندي او دفاعي حالت يـې له منځه ځي.

د کلامـي تلقـين يـو بـل شـکل چـې د تـورې ارواپـوهنې هيپنـوتيزوران يـې کـاروي د داسـې کلمـو انتخـاب دی، چـې قربـاني ورسره ډېر حساسيت لري يا ډېر اهميت ورته لري.

مـثلا ځينـې وخـت يـو څـوک ډېـر احساسـاتي کېـږي د دغـه احساسـاتو لپـاره دی ځينـې داسـې کلـمات يـا کلمـه کـاروي چـې غـوارې خپـل هـدف تـرې ولېـږدوي. کـه چېـرې هيپنـوتيزوران دغـې مسلې او کلماتـو تـه متوجـه شي او کـاپي يـې کـړي کـولی شي چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اغېزې په پار يې د قرباني پر وړاندې يې په مناسب وخت کې استفاده کړې.

د ځينو مطالبو القا کول کولی شي غيرکلامي واوسي، مثلا په ځينو وختونو کې پرته له ويلو په ځانږېي يا خاصو نښانو يو څه وويل شي. که تاسو فکر کوئ چې دا کوچني مسايل دي او پر انسان اغېز نه کوي ستاسو ليد واقعا اشتباه دی. حتی ځينې سياسي رهبران د وينا په وخت کې د وېښتو ستايل په داسې ډول بدلوي چې کومه موخه غواړي ترلاسه کړي هماغسې ځان ښيي. د وېښتو اړولو يا جوړولو ستايل هر ډول جلا جلا په انسان متخلف اغېز ښندي دا چې موږ ته دا مسايل کوچني ښکاري او په اړه مو معلومات نه دي کړي دا زموږ تېروتنه ده.

هيپنوتيزور څنګه کولی شي چې په غيرکلامي ډول يو موضوع چاته القا يا په فکر کې ورکړي؟ دا تخنيک د معاني تداعي کولو په شاوخوا کې دی، يو ماهر هيپنوتيزور پر دې برلاسی دی، په انسان کې داسې شديد احساس په دوامدار ډول رامنځته کړي، چې د يوه بهرني محرک سره تړاو ولري لکه د سترګو حرکت چې له ځانګړو شرايطو يا حالاتو سره تړاو لري. مثلا هيپنوتيزور غواړي چې په چا کې د وحشت احساس يا فکر رامنځته کړي.

CS CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې قرباني د وحشت یا ډار په حالت کې وي ښایي د سترګو ځینې خاص حرکات ترسره کړي، قرباني په غیرشعوري ډول دا حرکت له وحشت او ډار حالت سره تړي، د وخت په تېرېدو هیپنوتیزور کولی شي چې په اسانه ډول د سترګو په حرکت پرته له دې چې نور محرک کارونه دې ترسره کړي د مقابل لوري احساسات په لاس کې اخلي او یوه خاص غبرګون ته یې تحریکوي.

چاپېريالي محرک یا حرکتونه د غیرکلامي یا غیرلفظي تلقین یو بل روش او مېتود دی، چې ډېرى هیپنوتیزوران یې کاروي. کله چې په کوچنیوالي کې د ښوونځي د مدیر له لوري تاسو اداري ته غوښتل کېداست، تر څو د تېروتنې جزا ووینئ، درپه یاد کړئ. هغه داسې حالت و، چې پرته له وهلو به تاسو له سختې وېرې او ډار سره مخ وئ. ځکه دا ستاسو په ذهن کې و، چې دلته د سزا لپاره راوستل شوی نه د ستایلو. هیپنوتیزوران کولی شي چې پر لویانو د خپلې اغېزې او خپلو موخو ته د رسېدا په پار له دغې لارې او طریقې کار واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځپل شوي قربانيان

د هيپنوتيزم اغېزه په ټولو انسانانو يو ډول نه ده، ځينې په کمه اندازه ترې اغېزمنېږي او ځينې بيا په ډېره اندازه. که څه هم د دغو معلومول په يوه جمله او پراګراف کې نه کېږي خو موږ يې عمده ټکي درته وړاندې کوو. ځپل شوي يا زيان ليدونکي خلک د هغو په پرتله چې ښه او د خوښۍ احساس لري د هيپنوتيزم قرباني کېږي. دا چې هيپنوتيزوران څنګه د دغو انسانانو د کمزورۍ ټکي پيدا کوي او بيا ورنه ناوړه ګټه اخلي پرې خبرې کوو.

هغه خلک چې ډېرې په دغه مسله کې ګېر کېږي داسې خلک دي چې په وروستيو کې يې په ژوند کې له يو لوی تغير سره مخامخ شوي وي، مثلا له يوې شديدې مينه‌بيزې يا عشقي اړيکې لرې شوی وي يا مهمه او ارزښتناکه دنده يې له لاسه ورکړې وي او... . په دغه ډول حالاتو کې د انسان مغز تر هر څه ډېر ډاډ او متقابل درک ته اړتيا لري. که هيپنوتيزور قرباني په همداسې زيانمن يا ځپل شوي حالت کې وليد نو کولی شي هغه ته ډاډ او اطمينان ورکړي، په دغه ډاډ سره د مقابل لوري ټول وضعيت پخپل کنټرول کې اخلي او هغه د هيپنوتيزم خواته بيايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیپنوتیزور په یوه قرباني کې نږدې دوه زیانمنونکي اړخونه ویني. لومړی هغه زیانمنونکی شخص همدا اوس پکې ګیر دی دویم هغه چې د هیپنوتیزور لخوا تر اغېزې لاندې دی چې دا یې شدیده بنه ده. ناوړه هیپنوتیزوران پر دې برلاسي دي چې دواړه اړخونه د اغېز لپاره وکاروي.

مثلا یو هیپنوتیزور د عوایدو او پیسو پیدا کولو په لټه کې دی، بنایي د یوې داسې شتمنۍ کونډې پسې وګرځي چې ډېره ذهني ځورول شوې وي. د وخت په تېرېدو هغې ته داسې احساس ورکوي چې زه ستا لپاره د ارامي او سوکالي سرچینه یم. برخلاف په اصل کې دا کس دې ته زیان رسونکی دی. تر ډېرې هڅې وروسته هغه خپل هدف ته رسېږي، پیسې او جایداد په لاس راوړي، چې بالاخره به د قرباني یوازینی پناه ځای پخپل لاس جوړ شوی جهنم وي.

هیپنوتیزوران په دې برخه کې خورا ماهر دي، چې په کوم وخت او کوم حالت کې شرایطو ته په کتو خپل کار ترسره کړي. داسې تخنیکونه شته چې د زیانمنونکي د زیان کچه پرې معلومه کړي چې یو یې له هغو د تقلیدي رفتار روش او تخنیک دی یعنې کله چې څوک په غیرشعوري ډول د یو چا تر اغېزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې راشي. دا چې هيپنوتيزور معلومه کړي چې ايا دغه کس زما تر اغېز لاندې راغلی او که نه نو دی يو جزيي حرکت ترسره کوي، مثلا ځان‌ژبه کې غواړي لاس ته يو ډول حرکت ورکړي تر څو معلومه کړي چې اغېز مې شته او که نه؛ په دې وخت کې که قرباني په غيرشعوري توګه لاس ته هماغسې حرکت ورکړ نو دا د دې ښکارندويي کوي، چې مقابل لوری د زيانمنولو په حالت کې دی.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عصبي ژبپوهنې پروګرامونه(NLP)

د عصبي ژبپوهنې پروګرامونه ( Neuro-Linguistic Programming) هغه قوي او ځواکمن تخنيک دى، چې د نړۍ ډېر ځيرک او هوښيار خلک ورنه ګټه اخلي. د سوداګريزې نړۍ رهبران، مشران او خيريه موسسې د دغه پروګرام لخوا وړاندې شوي تخنيکونو او اصولو باندې بشپړ باور لري او ډېر يې پلوي دي. د دغسې تخنيکونو زده کول هغه چاته چې له نورو د ناوړه ګټې اخيستنې نيت او فکر لري د اتومي وسلې په څېر دي. په همدې پار هغوى د قدرت او ځواک لپاره د قربانيانو په منځ کې يوه لويه رواني تباهي رامنځته کوي. د تورې اروايوهنې د متخصصانو لخوا کارول شوي تخنيکونه زده کړئ تر څو د ناوړه او تخريبي اغېزو د مخنيوي په برخه کې ورنه کار واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بیا پروګرام جوړونه (Reframing)

بیا پروګرامول/ جوړول د کنټرول هنر دی چې ځنګه مبهم معلومات درک کېږي. پخوانی مقوله ده وايي «هېڅ شی نه ښه او نه بد دي؛ مګر دا چې موږ څنګه باور پرې لرو». په دغه تخنیک کې هیپنوتیزوران کولی شي چې د قرباني فکر او احساساتو د کنټرول په برخه کې ورنه کار واخلي.

دا تخنیک په توره اروابوهنه کې څه ډول کارېږي؟ داسې فکر وکړئ، چې یو هیپنوتیزور هڅه کوي چې پر قرباني اغېز وښندي او دې ته یې وهڅوي، چې له نورو سره وخت تېر نه کړي یا له یو خاص کس سره ونه ویني. قرباني ښايي په دې مسله ناراحته او زړه تنګی شي، کله چې هیپنوتیزور ته دا ښکاره شي چې په دغه مسله کې قرباني حساس دی نو د هغه له احساساتو سره سم د موخې بدلېدو ته تغیر ورکوي. مثلا دا مسله داسې پرمخ وړي:

قرباني: «له هغه وخته چې ما له خالد سره خبرې نه دي کړې زړه مې په تنګ دی».

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیپنوتیزور: «زه پوهېږم چې اوسنی وضعیت ستا لپاره خوندور او ښه نه دی؛ خو دومره درته وایم چې ته دومره باهوښ او هوښیار انسان یې، چې ځان دې له زندانه خلاص کړی او ازادي دې انتخاب کړې».

تاسو فکر وکړئ، چې په دغو خبرو کې هیپنوتیزور څومره په باریکي د قرباني په ذهن کې دا ورکوي، چې له خالد سره اړیکه ستا لپاره ښه نه وه/ ده. د قرباني ذهن هم دویمې جملې ته ډېر اوري ځکه د ده ډېره ستاینه پکې شوې نو قرباني د ده پر خبرو باور کوي او د خپل ذهن او فکر کنترول د هیپنوتیزور په لاس کې ورکوي.

## راتلونکی سفر

دا تخنیک یو ماهر ناوړه ګټه اخیستونکي ته د دې اجازه ورکوي، چې قرباني راتلونکي ته په یوه ذهني سفر ته اماده کړي، تر څو وکړای شي پر چلند او ځوابونو یې چې په راتلونکي کې رامنځته کېږي اغیز ولري.

په خورا بنستیز ډول، راتلونکی سفر په ذهني توګه د راتلونکي سناریو له لارې قرباني ته لارښوونه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هيپنوتيزم لـه دغـو ټولـو تخنيكونـو سره پـه مطـالعې دې پـايلې تـه رسـېږو، چـې حتـى غـوره نـاوړه اخيسـتونكي لـه دغـو تخنيكونـو پـه متوسـطه انـدازه گټـه اخلـي. مـثلا د تـورې اروا پـوهنې يـو هيپنـوتيزور لـه قربـاني سره پـه اړيكـه كـې تـر ۹۵سـلنه عـادي رفتـار او چلنـد ښـيي چـې دا كـار پـر هيپنـوتيزور د قربـاني بـاور او اعـتماد ډېـروي. يـوازې ۵سـلنه تمركـز د قربـاني د اغېزمنتيـا لپـاره هيپنـوتيزور تـه كـافي دى. پـه همـدې ترتيـب قربـاني پرتـه لـه دې چـې دغـې مسلې تـه يـې فكـر نـه كېـږي، دفـاعي حـالات هـم لـه لاسـه وركـوي او د دغه تخنيک تر قوي اغېزې لاندې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اووم څپرکی

**مغزمينځنه**

که له چا وپوښتئ چې مغزمينځنه څه شی دی احتمالا هغه مثبت ځواب درکړي. د مغزمينځنې په تړاو ښايي تاسو ډول ډول فکر لرئ او مختلفې خبرې مو اورېدلې وي. لومړی بايد په دې خبرې وکړو، چې په مغزمينځنه کې کوم مسايل شامل دي او کوم مسايل له دغې مسلې سره غاړه‌غړې نه دي. د توري اروپاپوهنې له نورو تخنيکونو ورهاوخوا دغه تخنيک ډېر قوي، پراخه او اغېزناک دی.

که د توري اروپاپوهنې نور تخنيکونه د ټوپک د مرمۍ په ډول دي چې يوازې يو خاص کس يې په نښه کړی وي او له منځه يې وړي؛ خو د مغزمينځنې تخنيک د اتومي بم په ډول دی، چې ټوله جامعه او سيمه تباه او له منځه وړي.

د مغز مينځلو اصطلاح هغه پروسې ته اشاره کوي چې ورو ورو د هويت او اعتقاد په اړه د يو چا فکر په نوي فکر سره بدلوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د هغه چا لـه موخـو او اهـدافو سره سـم وي چـې مغزمينځنـه ترسره کوي.

مغزمينځنه پـه ځينـې وخـت کـې پـه پراخـه توګـه رامنځتـه کېـږي او کلـه بيـا محـدوده وي. مـثلا يـو مغزمينځـونکی پـر دې قـادر دی، چې يـو خـاص کـس تـر خپـل تخنيـک لانـدې ونيسي- تـر څـو مغز مينځنـه پـرې تـرسره کـړي همـدا شـان کـولی شي چـې پـه همـدې ډول يوه ټولنه يا ډله هم تر دې تخنيک لاندې ونيسي.

مغزمينځنــه داســې يــو مېتــود او روش دی، چــې لــه يــوه جنـګ غوښـتونکي پــه بشــپړ ډول ســوله غوښــتونکی او لــه يــوه ســوله غوښتونکي او سوله پلوي بشپړ جنګ خوښونکی جوړوي.

دا موضـوع کلونـه کېـږي چـې د نـړۍ پـه ډېريـو هېوادونـو کـې مـوږ و تاسو ته په اثبات رسېدلې ده.

ځينـې پـدې فکـر کـوي، چـې مغزمينځنـه پـه فزيکـي ډول پـه مغـزي جمجمـه کـې د نـورو افکـارو ځـای پـر ځـای کـول دي؛ خـو پـه اصـل کـې داسـې نـه دي دا مسـله لـه واقعـي مغزمينځنـې سره ډېـر تـوپير لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په راتلونکې کې به د مغزمینځنې په جزیاتو خبرې وکړو؛ خو په ساده ډول مغزمینځنه هغه تخنیک دی، چې په هغه کې په ورو، تدریجي او ظاهرا په داوطلبانه او ازادانه ډول تغیرات رامنځته کوي. دلته جالبه دا ده، هغه کس چې تر دغه تخنیک لاندې نیول شوی وي دا فکر کوي، چې دا ټول وضعیت او شرایط د ده په واک او کنټرول کې دي؛ خو برعکس دا هر څه سرچپه وي.

**د مغز مینځلو ساحې**

اوس به په دې خبرې وکړو چې کومې انګېزې، کوم خایونه او موقعیتونه دي، چې هلته خلک د مغزمینځنې تر تخنیک لاندې نیول کېږي.

ډېری خلک په دې باور دي چې ځینې ډلې د خلکو مغز مینځنه کوي؛ خو په دغو کې ډېر کم خلک پوهېږي، چې کومې ډلې او څه ډول د ځپلو پلویانو یا متحدینو مغز مینځي.

راځئ پر دې خبرې وکړو، چې څنګه یو ډله مغزمینځنه ترسره کوي. یوه ډله ډېری وخت د کاریزماتیک شخصیت په شاوخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې جوړېږي، داسې کس چې پر خپلو پلویانو او پیروانو اغېز لرونکی وي.

ډله ولې داسې ځای دی، چې هلته پکې مغزمینځنه کېږي؟

ډله ځکه په دې برخه کې کشش لري، چې واقعیتونه په ډېر اسانه او ساده ډول عادي خلکو ته وړاندې کوي، په دې شرط چې کس له ډلې سره د ځان تړلو یا ځان ورګډولو لېوالتیا ولري.

موږ په داسې مدرنه او پېچلې نړۍ کې ژوند کوو، چې ښايي په هغه کې ژوند کول ډېر ګیج کونکی وبرېښي. خو ډلو دغه ګیج ونکی حالت له منځه وړی او خلکو ته وايي «تشویش مه کوئ، هغه څه چې تاسو غواړئ یا هغه پوښتنې چې تاسو لرئ موږ مو هغو ته رسوو». کله چې د هغوی غوښتنو ته د رسېدو او پوښتنو ته د ځواب ویلو مسله رامنځته شي؛ نو فطري اړتیا انسان دې ته لېواله کوي، چې ځان په دغو خلکو ورګډ کړي، چې وروسته په پایله کې دغه مرحله او پړاو نور د نوي نورم د پیل پړاو ته داخلېږي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


نوی نورم داسې يو مېتود او روش دی، چې د هغه په وسيله کېدای شي ځينې دودونه او د ډلې لارښوونې او افکار مثبت معلوم شي، تر څو پر هغو کسانو چې د مغزمينځنې تر تخنيک لاندې نيول شوي اغېز ولري.

مثلا يو کس له واقعي ليده ظالم او ناوړه انسان دی؛ خو شاوخوا هغه کسان چې د ده پلوي دي او د ده په دايره کې دي ورته په حقه ښکاري د ظالم او ناوړه انسان فکر پرې نه شي کولی او دا خبره يې له زړه منلې وي چې ظالم او بد انسان نه دی؛ خو هغه کسان چې له دې دايرې بهر دي هغوی ته ظالم او ناوړه ښکاري د ناوړه کس پلويانو ته بيا مقابل لوری ناحقه او تهمتيان ښکاري؛ خو اصلا مقابل لوری تهمتيان نه دي، بلکې د دوی خپله مغزمينځل شوی دی.

همدا ډلې د نشه‌يي توکو د خرڅونکو په ډول په ذهن کې ونيسئ ښايي له دغو ډلو سره چې کوم کسان يو ځای شوي د ډېرو موخه دا نه وه، چې د دوی مغز دې ومينځل شي، بلکې دوی تېروتي وي، ډلې دې ته اړې نه دي، چې قرباني ته دې ايډيالوژيکي درمل پېچکاري کړي، بلکې قرباني د خپلو خلاوو د ډکولو او غوښتنو د پوره کولو لپاره له دوی سره يو ځای کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د قرباني همدا هڅه د مغزمينځنې لپاره لومړی قدم دی تر څو يې مغزمينځنه وشي.

ايډيالوژي د ډلو په شان يو بل ځای او موقعيت دی، چې مغزمينځنه پکې ترسره کېږي. د ډلې او ايډيالوژۍ ترمنځ توپير دا دی، چې ايډيالوژي تر ډېره پخپل فکر او ليد استواره وي؛ پداسې حال کې چې ډله د خلکو مغز د هغوی د مشر- او پيروانو پر باور او اعتقاد سره مينځي. ايډيالوژيکي مغز مينځل د خلکو د رهبري کولو په پار ترسره کېږي، څو په يوه مفکوره بشپړ باور وکړي.

ايډيالوژيکي مغزمينځنه چې د فرد محدوده نه وي، ډېره خطرناکه ده. په نړۍ کې ډېری داسې کسان ول، چې د خپلې مفکورې مطابق يې څه غوښتل هماغه ايډيالوژي نورو ته هم انتقال شوې اوس چې هغوی مړه دي او په دنيا نشته؛ خو بيا هم د هغه د ايډيالوژۍ سرسخته پلوي او پيروان شتون لري، چې حتی کېدای شي يوه ايډيالوژي تر پېړيو ورسېږي.

هره ايډيالوژي کېدای شي چې د يوې ډلې خلکو مغزمينځنه يې کړې وي، په ښکاره بې ضرره يا په حقه يو څه ښکاري؛ خو اصلا داسې نه وي. په ځينو ډلو کې حتی د خلکو مغزمينځنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره شدیده ترسره شوې وي، چې نه په خان او نه په بل بند وي، د خوشبختي او ارامي په خاطر د بدن غړي پرې کوي، له خان سره ظلم کوي، حتی خان د مرگ کندې ته ورتېل وهي، پخپل هر ناسالم کار او اقدام کې ورته یو حکمت ښکاري.

نو تاسو اوس په دې پوه کېږئ چې د مغزمینخنۍ تخنیک څومره تباه کونکی او قوي اغېز ښندونکی دی. مغزمینخنه په فردي بڼه هم ترسره کېدای شي، دا هم لکه ډلییزه مغزمینخنه داسې ترسره کېږي، څکه چې په همدغه کې هم یو څوک غواړي، چې خپل ناوړه باورونه او اعتقادات خپلو موخو ته د رسېدو په پار د هماغه په ذهن کې وربېچکاري کړي: خو په فردي کې یوه دا مسله توپیر کوي، چې له مقابل کس سره به ژوره او قوي اړیکه لري.

د مغز مینځلو بهیر/ پروسه

په دې مو خبرې وکړې، چې مغزمینځنه څه ده او په کومو ځایونو کې رامنځته کېږي. اوس په دې خبرې کوو، چې د مغزمینځنې بهیر او پروسه څه ده او د فردي او ډلییزو مېتودونو او تخنیکونو ترمنځ توپیر څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسان رواني وضعیت او ټولنیز/ اجتماعي شرایط هغه څه دي، چې د هر ډول مغزمینځنې د پیل تکی دی، تر دې وروسته پر نورو مسلو بیا باوري وي نو ځکه د پیل نقطه ډېره مهمه او قوي رول پکې لري. مغزمینځنه په هر انسان نه شي ترسره کېدای، یوازې په هغو انسانانو ترسره کېږي، چې د یو څه په لټه کې وي یا د خپلو خلاوو ډکېدو او حوسونو د پوره کېدو په تکل کې وي.

نو په همدې اساس کوم ډول افراد د مغزمینځنې تر چتر لاندې راځي؟ هغه انسانان د مغزمینځنې قرباني کېږي، چې په ژوند کې یې داسې پېښه رامنځته شوې وي، چې د بدمرغی په سترګه ورته ګوري. ډېری خلک د دې په پار مرګ ته غاړه ورکوي، چې د کورنی یا ملګرو له ډلې یې څوک له لاسه ورکړي وي. کله چې مغزمینځونکي په دې پوه شي، چې دا سړی په دې وضعیت کې دی چې د خپل غچ اخیستلو لپاره هر ډول قرباني ته تیار دی؛ نو په دې وخت کې هڅه کوي، چې مقابل لوري ته داسې فکر ورکړي، چې د هغه په مغزو اغېز وښندي، تر څو یې د کنترول واګې یې په لاس کې واخلي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته که په حضوري ډول وي یا د انټرنیټ له لارې د قرباني مغزمینځنه پیلېږي، دوی په عصبانیت او بې وقفې شکل خپلې موخې او افکار پر هغه نه تحمیلوي، بلکې په ارام، صمیمي او منطقي ډول د یوه ښه خواخوږي په توګه ورسره خپلې اړیکې مخته وړي.

مغزمینځونکی په لومړي ځل داسې کار کوي، چې قرباني دا تصور کړي، چې د ده په ګټه او د ده په خاطر دا کار کوي. وروسته ځینې همداسې کارونه په واقعیت کې هم کوي، چې د قرباني په ګټه وي، تر څو د باور فضا قوي او حاکمه کړي.

په اړیکو کې ډېر ورسره احتیاط کوي مثلا د قرباني چې کوم ډول ورزش خوښېږي دی هم د هغه ډېر ځان مینوال ګڼي او هماغه ورزش ورسره کوي، کوم خواړه چې د قرباني خوښېږي هماغه د ده هم خوښ وي او... . مغزمینځونکی په دغو ټولو مسایلو کې فریب او جعل کوي.

کله چې قرباني داسې یوه پښتنه ورته بیان کړي، چې هغه پښتنه ډېره دردونکې او ځورونکې وي، مثلا د کورنۍ غوره غړی یې له لاسه ورکړی وي، مغزمینځونکی کټ مټ له خپل اړخه داسې پښتنه ورته وایي، چې د ده له پښتنې سره ورته یا ترې شدیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، اصل کې دا پېښه نه وي رامنځته شوې؛ خو په دروغو خپل ځان هم قرباني او غمځپلی بولي، تر څو د دوی ډېر مشابهتونه او ورته والی پیدا شي.

په پورتنۍ مسله کې یوازې مغزمینځنه نه ترسره کېږي، بلکې قرباني ته یو ډول ډاډ او تسلیت هم ورکوي او هغه ته حتی داسې تخنیکونه او روشونه ورښيي، چې تر څو د هغه د ډاډ او راحتۍ سبب وګرځي.

د ستونزو حلالارې ورښودل په مغزمینځنه کې یوه بله پروسه ده، چې په دې پروسه کې مغزمینځونکی په ډېرې ارامۍ او احتیاط سره هغه حلالارې او وړاندیزونه قرباني ته ورښيي، چې فعلا ورسره مخامخ دی. دا کار په لومړیو کې تصادفي او غیرارادي ښکاري تر څو هغه منفي فکر چې ښایي کله کله یې قرباني د مغزمینځونکي په تړاو وکړي له منځه یوسي.

دا پروسه که په غوره ډول مخکې یووړل شي، ډېره موثره او اغېزناکه ثابتېږي. د لومړیو پړاوونو او پروسو په سم ډول ترسره کول د دې لامل کېږي، چې قرباني هغې لارې ته چې دعوت کېږي ډېر معلومات ترلاسه کړي او ډېر ورته لېوال واوسي. مغزمینځونکی حتی ښایي په لومړیو کې معلومات ورنه پټ کړي

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او داسې احساس ورکړي، چې قرباني خپله د دې لپوال شي تر څو د دغو معلوماتو لاسته راوړلو لپاره هڅه وکړي. دا هڅه د ده د قوي انګېزې اخيستلو په برخه کې ډېر مهم رول لري او دی نهايي هڅه کوي، چې هغه معلومات په لاس راوړي؛ هغه معلومات چې راتلونکي کې حتما ده ته په لاس کې پرته له هڅې هم ورکول کېږي.

کله چې قرباني په نوي اعتقادي سيستم تغذيه شي او تولو مسايلو ته د واقعيت په نظر ورګوري؛ نو په دغه وخت کې ښايي په ډېر دقت مغزمينځونکی نوره خپله اصلي موخه ښکاره کړي او هڅه پيلوي، چې نور ورو ورو قرباني دې ته چمتو کړي، چې هر کار يې زړه وغواړي پرې ترسره کړي. مثلا ناوړه هدف/ ايډيالوژيکي ترور. د ترور عاملان ښايي په لومړيو کې قرباني ته دا فکر ورکړي، چې تاسو دې ته پيدا شوي ياست، چې دا کار ترسره کړئ که يې تاسې ونه کړئ نو څوک يې وکړي؟ قرباني ته دا کار منطقي ښکاري او پرته له پښېمانتيا يې ترسره کوي چې په دغه مرحله کې نور پر قرباني مغزمينځنه ترسره شوې او له جرمونو د کنټرولېدو واک نه لري.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايي مغزمينځونکی د دې په انتظار وي، چې په ځينو اختلافي مسايلو کې قرباني راسره مخالف شي يا راسره مخالف ډول بحث پرمخ يوسي؛ خو دا مسله د درېيو دليلونو پر اساس نه رامنځته کېږي.

لومړی؛ قرباني د مغزمينځونکي پر وړاندې عاطفي احساس پيدا کړی او هر څه ته يې د حقيقت په سترګه ګوري.

دويم؛ قرباني دې مرحلې ته د رسېدو لپاره ډېر مزل کړی، هڅه يې کړې، د مغزمينځونکي باوري کارونه يې ليدلي او... نو د بېرته راګرځېدو لپاره يې تېر شوی وخت د ضايع مسله بولي.

درېيم؛ مغزمينځونکي د قرباني په تړاو ډېر پټ او حساس معلومات راغونډ کړي، له ځان سره يې د ثبوت په توګه ايښي، نو د مخالفت په نتيجه کې يې کولی شي چې د کمزوري د ټکي په توګه په مستقيم يا غيرمستقيم ډول د فشار د الې په توګه پرې کار کړي.

قرباني ته د وخت او لګښتونو ضايع دواړه معقول ښکاري. د ګواښ او کنټرول مفکورې منل ممکن په لومړي سر کې ستونزمن وي؛ خو قرباني بايد دا ډول ګواښونو ته مثبت ځواب ورکړي؟ بلکل څکه دوی دوی په ندرت سره ګواښونو ته لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـوار کـړي، ځینـې وخـت کـې مغزمینځـونکی د خپلـې مـوخې لپاره ورته ګـواښ رامنځتـه کـوي چـې پـه دې برخـه کـې هغـوی ډېـر مـاهر دي، ځینـې وخـت داسـې دوه مسـایل ورتـه رامنځتـه کـوي، چـې یـوه یـې لـړ اسـانه وي نـو قربـاني طبعـا اسـانه انتخـابوي خـو اصـلا کـې دواړه سخته وي.

د ژورو احساسـاتو او اړیکـو لـه املـه چـې مغزمینځـونکي لـه قربـاني سره رامنځتـه کـړي؛ نـو د ګـواښ او کنتـرول چلندونـه ډېـر نـرم او مهربـان ډولـه وي، مغزمینځـونکی د درد او پېښـو پـه رامنځتـه کولـو کې ډېر ماهر او ځیرک وي.

د دې پروسـې وروسـتۍ پایلـه دا راوځـي، چـې قربـاني پـه هـر هغـه څـه بـاور کـوي چـې ورتـه وړانـدیز کېـږي او هغـه یـې د حقیقـت پـه توګـه منـي، د دې پروسـې ځـواک دا دی چـې قربـاني احسـاس کـوي چـې وړانـدې شـوي نظرونـه د هغـه شخصـي- انتخـاب دی او هغـه یـې پخپلـه خوښـه تـرسره کـوي، چـې دا چـاره د دې لامـل کېږي چې یـو بشـپړ عـادي انسـان د افکـارو د اروا پـوهنې داسـې غلام شي چې پخوا یې تصور هم نه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مغزمينځنې اغېزې

د مغـز مينځلـو پروسـې پـورتنۍ مسـله د دغـه تخنيـک شـدت، قـوي والــی او ژورتيــا ښــيي. او لــه دې اغېــزو څخــه ســترګې نــه شي پټېـدای، اوس پـه دې خـبرې کـوو، چـې مغزمينځنـه کـومې اغېـزې او پايلې لري.

تـر ټولـو لـومړی د مغزمينځنـې جـدي اغېـز د هويـت لـه لاسـه ورکـول دی. د ډېـرو ډلـو او ايـډيالوژيو يـو ځـانګړې مسـله دا ده چـې هغـه خلـک چـې دا پروسـې بشـپړې کـړي يـو نـوی نـوم او هويـت ورکـول کېـږي. دا مسـله د دې لامـل ګرځـي چـې د انسـان ذهنـي جوړښـت لـه خپـل پخـواني هويـت څخـه پـه بشـپړه توګـه جـلا شي. پـه دې ډول هغـه کسـان چـې مغـز يـې منځـل شـوی وي پـه داسـې شـيانو بـاور کـوي، چـې مخکـې يـې هـېڅ تصـور هـم نـه کـاوه، داسـې کارونـه تـرسره کـوي، چـې مخکـې ډېـر ورنـه متنفـره وو، حتـی کـه چېرتـه دا پروسـې مغزمينځـونکي پـه بـاريکي او سـم ډول تـرسره کـړي نـو د قربـاني لپـاره هـر څـه دومـره ورتـه سرچپـه شي، چـې خپـل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکېنـي هويـت او کـردار تـه د يـو خـوب او افسـانې پـه شـکل ګوري.

يـوازې د عقايـدو بـدلون تـه د مغزمينځنـې پروسـه ويلـی شـو؟ نـه. مغزمينځنـه يـوازې پـه عقايـدو کـې د بـدلون سـبب نـه ده، بلکـې پـه د مغزمينځنـې اصـلي خطـر دا دی چـې دا نـه يـوازې د فکـر کولـو او احســاس کولــو لارې بــدلېږي، بلکــې د مغزمينځلــو تــر پروســې وروسـته د خلکـو چلنـد هـم بـدلون خـوري، هغـه کـس چـې پـه تولنـه کـې د يـوه درونـد او ګټـور انسـان پـه سـترګه ورتـه کتـل کېـدل اوس کـاملا سرچپـه شـخص دی، پـه وژنـو، جنسـي- تېريـو او هـر ډول غيرقـانوني کړنـو پلـوی شـخص دی، چـې دا مسـله واقعـا د انديښـنې وړ ده.

مغزمينځنـه چـې څـه کـولی شي ډېـری انسـانان يـې تصـور نـه شي کـولی، تاسـو فکـر وکـړئ، يـو کـس لـه يـوې نـاوړه جنايکـارې ډلـې سره د اړيکـو پـه پـار پخپلـه خوښـه ټولـه کـورنی، ملګـري، خپلـوان، دنـده، شـتمني، شخصـيت، اسـلامي فکـر، ګټورتـوب او... . هـر څـه پرېـږدي، دغـې ډلـې اصـلا دی تـر مغزمينځنـې لانـدې راوسـتی حتـی دومـره ژور چـې لـه دوی سره يـو ځـای کېـدل د ځـان لپـاره يـو لوی نعمت او نېکمرغي ورته ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله اغېزه يې دا کېدای شي، چې رواني او جسمي ستونزې ورته پېښوي چې دا په ډېرى نړيوالو جګړو کې هم مثال کېدای شي. همدا شان د دې ترڅنګ بله شديده اغېزه يې دا کېدای شي کله چې قرباني د مغزمينځنې له چاپېريال څخه ووځي په ده کې يې دومره ژور اغېز کړى وي چې دی بېرته هڅه کړي هماغه ځای او هماغه وضعيت ته لاړ شي.

همدا راز هغه خلک چې د مغزمينځنې له چاپېرياله د تېښتې اراده کوي په حقيقت کې په راتلونکي کې د خپل مغزمينځونکي ستاينه کوي او د ايډيالوژيکي دريځونو توجيه او دفاع کوي.

نو د مغزمينځنې خورا شديدې اغېزې دي، چې انسان داسې حالات ته رسوي، چې هر څه ورته برعکس کړي، ښه ورته بد او بد ورته ښه کولی شي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم څپرکی

## درې ګونې تيارې/ مثلث

درې ګونې تيارې يو کليدي مفهوم دی، چې د تورې ارواپوهنې له نورو اړخونو سره تړلي دي. د درې ګونې تيارې مفهوم د فلم يو عنوان غوندې ښکاري؛ خو دا اصلا د ارواپوهنې يو مهم بحث او اصطلاح ده.

درې ګونې تيارې د يوه انسان په رواني جوړښت کې د دريو زيان رسونکو او ويجاړونکو ځانګړنو پيژندل دي.

په دغه څپرکي کې به په هر يوه په جلا دول خبرې وکړو او تاسو به په دې پوه شئ، چې د تورې ارواپوهنې ټول تخنيکونه له همدغو سرچينه اخلي.

په درې ګونو تيارو کې دا شامل دي: ماکياوليزم، د ټولنې ضد شخص او نرګسيت يا پر ځان مينبدل. د دغو دريو موضوعاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پار بنايي تاسو هر يو مختلف فکر ولرئ خو په توره ارواپوهنه کې بنايي داسې يو څه وي، چې تاسو يې تصور نه کاوه.

نو اړينه ده، چې په دغه برخه کې پوه شو، څکه دا دومره اهمه ده، چې ډېرى انسانان ورسره مخ او قرباني کېداى شي.

اوس په دغو درېيو اهمو موضوع په تفصيلي ډول خبرې کوو.

## ماکياوليزم

ماکياوليزم د سياسي فيلسوف ماکياولي له نوم څخه اخيستل شوى. ماکياولي پخپل کتاب (د پرانس) په کلاسيک ډول د قدرت او سياسي نفوذ لپاره اصول، تخنيکونه او مېتودونه ليکي، چې دا مېتودونه په ټولنه کې اوس د يوې الګو په ډول د واک او سياسي نفوذ په پار کارېږي.

د درې ګونې تيارې مهمې ځانګړنې دا دي، چې په هره بيه په شخصي- ګټو تمرکز او پالل، د ظاهر ساتلو ته له اندازې ډېر اهميت ورکول او د واک او قدرت د ساتلو او اخيستو لپاره بې رحمانه کړنې ترسره کول دي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماکیاولي اشخاص د ژوند لپاره دېره ستراتیژیکه کرنلاره لري، دوی پر نورو د هرې کړنې او اقدام پایلې او اغېزې په قوي دول ارزوي او بیا گام اوچتوي.

ماکیاولي کرنلاره د تولو کړنو لپاره له خانه دا پوښتنه کوي «په دغه کار کې مې کومه گټه ده، اغېزې به یې څه وي او زه به د خلکو تر نظر څنگه ورشم»؟

هغه کسان چې د دغې تگلارې پیروان دي د خان لپاره په گټورو کړنو کې قوي مهارت لري او د دې ترڅنگ خپل دروندوالی او هغه تصور چې خلک یې د ده د ښه والي په پار لري هم ورسره ساتي.

مثلا له سیاسي صحنې: د امریکې ولسمشر- بارک اوباما په مقابل د جورج ډبلیو بوش پر عمومي تصور خبرې کوو. که له خلکو پوښتنه وشي، چې اوباما څنگه سړی و او بوش څنگه؟ دوی دواړه د امریکا ولسمشران وو: خو ډېری خلک به د اوباما په تړاو دا ووایي، چې هغه یو سوله غوښتونکی ولسمشر- و، کله چې د بوش د شخصیت په تړاو پوښتنه ورنه وشي ډېری خلک دا وایي چې بوش یو جنگ غوښتونکی او خونړونکی ولسمشر- و، که څه هم په حقیقت کې دواړه ولسمشران جنگي خلک ول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو اوباما د خپل شخصیت د سم ساتلو په پار د خلکو تصورات اداره او کنټرول کړي وو، داسې کړنې یې ترسره کولې چې پر دې یې تمرکز و، ترڅو خپل ظاهر چې سوله غوښتونکی دی د خلکو په فکرو کې همداسې وساتي. خو بوش دا کار ونه کړ.

**د ټولنې ضد شخص/ جامعه ستیز**

د د ټولنې ضد شخص په اړه دقیق تعریف شتون نه لري؛ خو د ارواپوهنې له اړخه هغه چاته اشاره کوي، چې د کاذب جذب، د ښه شخصیت نه درلودل، د انساني احساساتو ته نه درناوی، خواخوږي او پښېمانتیا نه څرګندولو ځانګړنې پکې وي.

دا خلک ډېری د نورو احساساتو او حقوقو په تړاو بې درکه او بې پروا وي، هغه څوک چې دا ځانګړنې ولري او په شدت سره یې کاروي نو هغه ته ارواپوهنه د ټولنې ضد شخص/ جامعه ستیز وایي. دوی په ټولنه کې خطرناک ترین افراد دي چې د پسه په جامه کې ځان نغښتی وي؛ خو اصلا لېوه وي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک ښايي د ټولنې ضد شخص انسان ته د لېوني يا بې پروا انسان په سترګه وګوري؛ خو اصلا دا ډېر خطرناک وي. ښايي ده په همدغه لېونيتوب يا بې پروايي ډېرى کسان د ځان خواته جذب کړي وي.

جالبه دا ده، کله چې د ټولنې ضد اشخاصو په اړه سروې او ازمايښت ترسره کېږي، ډېرى لوى سوداګر او پانګوال پکې اولنمره وي. يعنې دوى دا ځانګړنې تر نورو ډېرې لري. خلک فکر کوي، چې دوى په دغو کارونو نورو ته تر ځان ډېر زيان رسوي. د ټولنې ضد اشخاص چې هره لاره ځانته غوره کړي په هغه کې ډېر پرمختګ کولی شي هغه که د مالي برخې مسله وي، وژنې، ترور او... . ځکه دوى ډېر بې پروا او د خواخوږى په نامه څه نه پېژني.

**نرګسيت/ پرځان ميينبدل**

هغه خلک چې ځان ته ډېر تمايلات لري يا هغه څوک چې يوازې پر ځان ميين وي دومره ميين چې له سالم حده اوښتي وي نرګسيستان يا پر ځان ميين ورته ويل کېږي. خو دا مسله په توره ارواپوهنه کې بيا يو څه بل ډول تعبيرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کس چې د نرگسیت په تړاو په معلومو طبي تشخصیه معیارونو کې د سالموالي خواته نه وي، نرگسیست دی. دوی ډېری دا فکر کوي، چې زه تر ټولو ارزښتمن انسان یم، حتی ځان دومره خاص او مهم گڼي، چې په تاریخ کې د ځان ساری نه ویني. پر ځان مین/ نرگسیست خپل ځانته د خاص په نظر نه گوري، بلکې د غوره یا بهتر په سترگه گوري. دوی دا فکر کوي، چې د ارزښت او مهموالي له اړخه په شاوخوا کې د ټولو انسانانو په سر کې واقع دی.

پرځان مین د انتقاد، نیوکې او مخالفت وړتیا نه لري دوی یوازې د نورو تاییدي ته اړتیا لري. دوی تل د ستاینې، تایید او پېژندنې مسایلو ته اړتیا لري. همدا شان خپل ژوند داسې عیاروي، چې تل له هغو خلکو سره راشه درشه ولري، چې هغوی یې دا اړتیاوې، چې پورته ذکر شوې پوره کړای شي.

## درې گونې تیارې څېرته رامنځته کېږي؟

د درې گونې تیارې له درېیو اساسي مسایلو سره اشنا سواست او په دې خبر کوو، چې په کومو شرایطو او څه ډول رامنځته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي د دې د ښه پوهاوي لپاره په هر يوه د مثال په توګه رڼا اچوو.

**ماکياولي کړنې**

تاسو پوهېږئ چې ماکياولي شخص د يوې سياسي حوزې شخص وي، چې له هر څه د دې ډېره هڅه کړي، چې خپل عام تصور د خلکو په ذهنو کې په ښه او مثبت ډول وساتي او همدا شان د خپل ځان د ارامولو او هوساينې فکر لري. دوی د دې مهارت لري، چې خپل واقعي اهداف او موخې له خلکو پټې کړي او په ظاهر کې داسې فکر ورکړي، چې ګواکې دی د ټولو په ګټه کار کوي، نه يوازې د ځان په ګټه او د نورو په زيان. ښايي له داسې خلکو سره موږ و تاسو په ټولنه کې ډېر مخامخ شو.

د ماکياولي اشخاصو اصلي شخصيت د دوی له کړنو او اعمالو سره توپير لري. د دغې مسلې ښو بېلګې راوړو. ډېر داسې قاتلين شته، چې په دوامداره توګه قتلونه کوي؛ خو په ظاهر يې داسې ځان جوړ کړی وي، چې د خلکو په تصور کې د ده پر وړاندې د قاتل فکر هېڅ سر نه سره خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا شان ډېرى خلک او خيريه بنسټونو مشران به وينئ، چې په ظاهره کې له خلکو سره خير و خيرات او مرسته کوي؛ خو د دې پردې تر شا بيا ډېرى ناوړه عملونه، غلاوې، تاوتريخوالي، جنسي- څورونې او جنسي- تېري ترسره کوي. د دوى ظاهره کړنې او اقدامات هغه نقابونه دي، چې د دوى اصلي شخصيت او کرکټر يې د اوږدې مودې لپاره له عامو خلکو پټ کړى وي.

ځينې د ملي سوداګر په نوم کسان به مو ليدلي وي، چې د خپلو ګټو لپاره غبن، ناوړه او بې رحمانه تصميمونه نيسي-، ډېرى تجارتونه او کاروباريان د تباهي او بربادۍ کندې ته تېل وهي، دا خلک حتى په دې قادر او برلاسي دي، چې خلکو ته دا په ذهن کې ورکړي، چې زما کړنې او تصميمات له خلکو سره د خواخوږۍ او مهربانۍ په پار و؛ خو اصلا هر څه سرچپه وي. همدا شان ځينې نور ناوړه ګټه اخيستونکي چې د خلکو د خدمت په شعار يې له عامه ولس ډېره ناوړه ګټه اخيستې او خپل اهداف مخې ته پرې وړي.

د ماکياولي اشخاصو يوه بله ځانګړنه له خلکو ناوړه ګټه اخيستنه ده. همدا شان د ماکياولي اصولو په تړاو ليکل شوي کتاب (د پرانس) کې ليکل شوي، چې د ماکياولي يو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اساسي اصول دا دی، چې یوه راز داره خبره تر هغه پټه ساتي، چې تر څو د ده شخصي ګټه پکې وي.

ښايي ځينې فکر وکړئ چې په دغه مسله کې به د ماکياولي کس باور ته زيان ورسېږي؛ دا تصور ناسم دی پر ده د خلکو باور هماغسې پوخ وي. که ماکياولي وغواړي، چې خپله خبره او ژمنه ماته کړي دی يې په داسې ډول ماتوي چې حتى نورو خلکو ته لا زيات محبوب او قدرمن شي.

دا سناريو په يوه سياسي بېلګه کې راوړو: که د اوباما د ټاکنيز کمپاين وخت در په ياد کړئ ده وويل، چې د ګوانتانامو زندان به تړي. ايا زندان وتړل شو؟ نه. د دې پر ځای چې خلکو ته ځان بې ژمنې وښيي د خپل اقدام د ترسره کولو لپاره يې ننګونه رامخته کړه ده وويل «ما غوښتل چې ګوانتانامو زندان وتړم او اوس هم غواړم؛ خو داسې سيستم کې چارې پرمخ وړو، چې هغوی زما له نظر سره مخالف دي او نه غواړي دا کار ترسره کړم». يعنې ده په غير مستقيم ډول ويل چې زما شاته يو ظالم او ناوړه نظام او سيستم شتون لري، چې د هغوی د پاليسۍ له مخې نه شم کولای دا چاره ترسره کړم. دا د يو ماهر ماکياولي او عادي شخص ترمنځ اساسي توپير دی، چې عادي شخص

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل باور له لاسه ورکوي؛ خو ماهر ماکیاولي شخص د خلکو په فکر کې هماغسې ژمن او باوري ترسیم وي.

همدا شان د ماکیاولي اشخاصو یوه بله ځانګړنه دا ده، چې په خلکو کې د وېرې احساس راپاروي او ماهر اشخاص یې بیا پر دې برلاسي دي، چې وکړای شي هغه خلک وهڅوي، چې د دې ادعا لري چې د مینې څخه زیات وېرې زړه ته مخ کوي او ځواکمن دی. همدا راز د دې ترڅنګ دوه مخیتوب هم د دوی له اصلي ځانګړنو ګڼل کېږي.

### د ټولنې ضد شخص/ جامعه ستیز اقدامات او کړنې

اوس په دې خبرې کوو، چې د ټولنې ضد شخص کومې کړنې اظهاروي او کومې ځانګړنې لري، چې تر څو دوی خپلې موخې ته پرې ورسېږي.

جذابیت: په دغو اشخاصو کې د جذابیت مسله ډېره مطرح ده. جذابیت کېدای شي ظاهري او واقعي واوسي. خو دا خلک واقعي جذاب نه وي. په ژوند کې حتما له داسې خلکو سره مخ شوي یاست، چې دوی مثبت په نظر درځي او هغو کړنو د دوی په بیروني چلندونو اغېز کړی او بنایسته کړي وي. خو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس چې ذاتي جذاب وي د دوی د جذابیت د مینې په خرگندولو او د نورو د خوښې لپاره د دوی په غوښتنو کې خرگندېږي. په داسې حال کې چې د ټولنې ضد شخصان دا ډول افراد نه دي.

دوی په دې قادر او برلاسي دي، چې د ظاهري جذابیت ټولې نښې په ځان کې پیدا او ښکاره کړي، د دې اصلي لامل دا وي چې د ده له بیروني کړنو سره سر وخوري. دوی فکر کوي چې د چا پر وړاندې جذابیت ښکاره کړي او د چا پر وړاندې یې ښکار نه کړي، که پوه شي چې مقابل کس پر وړاندې زما جذابیت اغېزناک او موخې ته د رسېدو په برخه کې راسره مرسته کوي نو بیا دی په ټول توان هڅه کوي، چې مقابل لوري ته جذابیت ولېږدوي، د ده دا کړنې او چلند واقعي نه وي یوازې او یوازې د بهرنیو کړنو سره د سمون په پار یې ترسره کوي.

دروغ؛ د ټولنې ضد اشخاصو بله ځانگړنه دروغ ویل دي. په یوازې دروغو یو انسان د ټولنې ضد شخص نه شي کېدای، کله چې له نورو ځانگړنو او صفتونو سره گډ شي نو د ټولنې ضد شخص/ جامعه ستیز ورنه جوړېږي. دوی ته دروغ ویل دومره عادي او اسانه دي لکه یو سالم انسان ته د ساه اخیستل. دوی پخپلو دروغو کې دومره ماهر وي، چې د غلط ثابتېدو لپاره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ نښانه نه وي، دوی د دروغو ویلو په وخت کې احساس، شرم، ګناه او وېره هر څه یوې خواته اچوي ځکه چې دوی له دروغو هدف یوازې او یوازې د خپل کار ترسراوی یا موخې ته په هماغه وخت کې رسېدل دي.

نه پښېمانتیا: د دغو خلکو یوه ځانګړنه د نه پښېمانتیا ده. دوی که هر ډول ناوړه کړنې، قتل، ګناه، ضرر او... ترسره کړي هېڅ د پښېمانتیا احساس نه کوي او نه پرې پښېمانه کېږي. سالم انسان د تېروتنې په صورت کې پښېمانتیا ښیي حتی ځان ورته ډېر ګنهګار او مجرم ښکاري؛ خو دا احساس د ټولنې ضد شخص کې شتون نه لري. دوی پخپل کړي انتخاب هېڅکله نه پښېمانه کېږي او یو ناحقه دلیل ورته تراشي. دوی د چا احساساتو، عاطفې او فکر په کیسه کې نه وي یوازې او یوازې د ګټې او ناګټې له اړخه ورته ګوري چې کوم څه مې په ګټه دي او څه مې په ګټه نه دي. د هغوی لپاره ګناه ښخې ګناه نه ښکاري دوی په دې تراو ډېر بې پروا وي. دوی هغه وخت پښېمانه کېږي، چې خپلې موخې ته ونه رسېږي یعنې دوی پر دې پښېمانه وي چې خپلې موخې ته د رسېدو لپاره یې ولې د ټولنې ضد شخص له معیارونو سمه او اغېزناکه ګټه وانه خیسته یا یې ولې په سم ډول پلې او ترسره نه کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په احساساتي محرکاتو نه کنټرول؛ ډېرى خلک د عاجلو پرېکړو او احساساتو کنټرول لري؛ خو د ټولنې ضد شخص افراد بیا دا ځانګړنه نه لري دوى که غواړي يو کار ترسره کړي پرته له ځنډ او وېرې سمدستي په هغه کړنه لاس پورې کوي. بناييي هغه قتل، غلا، وژنه، جنسي- تېرى او... وي. دغه بې رحمانه احساساتي غبرګون هغه څه ده، چې د ټولنې ضد شخص کولى شي ځان په قوي نظامي يا قوي سوداګر بدل کړي. پرته له وېرې، ځنډ او قطعي پرېکړې هغه صفت دى، چې معمولي انسانان يې نه لري، چې دا صفت اصلا د ژوند د پرمختګ لپاره زيانمن تمامېداى شي.

خواخوږي: دا يوه انساني ورتيا ده، چې د نورو په درد پوه شي او هغه درد خپل درد وګڼي؛ خو د ټولنې ضد شخص خلک له دغې ځانګړنې هاخوا دي. دوى ته د نورو ژوند هېڅ اهميت نه لري. که يو څوک له بدې پېښې سره مخ شي د ټولنې ضد شخص له هر ډول احساس پرته يوازې په دې فکر کوي چې په دغه پېښه کې به ماته کومه ګټه ورسېږي يا به په دغه پېښه کې زه څنګه رول ولوبوم چې زه ګټه يکې ترلاسه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نرگسیت/ پرځان مینتیا پر بنسټ کړنې

پر ځان د مینتیا لومړی نښه دا ده، چې له حده زیات د ځواک او موقعیت خیال او تصور ورسره وي. ډېری پر ځان مین حتی د کوچنیوالي له دورانه دا خیالات او تصورات لري؛ خو هغه کسان چې نرگسیستان یا پر ځان مین نه دي هغه هماغه ځایونو ته رسېدلي کوم چې یې نرگسیستان کوي. پر ځان مین په شدید ډول دا احساس کوي چې زه د ستاینې او درناوي وړ یم او دا مې حق دی، چې تر هر چا لوړ او قدرمن شم. کله چې د دوی درناوی یا ستاینه ونه شي دوی ته دا مسله بې حرمتي او نه درناوی ښکاري.

دا باور چې «زه له ډېری خلکو ښه یم، زه خاص یم، زه له خلکو لوړ یم». په اوسنیو ټولنو کې ډېری خلک په دې رواني ناروغی اخته دي. دوی دا خوښوي، چې په هر ډول حالاتو کې دې د دوی چاپلوسي او درناوی وشي. هغه خلک چې په دغه ناروغي اخته دي د ارزښتمندی او ځان لوی حسابولو په افراطي چاپېریال کې ژوند کوي او دا افراطي مسایل د دوی په ظاهر هم اغېز ښندي. دوی تاییدي او درناوي ته اړتیا وینې او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیوکې یا مخالفت څخه نفرت بښیي. د نرګسیستانو لپاره ستاینه، درناوی او تایید لکه اکسیجن داسې دي، بلخوا نیوکه او مخالفت ورته د زهرو مثال لري.

اوس تاسو فکر وکړئ کله چې پر ځان مین یو ځای ته ورسېږي او نور کسان يې ترلاسه لاندې وي څه به وکړي؟ دغسې خلک دا توقع لري چې دوی ته دې سرټیټ شي، د خدای ج غوندې اطاعت دې وشي، هره خبره دې ومنل شي، که ګناه وي که نه وي چې امر وشي باید ترسره شي. کله چې له پورتنیو مسایلو سرغړونه وشي؛ نو په شدید او په ډېرې بې رحمۍ سره هغه ته سزا ورکوي.

په اوس وخت کې شمالي کوریا د دې مسلې ښه بېلګه ده. حاکمان او مشران يې له ملته غواړي چې دوی ته دې د خدای ج په څېر سجده وشي، همدومره درناوی دې وشي بلخوا که چا د دولت د پرېکړو مخالفت وکړ يا يې سالمه نیوکه او انتقاد پرې وکړ دوی شکنجه او حتی اعداموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مردم ازاري/ ساديزم

مخکې مو په دې خبرې وکړې، چې درې ګوني تياري درې موضوعات په ځان کې رانغاړي، چې ماکياوليزم، د ټولنې ضد شخص او نرګسيت/ پر ځان مېينتيا وه؛ خو اوسنيو ارواپوهانو دا څرګنده کړې، چې د دغو درېيو موضوعاتو تر څنګ يوه بله موضوع هم شتون لري، چې هغه د خلکو ځورول يا مردم ازاري ده.

په لومړيو درېيو موضوعاتو کې خلک کولی شي، چې تر يو څه اندازې يې نښې نښانې کنټرول يا تشخيص کړي؛ خو دا څلورم ډول يې حتی د پوهېدو وړ نه دی.

ساديزم يا مردم ازاري هغه څه دي چې نورو ته له فزيکي، رواني او جنسي- پلوه په داسې ډول زيان او درد رسېږي، چې هغه خوند ورنه واخلي، د خوښۍ او سکون لامل يې شي. دا ډول خلک د نورو په شتون کې په ذهني، فزيکي يا جنسي- توګه د خلکو سپکاوی، ځور يا ملنډې وهي او خيني وختونه د تېري، ظلم او جرم په ډول خپل کار او چلند ترسره کوي.

مردم ازاري يا ساديزم د دې لپاره نه رامنځته کېږي، چې يوه هدف يا موخې ته دې پرې ورسېږي، له دې يوازې او يوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هدف دا وي، چې د نورو له زيان او درده خوند واخلي. لکه خنګه چې عادي خلک يوې ورزشي سيالۍ ته د خوند په موخه ليدو ته ورځي او ننداره يې کوي دوی د نورو د زيان او درد ليدو او ننداري ته د خوند په موخه ورځي.

## نهم څپرکی

### په توره ارواپوهنه کې لالچ

### ناوړه/ شيطاني تمايلات

لالچ، فريب او دوکه په توره ارواپوهنې کې عامه او مشهور مفاهيم دي چې د بحث لپاره يوه بشپړ څپرکي ته اړتيا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرى خلک د تورې ارواپوهنې له دغو تخنيکونو کار اخلي او مورږ و تاسو ډېرى وخت له داسې مسايلو سره مخېږو.

غريزه د بشر- له اساسي او قوي اړتياوو ګڼل کېږي، چې د نه رسېدا په وخت کې انسان له ستريس، فشار، اندېښنو او ناراحتي سره مخېږي.

په دغه مسله کې افراط بيا خاصې پايلې لري په نړۍ کې ډېر مشهور شخصيتونه او ولسمشران تېر شوي، چې په دغه مسله کې ډېر مشهور شوي دي.

په تاريخ کې يو مشهور لالچي د انګلستان اتم شاه هنري دى. نوموړي دې مسلې ته دومره تمايل درلود، چې حتى يوه نوې دلې او غورځنګ يې د دې په پار رامنځته کړ، چې خومره غواړي هماغومره وادونه وکړي. هغه همدا راز لېوالتيا درلوده چې پخپلو مېرمنو ډېر کنټرول ولري، چې حتى ځينو د دغه کنټرول په پايله کې ځانوژنه وکړه.

نوموړى په توره اروپوهنه کې له تاريخي برخې يو پېژندل شوى لالچي دى. لالچ د تورې اروپوهنې له اصلي ارکانو ګڼل کېږي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايي څينې له څينو سره دا پوښتنه وي، چې ايا ټول لالچونه د تورې اروا پوهنې په کټګورۍ کې راځي؟ نه. ټول لالچونه له دې ريښه اخلي، چې څنګه د يو چا جلب توجه ځانته راواړوي. ډېرى خلک چې د تورې اروا پوهنې له دغو تخنيکونو سره نابلده او سمه مطالعه ورنه نه لري؛ نو په ترسره کولو کې يې پاته راځي او پخپل رنګ کې کوټ خوري.

(Hitcht)يا(Crazy Stupid Love)که تاسو

فلم وګورئ په هغه کې دا مسله ډېره زبردسته تشريح شوې، چې هغه څه غواړي او په څومره زبردست ډول يې په لاس راوړي.

په توره اروا پوهنه کې لالچ بيا پخپل ذات کې په دوه ډوله بنډل شوى، چې يو يې اخلاقي او بل يې غيراخلاقي دى، چې په دې تړاو به په راتلونکي کې خبرې وکړو.

په دغه څېرکي کې به تاسو ته هغه ټولې لارې چارې او تخنيکونه په ګوته شي چې په دې برخه کې کاريږي؛ زموږ به هيله دا وي، چې تاسو يې په ښه ډول زده کړئ او پخپل ژوند کې ځان او نورو دوستان مو له دغه تورو لالچونو او لالچيانو څخه وژغورئ.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په توره ارواپوهنه کې د لالچ کارول

ښايي له تاسو سره دا پوښتنه او فکر وي، چې ولې د نورو جلبولو لپاره خلک له لالچ کار اخلي؟ ولې نه شي کولی چې خپلې غوښتنې او هيلې په رښتيني او سالم ډول مقابل لوري ته ووايي؟ د دې پوښتنو فکر پيدا کېدل او ورته متوجه کېدل د لالچ پوهېدو په برخه کې لومړی ګام دی.

راځئ داسې کس په نظر کې ونيسو چې خپل ژوند پرته د تورې اروا پوهنې له تخنيکونو او ارکانو پرمخ وړي. دغسې کس ته «سنتي خواستګار/ غوښتونکی» ويلی وشو دا خواستګار ښايي مخکې له دې چې له چا سره خاصه او مهمه اړيکه رامنځته کړي لکه د کوژدې، وخت او لګښت يې ډېر پرې راځي او بيا چې کله مقابل لوری ورته هو کړي پرته له پلټنې او د مقابل لوري له مسايلو د خبراوي سمدستي کوژده کوي.

په دغه بهير کې د وخت په تېرېدو سنتي غوښتونکیويني چې څه ډول ده غوښتل ژوند يې جوړ شي او مقابل لوری د ده له فکر او ورانديني سره سم وي هماغسې نه وي، لامل يې دا وي، چې دی ډېرې بېړې پسې اخيستی و او پرته پلټنې يې احساساتي تصميم ونيو.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه وخت کې یوازې دوه لارې پاته کېږي یا به بې روحه او بې ساه غونډې د تش کالبت په ډول ناخوښ ژوند ته دوام ورکوي یا به د ژوند له ملګري/ ملګرې سره خیانت کوي.

د پورتني کس (سنتي خواستګار) او هغه لالچي چې په داسې اړیکه جوړولو کې د تورې ارواپوهنې له تخنیکونو کار اخلي ډېر ستر توپیر موجود وي.

لالچي د اړیکو جوړولو لپاره له لومړنیو اصولو او تخنیکونو سره زبردست بلد وي او غوره او مناسب وخت کې ورنه کار اخلي.

د تورې اروا پوهنې کارونکي وايي چې د انسان ذهن د یوې مخفي وسلې په ډول دی.

سنتي خواستګار/ غوښتونکی په پټو سترګو د مینې نړۍ ته ننوځي، احساساتو پسې رااخیستی وي او بېړنۍ او نامناسبه پرېکړې نیسي؛ خو یو ماهر لالچي د هغه غشي- ویشتونکي په څېر دی چې د هدف لوري ته غشی خوشې کړي، پسې ګوري او خوند ورنه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لالچ تخنیک کارول ناوړه کار دی؟

هغه کسان چې د توري اروا پوهنې د لالچ برخې ته نوي راغلي له ډېریو سره دا اندېښنه او پوښتنه وي، چې ایا دا تخنیک کارول غیراخلاقي یا ناوړه دی که نه؟ په دې انسان قضاوت نه شي کړای چې لالچ خنګه دی، په توره اروا پوهنه کې لالچ په ذات کې بد او ښه نه لري. په ښه او بد هغه وخت قضاوت کېدای شي، چې کله د دوی موخې ښکاره شي. په پراخ ډول په توره اروا پوهنه کې لالچ په دریو نیتونو ترسره کېږي. لومړی له نورو سره د مرستې؛ دویم نورو ته د زیان رسولو او دریم یوازې د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره له نورو سره مرسته.

له نورو سره په مرسته کولو کې د توري اروا پوهنې د لالچ تخنیک کارول سخت کار دی. تاسو داده یاست، چې ټول لالچ کونکي خودخواه او خودغرضه دي؟ نه.

د لالچ په نړۍ کې یو مشهور فورمول دا دی، چې «هغه خلک چې په ښه وضعیت او حالت کې مو ولیدل پرې یې ږدئ». هغه خلک چې دا فکر لري چې د لالچ په بهیر کې باید مقابل لوري ته زیان نه ورسوم، دوی دواړه کولی شي له دغه بهیر خوند او لذت واخلي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې اساس څوک څنګه پوهېدای شي، چې لالچي دې د زيان رسولو پر ځای د ګټې يا ښه نيت ولري؟ مخکې له دې څخه چې په هر څه پوه شئ لومړی دا دی، چې دروغ ويل او ګمراه کول په هېڅ ډول د اخلاقي لالچ اصلي موخې او اهداف نه دي.

د غيرصادق لالچي تر ټولو مهمه ځانګړنه دا وي، چې تل له داسې ژمنو کار اخلي چې هېڅکله د عمل جامه نه ور اغوندي. ماهر لالچي دا ژمني نه کوي، چې هغه يې د ترسره کېدو نيت او توان ونه لري.

ځيني بيا چې د تورې اروا پوهنې نړۍ ته ننوځي ډېر کم د خپلو کړنو تر شا پاکې او سالمې انګېزې لري، نور يې ډېرې يوازې او يوازې د خپلو غوښتنو د پوره کولو لاس په کار کېږي، دوی په ډېرې لېوالتيا سره نور ګمراه يا زيان ورسوي د حيرانتيا وړ مسله دا ده، چې دوی د ځينو خلکو په فکر کې ډېر په زړه پورې او تکړه خلک ورته معلومېږي. هغه کس چې له دا ډول تخنيکونو کار اخلي يوازې او يوازې د ځان ګټې ته اهميت ورکوي، د نورو خلکو د احساساتو او زيان په کيسه کې نه وي، دوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکـو د برخلیـک پـه اړه پـه ډېـره بـې رحمـه او بـې پـروا توګـه د فرېب نړۍ ته ننوځي.

بلخـوا دا ډول لالچـي کلـه ناکلـه ذلیل‌ناکـه لاسـته راوړنـې، چـې د ځـان لپـاره یـې په بـې پروایـي سره لاس تـه راوړي لـه تـاوتریخوالي سره مـخ شي هغـه خلـک چـې د لالـچ پـه برخـه کـې ډېـره زیاتـه رویـې یـا تفـریط کـوي ښـایي د ځینـو لخـوا تـر برید لانـدې راشي او خپله زیان ویني.

تـر دې ځایـه پـه تـوره اروابوهنـه کـې د لالـچ تخنیـک دوه کـړنلارې پـه ګوتـه شـوې، چـې د یـوه یـې هـدف لـه نـورو سره مرسته وه او د بـل یـې موخـه نـورو تـه زیـان رسـول و. اوس پـه دریـیم مـورد خبرې کـوو هغـه دا دی، چـې یـوازې د تجربـې ترلاسـه کولـو پـه لټـه کـې دی.

هغـه کسـان چـې د تـورې ارواپـوهنې د لالـچ تخنیـک یـوازې ځـان ګټـې تـه د رسـېدو پـه پـار کـاروي د ده فکـر دا وي، چـې دا مـې د پرمختـګ لپـاره زبردسـته لاره ده. د انسـاني جـوهر خـلاف کړنـې، د ځـان د خونـدیتوب لپـاره هڅـې، د سرو کرښـو مـاتول، د اړیکـو جوړولـو لپـاره د خلکـو د کمـزورۍ تکـي پیـدا کـول هغـه څـه دي،

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ځيني خلک دې ته مجبوري چې له بې رحمانه او ناوړه مېتودونو کار واخلي.

د پورتنيو ځانګړنو لرونکي خلک چې په خپله اړيکه کې خومره بريا ته رسېږي هماغومره خوند ورنه اخلي.

**د لالچ د پيل ټکی**

تاسو اوس په توره ارواپوهنه کې د لالچ له اساسي مفهوم سره بلد شوئ او په دې هم پوه شوئ، چې ولې يې خلک کاروي. همدا راز په دې مو خبرې وکړې، چې لالچي کېدای شي ښه، بد يا بې تفاوته وي. اوس چې په توره ارواپوهنه کې د لالچي قصد او انګېزه روښانه شوه ښايي تاسو ته دا پوښتنه پيدا شي، چې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره له کومو لارو چارو کار اخلي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډېرى لالچيان ښايي يوه ځانګړې کړنلاره ولري، چې د هغه پرمټ کولی شي له داسې تخنيکونو کار واخلي تر څو خپل هدف ته ورسېږي.

### د لالچ تخنيکونه

اوس په دې خبرې کوو، چې په توره اروابوهنه کې د لالچ د برخې تخنيکونه کوم دي، چې هغوى په وسيله دوى اغېزناک لالچ ترسره کړي.

غيرمستقيم چلند: غيرمستقيم چلند د لالچ د برخې يو ډېر کليدي او مهم تخنيک دى. ډېرى خلک د اړيکو جوړولو يا يو څه د لاسته راوړلو په برخه کې مستقيما له يو چا غوښتنه کوي، چې تر ډېره نه شي کولی خپل مطلوب ته ورسېږي.

د چا سره د واده د تړون په برخه کې دوى مقابل لوري ته هڅه کوي، چې سمدستي په مستقيم ډول دوى ته د ژوند د ملګري/ ملګرې وړانديز وکړي، چې دا ډېره مطلوب پايله نه لري.

مثلا: څومره ښکلی/ ښکلې يې، څه ښکلې سترګې خداى درکړې، زبردست غږ دې دى او... . دا هغه کليشه‌يي يا

(c) ketabton.com: The Digital Library


تکراري جلمې دي، چې ډېرى خلک يې په دغو حالاتو کې مقابل لوري ته کاروي. ستاسو په اند مقابل لوري ته په مستقيم ډول دا خبرې کول غوره دي؟ نه هېڅلکه نه، ځکه مقابل لورى له دغو کلماتو بل تصور او فکر اخلي، دوى دا نه خوښوي، چې په لومړيو کې دې له داسې ګرمو احساساتو سره مخ شي.

له کليشه يي کلماتو او چلندونو ورهاوخوا غيرمستقيم چلند په مقابل لوري کې يو نوى حس او فکر رامنځته کوي. کولی شو، چې د مقابل لوري په خبرو د راوستو او له هغوى سره د اړيکو جوړولو لپاره لومړى داسې خبره يا جمله وکاروو، چې لږ خوش طبعه او مزاقيه وي. دا جمله کېداى شي چې د جذابې پوښتنې په څېر مطرح کړو. مثلا لالچي له غيرمستقيم تخنيکه استفاده کوي ښايي داسې پوښتنه وکړي«موږ دا ډېر وخت شو بحث کاوه ته کولی شې چې دا ستونزه زما او د دغو ملګرو ترمنځ راحل کړې، ستا په اند سړي ډېر دروغ وايي که ښځې؟» دغسې پيل په مقابل لوري کې د اغېزمنتيا سبب کېږي او فکر کوي، چې په دغه کار کې کوم خاص هدف نه لري.

د غيرمستقيمو عبارتونو يوه ګټه دا ده، چې ډېر کم يې د ردېدلو امکان وي. لالچي هېڅ وخت نه غواړي، چې په مستقيم ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مقابل لوري ته ورانديز وکړي، ځکه په وړانديز کې ډېر احتمال د ردېدلو وي؛ خو په غيرمستقيمو عبارتونو او خبرو کې د رد امکان ډېر کم او يا حتی هېڅ نه وي.

ټولنيز محبوبيت؛ د لالچ په تخنيکونو کې يو بل ډېر مهم تخنيک ټولنيز محبوبيت دی. هغه خلک چې په ټولنه کې محبوب او ګران خلک وي دوی د نورو په پرتله ډېر جذاب وي حتی خلک هڅه کوي، چې ځان د هغه د جذابيت تر اغېزې لاندې راولي. ولې؟ ځکه چې لالچي ټولنيز محبوبيت ولري نو د هغه هر چلند او اړيکې ته خلک تر ډېره په مثبته سترګه ګوري کله چې له يو چا سره د اړيکو جوړولو په لومړي پړاو کې وي مقابل لوری حتی دا د ځان لپاره غوره ګڼي، چې له ده سره اړيکه جوړه کړي. داسې کس چې په ټولنه کې محبوبيت نه لري نو له هغه ډېری خلک لرې ګرځي تر ډېره يې زړه نه غواړي، چې اړيکه دې ورسره ولري يا دې ملګرتيا ورسره وکړي او داسې خلک تر ډېره ګټور هم نه ثابتېږي.

په همدې اساس ځنګه کولی شو، چې د لالچ په برخه کې له ټولنيز محبوبيت ګټه واخلو؟ دلته يو مورد دا دی، چې «عمل تر خبرو ډېره ښه پايله او اغېزناک ثابتېدای شي». ډېری خلک په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې کې تېروتنه کوي، دوی دا فکر کوي، چې په خبرو مقابل لوري ته د محبوبیت وړ شخص ګرځي؛ خو داسې نه ده ډېری وخت مقابل لوری دا فکر کوي، چې دا هسې لاپې وهي او لاپوګر انسان دی. د لاپو پر ځای ښه دا ده، چې هغه تاسو په داسې ځای کې ووینې، چې تاسو له یوې ډلې ملګرو یا ښو خلکو سره ناست یاست، تر څو هغه دا وانګېري، چې دا کس تولنیز دی او تولنیز محبوبیت لري. دا په طبیعي ډول په مقابل لوري اغېز کوي او ستاسو تولنیز ارزښت لوړوي.

لار ورکې؛ د مقابل لوري ګمراه کول/ لار ورکیتوب د تولنیز محبوبیت اړوند یو بل هنر دی، چې یو لالچي ورته کار اخلي. مثلا یو لالچي مېلمستیا ته راځي دی داسې کس ویني، چې غواړي له هغه سره خبرې وکړي؛ د دې پر ځای چې په مستقیم ډول له هغه کس سره خبرې پیل کړي نو لالچي لومړی له نورو خلکو سره خبرې پیلوي ورو ورو د هماغه کس خواته ځي، خبرې ورسره پیلوي او تعامل رامنځته کوي.

ننګونه رامنځته کول؛ د لالچ په برخه کې د توري اروا‌پوهنې یو تخنیک دا هم دی. د ننګونې په تخنیک عادي انسانان نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږي، ځکه ډېر باریک ترسره کېږي. په دغه تخنیک کې د ارتیا په صورت کې له هدف لرې کېدل دي.

د ځان ښه ښکاره کېدا؛ دا مفهوم د هغو کارونو لپاره کارول کېږي، چې نور یې په ناسم یا اشتباه ډول ترسره کوي. دلته لالچي هڅه کوي، چې هغه کار چې نور په ناسم یا اشتباه ډول ترسره کوي دی یې په سمه طریقه ترسره کړي. لالچي له ځان سره فکر کوي، چې څنګه وکړای شم داسې کارونه ترسره کړم، چې د خلکو د مثبت غبرګون سبب شي؟

همدا راز د ښه ښکاره کېدا یو بل او مشهور مېتود د جامو اغوستل دي. دوی هڅه کوي، چې داسې لباس واغوندي چې له عادي خلکو متفاوت او ښه وي. مثلا که چېرته په کوم مجلس کې عادي خلک وي دی هڅه کوي، چې ترهغو ښې او لږ رسمي ډوله جامې واغوندي او هلته لاړ شي، چې دا پر نورو ډېر اغېز ښندلای شي.

مخکښ شخصیت؛ په لالچ کې د مخکښ شخصیت ښکاره کول یو بل ګټور او مهم تخنیک دی، چې ډېری لالچیان ورنه ګټه اخلي. ډېری خلک له دې خوند اخلي، چې لارښوونه یا هدایت دې شي، دوی هڅه کوي، چې خلک هدایت کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله غوښه پرېکړه ښکاره کړي، همدا شان داسې فزيکي حرکتونه ترسره کوي، چې پر ځان باور يې وښيي دا مسايل کولی شي، چې د وېرې مخنيوی او پر نورو د اغېزمنتيا سبب شي.

ځينې لالچ کونکي د خپلو اهدافو د لاسته راوړلو په پار له ځان سره د تولنې ضد شخص خلک ساتي. ځکه د د ټولنې ضد شخص خلکو يوه لويه ځانګړنه دا ده، چې له نورو سره د اړيکو د تعامل په وخت کې د وېرې حس نه لري او بې پروا وي. ډېری ښځې او نارينه دا وېره لري، چې د هغه کس لخوا ورته د رد ځواب ورنه کړل شي، چې دوی يې لېوالـه دي. داسې ځانګړې تخنيک شته چې د وېرې له منځه وړلو لپاره کارېږي، داسې تخنيک چې ډېری وخت يې د ټولنې ضد شخص خلک کاروي او هيڅ شی نه شي کولی چې په دوی کې د وېرې حس رامنځته کړي.

نو څنګه کولی شو، چې پر وېرې لاسبري او غلبه پرې وکړو؟

ځواب يې ساده دی او هغه دا دی، چې په مکرر ډول له رد سره مخبدل، چې دا تجربه تاسو ته دا درزده کوي، چې ردېدل دومره جدي مسله هم نه ده څومره چې موږ ورته په جدي يا بده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګه ګورو. د وخت په تېرېدو د تورې ارواپوهنې لالچيان دا غوره ګڼي چې تل دې له رد سره مخ شي، نه له هغه څه سره چې بيا ورته د رسېدو په وخت پر ځان باور نه لرو. يعنې دوی وايي چې پر ځان باور مهم دی رد يوه عادي مسله ده، چې انسان ورسره مخېږي. د دغسې تخنيک ګټه دا ده، چې د ردېدو په وخت کې نور د ډار او عصبانيت له حالاتو سره نه مخېږي.

هغه کس چې له ردېدو سره ډېر حساسيت ښيي او وېره ترې لري اصلا د رېدو چانس دومره نه وي څومره چې ده په فکر کې نيولی وي. له نويو خلکو سره د تعامل او اړيکو جوړولو په برخه کې پر ځان باور او ارامی حالت ډېر مهم دی او دا حالت د دغه تخنيک له عملي کولو رامنځته کېږي. هر څومره چې کس په لومړيو کې له رد سره مخ شي هماغومره په راتلونکي کې د رېدو وېره ورسره کمېږي. دا مسله د وخت په تېرېدو سره د بريا او پرمختګ لامل ترځنګ د ردېدو چانس کموي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Dark Psychology

Michael Pace

Translated by: M Nabi Storai




بیه
150
13877
اروا پو هنه C-04

احمد زبیر نظری کتاب پلورنځی،
پل باغ عمومي، کابل افغانستان
د اړیکو شمېرې :
۰۷۸۴۶۵۳۳۸۲ - ۰۷۰۰۲۶۵۹۰۷
بیه:
۱۸۰ ؋

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**